国家级教学成果二等奖系列教材

印度语言文学国家级特色专业建设点系列教材

پښتو مطالعه

普什图语阅读教程(2)

王　静/缪　敏/何　杰◎编著

世界图书出版公司

策划编辑　刘正武
责任编辑　魏志华
责任技编　刘上锦
封面设计　余坤泽　吴伟边

پښتو مطالعه

普什图语阅读教程(2)

内容简介

本教材系普什图语阅读课配套教材。通过对本教材的学习，学生可以逐步提高普什图语阅读能力，掌握普什图语阅读技巧，培养准确理解和分析归纳的能力。

本教材课文均选用普什图语书籍、报刊杂志及网站的原文资料。选材力求题材多样，内容丰富，涵盖面广。本教材分为两册，每册15课；此系第2册。每篇课文含主课文及补充读物各一篇，内容相辅相成。每课由课文、生词、注释和课后练习四个部分组成。生词部分除汉语释义外，还配有读音。注释主要包括背景知识介绍、常用短语解释和难句解释。对部分能够通过工具书查到的词语未加注释。练习部分旨在检查学生对课文大意、基本观点、基本事实等的理解情况。书后附有词汇表，方便学习者查阅。

作为普什图语专业本科教材，本书适合大学二年级学生使用。同时也可供普什图语进修者和自学者使用。

ISBN 978-7-5100-9585-6

9 787510 095856 >

定价：38.80元

国家级教学成果二等奖系列教材

印度语言文学国家级特色专业建设点系列教材

پښتو مطالعه

普什图语阅读教程(2)

王　静/缪　敏/何　杰◎编著

世界图书出版公司

广州·上海·西安·北京

图书在版编目（CIP）数据

普什图语阅读教程．2 / 王静，缪敏，何杰编著．—广州：世界图书出版广东有限公司，2015．5
ISBN 978-7-5100-9585-6

Ⅰ．①普… Ⅱ．①王… ②缪… ③何… Ⅲ．①普什图语—阅读教学—教材 Ⅳ．①H735

中国版本图书馆CIP数据核字（2015）第073399号

普什图语阅读教程（2）

策划编辑：刘正武
责任编辑：魏志华
出版发行：世界图书出版广东有限公司
（广州市新港西路大江冲25号　邮编：510300）
电　　话：020-84451969　84453623　84184026　84459579
http://www.gdst.com.cn　E-mail：pub@gdst.com.cn
经　　销：各地新华书店
印　　刷：广州市佳盛印刷有限公司
版　　次：2015年5月第1版
印　　次：2015年5月第1次印刷
开　　本：787mm × 1092mm　1/16
字　　数：300千
印　　张：13
ISBN 978-7-5100-9585-6/H·0942
定　　价：38.80元

版权所有　侵权必究
咨询、投稿：020-84460251　gzlzw@126.com

前 言

《普什图语阅读教程》为中国非通用语教学研究会会长、解放军外国语学院亚非语系主任、博士生导师钟智翔教授主持的国家级教学成果二等奖系列教材之一，也是国家外语非通用语种本科人才培养基地暨印度语言文学国家级特色专业点建设教材。

本教材是解放军外国语学院普什图语专业自2004年成立以来，在使用多年的阅读教材基础上，结合人才培养新需求，组织编写的一套普什图语阅读课配套教材。通过对本教材的学习，学生可以逐步提高普什图语阅读能力，掌握普什图语阅读技巧，培养准确理解和分析归纳的能力。

本教材课文均选用普什图语书籍、报刊杂志及网站的原文资料。选材力求题材多样，内容丰富，涵盖面广。在编写过程中，我们根据教学需要作了必要的修改。《普什图语阅读教程》分为两册，每册15课。每篇课文含主课文（لومړی برخه）及补充读物（دوهمه برخه）各一篇，内容相辅相成。每课由课文、生词、注释和课后练习四个部分组成。生词部分除汉语释义外，还注有读音。对部分能够通过工具书查到的词语我们未加注释。注释主要包括背景知识介绍、常用短语解释和难句解释。练习部分旨在检查学生对课文大意、基本观点、基本事实等的理解情况。书后附有词汇表，方便学习者查阅。

《普什图语阅读教程》作为普什图语专业本科教材，适合二年级学生使用，计划课时为64学时。教师在实际的教学过程中可以根据本校的具体情况加以适当的调整。

本教材在编写过程中，得到了解放军外国语学院亚非语系教材建设委员会、解放军外国语学院印度语言文学国家级特色专业建设点以及中国出版集团世界图书出版广东有限公司的大力支持，在此一并表示衷心的感谢！

由于编者水平有限，教材中难免会有一些错误和疏漏，希望各位专家、学界同仁不吝批评指正。

编　者

2014年9月1日

于解放军外国语学院

فهرست

لومړی لوست 第一课 1

لومړی برخه : د پاکستان اسلامي جمهوريت 1

دوهمه برخه : د اسيا د لويې وچې پېژندګلوي 6

دوهم لوست 第二课 11

لومړی برخه : اسلامی يووالی 11

دوهمه برخه : دره خيبر 16

دريم لوست 第三课 21

لومړی برخه : د پښتو ژبې د ليک دود په باب يو څو خبرې (۱) 21

دوهمه برخه : د پښتو ژبې د ليک دود په باب يو څو خبرې (۲) 26

څلورم لوست 第四课 31

لومړی برخه : د پښتو ژبې دوه نامتو اديب 31

دوهمه برخه : د قائد ژوند 38

پنځم لوست 第五课 44
لومړی برخه : په افغانستان کې د مغلو یرغلونه 44
دوهمه برخه : تیموریان 50

شپږم لوست 第六课 54
لومړی برخه : ټوقې 54
دوهمه برخه : تل دې وی پاکستان 60

اووم لوست 第七课 66
لومړی برخه : د افغانستان پارلمان 66
دوهمه برخه : د وګړو په وړاندی د حکومت دندې 72

اتم لوست 第八课 80
لومړی برخه : د شالامار باغ سېل 80
دوهمه برخه : د موئن جودړو سېل 87

نهم لوست 第九课 93
لومړی برخه : د افغانستان هنر(۱) 93
دوهمه برخه : د افغانستان هنر(۲) 99

لسم لوست 第十课 105
لومړی برخه : یو ربنتیانی قصه 105

دوهمه برخه : غوریان 110

يوولسم لوست 第十一课 115
لومړۍ برخه : پښتنې دودونه 115
دوهمه برخه : پښتنې خويونه 121

دوولسم لوست 第十二课 128
لومړۍ برخه : پښتونوالي (۱) 128
دوهمه برخه : پښتونوالي (۲) 134

ديارلسم لوست 第十三课 139
لومړۍ برخه : په دې شرط چې امضا زده کړي 139
دوهمه برخه : ولور او بدرګه 144

څوارلسم لوست 第十四课 149
لومړۍ برخه : تر يو اوږده سفر وروسته د افغانستان د علومو په اکاډمۍ کې 149
دوهمه برخه : احمق څوک دی 156

پنځلسم لوست 第十五课 164
لومړۍ برخه : د چمن راز 164
دوهمه برخه : بن 169

لغتونه 词汇表 175

第一课

لومړی لوست

لومړی برخه

د پاکستان اسلامي جمهوريت

د پاکستان هېواد په شمالي نيمه کره کې پروت دی او د اسيا د سويل له هېوادونو څخه شمېرل کېږي . لوېديځ او شمال لوېديځ ته يې افغانستان ، ختيځ او سويل ختيځ ته يې هندوستان ، لوېديځ ته يې ايران او شمال ته يې کشمير پروت دی او سويل خوا ته د هند له سمندر سره نښتی دی . پراخوالی يې ۷۹۶۰۹۶ کيلومتره مربع دی .

الف - د پاکستان اقليم او جغرافيايي حالت

د پاکستان اقليم په ډېرو برخو کې يو له بله سره توپير لري . غرنۍ برخې يې په ژمي کې سړې او په اوړي کې معتدلې دي . خو نورې برخې يې په عمومي صورت په ژمي کې معتدلې دي او په اوړي کې ډېر تود اقليم لري .

پاکستان د ځمکې د جوړښت له پلوه په دوو برخو وېشل کېږي . لومړی شمالي او شمال لوېديځې سيمې چې تر سند پورې اوږدې شوې دي . دويم يې د پنجاب حوزه ده چې د هند په ګاونډ کې پرته ده . په لوېديځو برخو کې يې لوی ميدانونه شته چې تر بلوچستان پورې اوږده شوي دي .

د غرونو لړۍ يې د هېواد په شمال کې ده چې د هماليا ، قراقرم او ختيځ هندوکش غرونه دي . د هماليا د غرونو لړونه چې د هند په شمال کې پراته دي ، پاکستان ته هم اوږدې شوې دي . د دې لوړو غرونو څخه ډېر سيندونه سرچينه اخلي . د دې سيندونو څخه يو د سند سيند دی چې پنځه لوی مرستيالان لري او له جهلم ، چناب ، راوی ، ستلج او بنامين څخه عبارت دی . دا سيندونه چې ټول په پنجاب کې دي او کله چې سره يو ځای کېږي ، نو د سند د سيند په نامه يادېږي . د سند سيند د اندوس او اباسين په نامه هم يادوي او په پای کې د عربو په بحيره او د هند په سمندر کې تويېږي چې ۳۱۸۰ کيلومتره اوږدوالی لري .

د سند سيند د اوسېدونکو لپاره د ژوند ښه زمينه برابره کړې ده . د دې لوی سيند د اوبو څخه په کرنه کې ډېره زياته ګټه اخيستل کېږي . سره له دې چې په ځينو برخو کې کافي اوبه نه لري او ځمکې يې بې کرنې کړې دي . همدا رنګه د سند ، بلوچستان او د پنجاب د ايالتونو په ځينو برخو کې شګلن ډاګونه هم شته چې د کرنې وړ نه دي .

ب - د پاکستان اقتصادي او بشري حالت

پاکستان د ۲۰۰۴ کال د احصايې په اساس ۱۳۲ ميليونه تنه نفوس لري چې زيات شمېر يې د سند او پنجاب په صوبو کې ژوند کوي . په صوبه سرحد او بلوچستان کې نسبتا لږ وګړي اوسېږي .

رسمي ژبه يې انګليسي او اردو ده او په نورو ژبو باندې لکه په شمال لوېديځه صوبه کې پښتو ، په بلوچستان کې په بلوچي او پښتو ، په سند کې په سندي او د پنجاب په صوبه کې په پنجابي ژبو خبرې کوي . دين يې د اسلام سپېڅلی دين دی او ۹۸٪ وګړي يې مسلمانان دي . اسلام اباد د پاکستان پلازمينه ده او نور مشهور ښارونه يې دا دي : کراچي ، لاهور ، حيدر اباد ، پېښور ، ملتان ، کوټه ، راولپنډی ، فيصل اباد او نور .

پاکستان له اداري نظره په څلورو صوبو وېشل شوی دی چې د صوبه سرحد مرکز يې د پېښور ښار دی ، بلوچستان چې مرکز يې د کوټې ښار دی ، د سند صوبه چې مرکز يې د حيد اباد ښار دی او د پنجاب صوبه چې مرکز يې د لاهور ښار دی . اسلام اباد د پنجاب په صوبې پورې تړلی دی .

تر ۱۹۷۱ م کال پورې بنګله دېش چې د ختيځ پاکستان په نامه يادېده په پاکستان پورې تړلی و ، تر ۱۹۷۱ م کال څخه وروسته يې خپلواکي تر لاسه کړه او د يوه خپلواکه هېواد په توګه منځ ته راغی .

۱ - صنعت

پاکستان د کاني زېرمو له پلوه ډېر اهمیت لري . مخصوصاٍ د طبیعي ګاز ،د ډبرو سکاره او اوسپنې ډېرې لوېې زېرمې لري . پاکستان لږه اندازه تېل هم لري او د سیندونو څخه یې ډېره برېښنا لاس ته راځي .

د پاکستان صنایع په دوو برخو وېشل کېږي . لومړی لاسي صنایع دی ، دوهم ماشیني صنایع .

۲ - تجارت

د پاکستان د خلکو د اړتیا وړ زیات شمېر توکې په هېواد کې تولیدېږي . یو شمېر نورې فابریکې هم په کې شته چې تولید شوي توکې بهرنیو بازارونو ته وړاندې کوي . تېل ، فولاد ، کېمیاوي مواد ، د کرنې ماشینونه او موټرونه له نورو هېوادونو څخه واردوي .

پاکستان پاخه سړکونه لري ، مشهور ښارونه یې د اوسپنیزو کرښو او همدا رنګه د هوایي لارو له لارې یو له بل سره نښلي . کراچی یې مشهور بندر دی .

۳ - کرنه

نن د پاکستان ټولې هوارې برخې د ماشینونو په واسطه کرلي کېږي . سره له دې چې په ډېرو برخو کې یې له ځارویو څخه هم کار اخیستل کېږي او ځمکه یې ۲۲٪ په شاوخوا کې تر کرنې لاندې ده . وریجې ، غنم ، پنبه ، ګني ، سابه ، مېوې او داسې نور یې د کرنې پیداوار دي . د هغه مساعد اقلیم له کبله چې د کرنې له پاره یې لري ، د کال په هر فصل کې شین وي او هر وخت په زیاته اندازه سابه پکې لیدل کېږي .

په پاکستان کې ځاروي هم ډېر روزل کېږي ، همدا رنګه د کبانو تولیدېې د پاملرنې وړ دی . په عمومي توګه ۳۵٪ خلک یې په کرنه بوخت دي .

单词 لغتونه

沙的，沙土的，沙质的	［形］	/shəg'lən/	شګلن
计算，统计	〈阿〉［阴］	/ihsa:i'ya/	احصائیه
省，县，区，地区，区域	〈阿〉［阴］	/su'ba/	صوبه

木炭	[阳]	/ska:'rə/	سکاره
油；石油，原油；汽油，煤油	[阳复]	/tel/	تېل
铁的，铁制的	[形]	/ospə'niz/	اوسپنيز
棉花，皮棉	[阴]	/pun'ba, pan'ba/	پنبه
甘蔗	[阳]【植】	/ga'nai/	ګنی

注释 تشريح

د سند سيند印度河。巴基斯坦河流主要是印度河水系，但普什图语中的书写容易与巴国内的一地名信德混淆。印度河中流主要由五大支流组成：杰卢姆河（جهلم）、奇纳布河（چناب）、拉维河（راوی）、萨特累季河（ستلج）和比亚斯河（بنامين）。

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- د پاکستان څلور خواوې کوم کوم هېوادونه پراته دي ؟

۲- د پاکستان اقليم څنګه دی ؟

۳- د سند سيند له کوم کوم سيندونو څخه جوړېږي ؟

۴- د پاکستان ملکی ويش څنګه دی ؟

۵- په پاکستان کی کانی زېرمه لويه ده که نه ؟

二、填空题。

۱- د پاکستان پراخوالی ________ کيلومتره مربع دی.

۲- د هماليا د غرونو لړونه چې د هند په شمال کې پراته دي ، پاکستان ته هم ________ . د دي

لوړو غرونو څخه ډېر سيندونه ________________ .

۳- پاکستان د ۲۰۰۴ کال د احصايې په اساس ____________ تنه نفوس لري چې زيات شمېر يې د ________ او ________ په صوبو کې ژوند کوي . په ________ او بلوچستان کې نسبتا لږ وګړي اوسېږي .

۴- د پاکستان رسمي ژبه ________ او ________ ده .

۵- په پاکستان کې څاروي هم ډېر روزل کېږي ، همدا رنګه د ____________ د پاملرنې وړ دی .

三、判断对错。

۱- پاکستان په جنوبي نيمه کره کې پروت دی .

۲- پنجاب له هند سره نژدې دی .

۳- د پاکستان د غرونو لړۍ د هېواد په شمال او لوېديځ کې ده .

۴- په پاکستان کې تر ټولو مشهور بندر کراچی دی .

۵- په پاکستان کی د کرنې ماشينونه او موټرونه په خپل هېواد کی توليدېږي .

四、翻译句子。

۱- د سند ، بلوچستان او د پنجاب د ايالتونو په ځينو برخو کې شګلن ډاګونه هم شته چې د کرنې وړ نه دي .

۲- تر ۱۷۹۱ م کال پورې بنګله دېش چې د ختيځ پاکستان په نامه يادېده په پاکستان پورې تړلی و ، تر ۱۷۹۱ م کال څخه وروسته يې خپلواکي تر لاسه کړه او د يوه خپلواکه هېواد په توګه منځ ته راغی .

۳- پاکستان پاخه سړکونه لري ، مشهور ښارونه يې د اوسپنيزو کرښو او همدا رنګه د هوايي لارو له لارې يو له بل سره نښلي .

۴- نن د پاکستان ټولې هوارې برخې د ماشينونو په واسطه کرلې کېږي . سره له دې چې په ډېرو برخو کې يې له څارويو څخه هم کار اخيستل کېږي .

۵- د سند سيند د اوسېدونکو لپاره د ژوند ښه زمينه برابره کړې ده . د دې لوی سيند د اوبو څخه په کرنه کې ډېره زياته ګټه اخيستل کېږي .

五、用普什图语复述课文。

دوهمه برخه

د اسیا د لویې وچې پېژندګلوي



اسیا د نړۍ یوه لویه وچه ده . دا لویه وچه د ختیځ طول البلد په ۵۲ درجو ، د لوېدیځ طول البلد په ۰۷۱ درجو ، د شمالي عرض البلد په ۰۸ درجو او د سویلي عرض البلد په ۰۱ درجو کې پرته ده . د اسیا لویه وچه درې ټاپووزمې لرې چې د عربستان له ټاپووزمې ، د هند ټاپووزمې اود هند او چین له ټاپووزمې څخه عبارت دي . د ځنو ټولنیزو او طبیعي خصوصیاتو له پلوه د اسیا لویه وچه له نورو وچو سره ډېره توپیر لري . د اسیا لویه وچه په نړۍ کې د ادیانو د خپرېدو ، نژادي ، کلتوري او سیاسی ایزو له پلوه اهمیت لري . همدا رنګه د نړۍ ډېر لوی تمدنونه د مدیترانې له سمندرګي څخه د چین تر ژېړ سیند پورې په دې لویه وچه کې منځ ته راغلي دي او وده یې کړې ده . د پورتنیو خصوصیاتو په پام کې نیولو سره اسیا د نورو وچو په پرتله ډېر غوراوی لري .

الف موقعیت او پراخوالی

د اسیا لویه وچه د شمال له خوا په شمالي کنګل سمندر ، د ختیځ له خوا په بحرالکاهل او د سویل له خوا د هند په سمندر پورې نښتې یا په بل عبارت له دریو خواوو یې سمندرونه را تاو شوي دي . له یوې خوا لوېدیځ ته د اورال غرونه او سیند ، توره بحیره د باسفورس او د ردانیل ابنا وی د اسیا لویه وچه له اروپا څخه جلا کوي . همدارنګه سویل لوېدیځې خوا ته سور سمندرګی ، د سویز کانال او د مدیترانې د بحیرې یوه برخه د دې لویې وچې په بېلوالي کې ډېر اهمیت لري .

د دې وچې ټول پراخوالی ۲۴۴ مليونه کيلومتره مربع دی چې د ځمکې د کرې نژدې څلورمه برخه يې نيولې ده . يا په بل عبارت د اسيا پراخوالی د اروپا او افريقا د پراخوالي له مجموعې سره مساوي دی .

ب د اسيا د لويې وچې اقليم

د اسيا لويه وچه د شمالي قطب له دايرې څخه چې ډېره سړه ده ، پيل او په سويل کې د استوا تر کرښې پورې رسېږي . ځکه نو دا سيمه بېلا بېله اقليمونه او هوا لري چې په څلورو برخو يې وېشلای شو .

۱- سوړ اقليم

په عمومي صورت د دې وچې دريمه برخه سوړ اقليم لري چې د سايبريا ټولې برخې او د مغلستان ځينې برخې په کې شاملې دي . په ژمي کې يې منځنې سوړوالی منفی ۰۲ درجو او په اوړي کې مثبت ۰۲ درجو ته رسېږي .

۲ - وچ او صحرايي اقليم

دا سيمې د مرکزي اسيا په لوېديځو برخو کې پرتې دي ، چې د کال په اوړدو کې ډېر لږ اورښت لري . هېڅ ځنګل او وابښه نه لري او له دوړو څخه ډکې سيلۍ په کې لګېږي . د تودوخې درجه په کې هر وخت بدلون مومي ، کله چې د لمر وړانګې د ځمکې په مخ راولوېږي ، نو هوا ډېره توده شي او کله چې شپه شي ، تودوخه راټيټه شي او د ډېرو او شګو د ماتېدلو سبب ګرځي . د بادونو د الوتلو په واسطه شګې له يوه ځايه څخه بل ځای ته وړل کېږي او د شګو غونډۍ جوړوي .

۳- مونسوني اقليم

دا سيمې د اسيا په سويلي او سويل ختيځو برخو کې پرتې دي چې هندوستان ، اندونيزيا ، جاپان ، د چين ختيځې برخې او د بحرالکاهل په ساحل کې پراته کوچني هېوادونه پکې شامل دي . په دې سيمو کې د پنځو مياشتو په اوږدو کې د هند د سمندر او بحرالکاهل د موسمي بادونو له امله اب و هوا مرطوبه وي چې د ډېر اورښت سبب کېږي . په داسې حال کې چې د نورو اوو مياشتو په اوږدو کې هلته د لمر د وړانګو د لګېدلو له امله ډېره تودوخه وي . د ډېرې تودوخې او زيات اورښت له امله دا سيمې ګڼ ځنګلونه لري . د دې سيمو سيندونه د اورښت په موسم کې له اوبو ډېر ډکېږي ، خو په نورو ورځو کې يې اوبه نسبتا لږې وي .

۴ - مديترانه يي اقليم

دا سیمې په اوړي کې ډېرې تودې او مرطوبې وي ، په ژمي کې معتدله هوا لري . په دې سیمې کې د مدیترانې د بحیرې ، د تورې بحیرې او د ایجین د بحیرې د ساحل هېوادونه پراته دي . په دې هېوادونو کې لېمو ، نارنج او د مالټې ونې ډېره ښه وده کوي .

ج - دین

اسیا د لرغوني تمدن زانګو او د نړۍ د مختلفو ادیانو د پیدایښت او منځ ته راتلو ځای دی . د اسلام سپېڅلی دین ، عیسویت ، بودایي ، برهمني ، زردشتي ، کنفیسوس ، شنتو او داسې نور په دې لویه وچه کې منځ ته راغلي دي او وروسته نورو هېوادونو ته خپاره شوي دي .

د اسلام مقدس دین د عربستان په ټاپووزمه ، عیسویت ، یهودیت په اوسني فلسطین او بودایي مذهب په هندوستان کې ظهور کړی دی . پورتني ادیان نن د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې زیات شمېر پیروان لري .

د - نژاد

د اسیا په لویه وچه کې د ډېرو نژادونو وګړي ژوند کوي ، لکه سپین ، ژېړ او تور . پورتني نژادونه یو له بل څخه بېل کړي دي . په شمال ختیځه برخه کې یې د ژېړ نژاد او په سویل او لرېدیځو برخو کې یې د سپین نژاد او په سویل برخو کې یې د تور نژاد خلک ژوند کوي .

سپین نژاد چې اریایان یې یوه څانګه ده ، په افغانستان ، ایران او روسیه کې ژوند کوي . د ډېرو پوهانو په عقیده د اریایانو اصلي هستوګن ځای بلخ او د هغه شاوخوا سیمه ده . وروسته یې د تاریخ په اوږدو کې له دې ځای څخه نورو هېوادونو ته کډه کړې ده .

د نورو لویو وچو په پرتله د دې لویې وچې دوې ځانګړتیاوې لري . یوه ځانګړتیا د هغې پراخوالی دی . یوازې د سایبریا د سیمو پراخوالی د ټولې اروپا له پراخوالي سره مساوي دی .بله ځانګړتیاد هغې لوړتیا ده . دا لویه وچه لوړ غرونه لري . په اسیا کې د غرونو لوېې او لوړې لړۍ پرتې دي چې یو له هغو څخه د همالیا د غرونو لړۍ ده . لوړه څوکه یې ایوریسټ نومېږي او ۸۴۸۸ متره لوړوالی لري . په داسې حال کې چې په اروپا کې د الپ تر ټولو لوړه څوکه ، مونت بلان ۷۰۸۴ متره لوړوالی لري . همدا رنګه په امریکا کې تر ټولو لوړه څوکه میکنلي نومېږي ، ۴۹۱۲ متره لوړوالی لري .

لغتونه 单词

半岛	[阴]	/ṭa:pu'wazma/	ټاپووزمه
大陆；洲	〈阿〉[阳]	/barria'za'm/	براعظم
适合的，相宜的	〈阿〉[形]	/masa:''yi:d/	مساعد
种，耕种；农业	[阴]	/kar'həṇa/	کرهڼه
困难；麻烦	[阳]	/ra'bəṛ/	ربړ
太平洋	〈阿〉[阳]	/ku'ra/	بحرالکاهل
地球	〈阿〉[阴]	/pum'ba, pam'ba/	کره
降雨；降雪	[阳]	/o'rəht/	اورښت
沙子，砂	[阴]	/'shəga/	شګه
季风的	〈英〉[形]	/monsu:'ni:/	مونسوني
岸，岸边；沿岸	〈阿〉[阳]	/sa:'hil, sa:'hel/	ساحل
湿的，潮湿的，湿润的	〈阿〉[形]	/mar'tu:b/	مرطوب
地中海沿岸地区	[阳]	/meditera:'na/	مېډيترانه
红瓤甜橙（橙子的一个品种）	[阴]	/ma:l'ta/	مالټه
妻子；家眷	[阴]	/'kada/	کډه

تشريخ 注释

1 په عقيده د ... 在……看来。

2 ایوریس 珠穆朗玛峰（Qomolangma），又意译为圣母峰，也称作“埃非勒斯峰”（Everest），本文中的表达译自英文单词Everest。

练习 تمرين

根据课文回答问题。

۱- د اسیا لویه وچه له کومه کومه ټاوزه شخه جوړېږي ؟

۲- د اسیا ځلور خواوې ولیکئ .

۳- د اسیا د براعظم عمومي مساحت څو کیلومتره مربع دي ؟

۴- د حوزو له مخې د اسیا د براعظم اقلیم په څو برخو تقسیم شوی دي ؟

۵- وچ او صحرایي اقلیم څرنګه اقلیم دی ، خصوصیات یې بیان کړئ .

۶- کوم هېوادونه مونسوني اقلیم لري ؟

۷- د مدیترانې د اقلیم خصوصیات کوم دي او کومې سیمې په کې شاملې دي ؟

۸- په اسیا کې د موجودو نژادونو نومونه واخلئ .

۹- د اسلام مقدس دین له کوم هېواد څخه خپور شوی دی ؟

۱۰- اسیا کوې ځانګړتیاوې لري ؟

第二课

دوهم لوست

لومړی برخه

اسلامي يووالی

د څو ورځو راسی د عائشې په کور کښې ډېره ګڼه ګوڼه وه. نيا او نيکه يې د حج د ادا کولو نه واپس کور ته رارسېدلی وو. ټوله ورځ به خلک ستړی مشی ته تلل راتلل. مور پلار يې مېلمانه سمبالول. عائشې او عمېر به د شپې د اوده کېدلو نه مخکښې د نيا او نيکه نه د حج خبرې اورېدې. نن هم د نيکه په خوا کښې ناست وو.

عائشه : بابا! مسلمانان د حج دپاره سعودی عرب ته ولی ځي؟

نيکه : لورې! هلته د مکې معظمې يو مقدس ښار دی. په دې ښار کښې د الله تعالی کور "خانه کعبه" ده. هر کال د ټولې دنيا مسلمانان دلته د حج دپاره راځي. حج فرض دی او د دنيا د مسلمانانو د يووالی د ټولو نه لوی مثال دی. لکونه مسلمانان په يو وخت کښې د خانه کعبې طواف کوي، خدای ته سر په سجده ږدي او دعاګانې غواړي.

عمېر : بابا! تا خو د حج د ادا کولو دپاره يو خاص لباس هم اخستی و.

نيکه : او، عمېر بچيه! دې لباس ته احرام ويلی شی. د حج په دوران کښې دا لباس د ټولو حاجيانو په غاړه وی، يو شان ښکاري. تور وی که سپين، کمزوری وی که مضبوط، امير وی که غريب، ټول د الله په عبادت لګيا وی. دا ټول د يو خدای، يو رسول او يو کتاب منونکی دی او يو تر بله سره ورونړه دی.

عائشه : څومره مزه به کوي چه د حج په موقع دا دومره ډېر مسلمانان سره يو ځای وی.

نيا : او، لورې! دا د ډېرې خوشحالۍ خبره ده.

نیکه : تاسو ته شاید پته نه وی چه نن سبا په دنیا کښې د یو ارب نه زیات مسلمانان دی او د پنځوسو نه زیات اسلامی ملکونه دی. اسلامی ملکونو ته الله بې شمېره نعمتونه ورکړی دی. د تېلو قدرتی ذخیرې، هر قسم معدنیات او نورې ذخیرې لري. زراعتی پېداوار یي هم د ډاډ وړ دی. د دنیا ځینی صنعتونه د اسلامی ملکونو په خامو موادو پوری تړلی دی. زمونږ ګران ملک پاکستان د دنیا اووم او ړومبنی اسلامی ملک دی چه ایټمی طاقت جوړ شوی دی.

عمېر : بیا خو به مسلمانان د دنیا لوی طاقت وی؟

پلار : بچو! مسلمانانو د دنیا په ډېره حصه حکومتونه کړی دی. د اسلام تاریخ زمونږ د نیکونو د کارنامو نه ډک دی. که مسلمانان په خپلو کښې متحدوی نو یو مضبوط قوم به وی. خو که اتحاد پکښې نه وی نو کمزوری کېږي به. بچو! په یووالی کښې طاقت دی.

نیکه: پاکستان یو مثال واخله، د بر صغیر پاک او هند مسلمانانو د غلامۍ ژوند تېروه. خو کله چه پکښې د ازادۍ شعور پیدا شو نو سره یو شول او د ازادۍ دپاره یي هڅې شروع کړې. اخر د خپلو کامیابه هڅو په نتیجه کښې په ۷۴۹۱ کال د دنیا په نقشه کښې یو نوی اسلامی ملک "پاکستان" جوړ شو.

عمېر : ایا مسلمانان همېشه دغسی یو وو؟

پلار: نه، بچیه! د افسوس خبره ده چه مسلمانان همېشه په اتفاق نه وو. عربی ملکونو ته ګورې. څو کاله مخکښې چه په عربی ملکونو کښې بې اتفاقی پیدا شوه نو یهودو ترې پوره ګټه واخستله او یو یهودی ملک "اسرائیل" یي جوړ کړ. اسرائیلو په مصر، شام او اردن حملې وکړې او ځینی علاقې یي ترې لاندی کړې. د مسلمانانو مقدس ښار "بیت المقدس" یي ترې هم قبضه کړه.

عائشه : ایا اوس په مسلمانانو کښې اتفاق راتلی نه شي؟

نیکه : ولی نه لورې! د دغه پېښو نه پس مسلمانانو خپله غلطی محسوسه کړه. او متحد شول، د یو اسلامی کنفرنس د تنظیم بنیاد یي کېښود. دا تنظیم د ټولې دنیا د مسلمانانو د یووالی نخښه ده.

عمېر : د اسلامی کنفرنس د تنظیم مقصد څه دی؟

پلار : عمېره بچیه! د دې تنظیم بنیادی مقصد د اسلامی ملکونو تر منځه د ښو تعلقاتو ساتل او په شریکه د مسئلو حل کول دی.

نیکه : بچو! د اسلامي کنفرنس تنظیم دوېمه غونډه زمونږ په ښکلي ښار لاهور کښې وشوه. په دې غونډه کښې د ۷۳ اسلامي ملکونو مشرانو او اعلی نمائندګانو ګډون کړی و.

پلار: دا د ۴۷۹۱ کال د فروري میاشت وه. د اسلامي کنفرنس غونډه په لاهور کښې کېدله. ما په کالج کښې سبق ویله. د ټولو پاکستانیانو او په تېره بیا د لاهور د خلکو جوش او جذبه د ستاینې وړ وه. ټول ښاریان د ښار د ښکلي کولو په مینه مست وو. عمارتونه، کورونه، دوکانونه، هوټلونه او پارکونه ښکلي کړی شوي وو. محراب ډوله دروازو او د اسلامي ملکونو رپانده جنډو لارې او سرکونه ښایسته کړي وو. ټول ښار سپین پړق و.

د ټول ښار هوا رنګ رنګ رڼاګانو نیولې وه. د "اهلاً و سهلاً" بېنرونو درنو مېلمنو ته هرکلي ویل. ټول ښار د ناوې په شان ښکلي کړی شوی و. رېډیو او ټی وی د دې شانداره موقعې په هکله خاص پروګرامونه نشر کول. زرګونو خلکو د جنډو او ګلونو په لاس درنو مېلمنو ته هرکلي ویل. د هر چا د ژبې نه د "الله اکبر"، "اسلام زنده باد"، "تل دې وی اسلامي ورورولی" نارې اوچتېدلې. دا منظر اوس هم زما په سترګو کښې دی.

نیکه : د دویم اسلامي کنفرنس تنظیم د مشرانو غونډه ډېره کمیابه وه. د کنفرنس په اخري غونډه کښې ځیني فېصلې وشوې. په دې فېصلو کښې د اسلامي بېنک قیام، په مشرقي او مغربي افریقه کښې د اسلامي یونیورسټیانو جوړېدل او د اسلامي نیوز ایجنسی قیام شامل وو. د غونډې په اخر کښې "اعلان لاهور" جاري کړی شو.

په "اعلان لاهور" کښې دا اراده وښودله شوه چه د بیت المقدس او د عربي نه د نورو قبضه کړی شوو علاقو د ازادولو دپاره به پوره پوره هځې کوو. اسلامي ملکونه به د دې مقصد دپاره د خپلو ټولو وسیلو نه کار اخلي او د یو بل په داخلي چارو کښې به ګوتې نه وهي.

نیکه: مونږ به خپلې مقبوضه علاقې ازادوو. دا زمونږ فرض دی چه یو تر بله لاسونه سره ورکړو او د

اسلامي ملت د ترقۍ او خوشحالۍ دپاره کار وکړو. هغه وخت لرې نه دی چه اسلامي ملکونه به د ترقۍ په منډه کښې د نورو ملکونو نه مخکښې شي، انشاء الله.

عمېر، عائشه : انشاء الله

لغتونه 单词

装饰，打扮；安排，整理	[及]	/samba:la'wəl/	سمبالول
伟大的；敬爱的，尊敬的，高贵的，尊贵的	〈阿〉[形]	/mu'a'zam/	معظم
神圣的，圣洁的；虔诚的	〈阿〉[形]	/muqa'das/	مقدس
克尔白（麦加的天房）	〈阿〉[阴]	/k''aba/	كعبه
衣服，服装；方式，形式，形态	〈阿〉[阳]	/li'ba:s/	لباس
听话的，服从的，听从的	[形]	/ma'nunkai/	منونکی
天然的	〈波、阿〉[形]	/qudra'ti:/	قدرتي
农业的；农田的；农作物的	〈波、阿〉[形]	/zira:'a'ti:/	زراعتي
部分，份额；定额，限额	〈阿〉[阴]	/his'sa/	حصه
巩固的，坚固的，结实的，加强的	〈阿〉[形]	/maz'bu:t/	مضبوط
基础，根基	〈阿〉[阳]	/bun'ya:d/	بنیاد
祭坛，祷告室	〈阿〉[阳]	/mih'ra:b/	محراب
雄伟的，壮丽的，宏伟的，隆重的；豪华的	〈波〉[形]	/sha:n-'da:r/	شاندار
起义，暴动	〈阿〉[阳]	/qi'ya:m/	قیام
东方的，东边的	〈阿〉[形]	/mashri'qi:/	مشرقی
西方的	〈阿〉[形]	/maghri'bi/	مغربی
拿到手的，得到的，被捉拿的	〈阿〉[形]	/maq'bu:z/	مقبوض

注释 تشريخ

اسلامی کنفرنس تنظیم 伊斯兰会议组织，1970年5月正式成立，2011年6月改名为伊斯兰合作组织。

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- د حج په حقله خبرې وکړئ؟

۲- اسلامی ملکونه د کومو کومو نعمتونو نه مالامال دی؟

۳- د دویم اسلامی کنفرنس تنظیم په موقع د لاهور خلکو څه وکړل؟

۴- د اسلامی کنفرنس د غونډې په اخر کښې څه فیصلې وشوې؟

۵- د اسلامی ملکونو یووالی ضروری دی؟

二、填空题。

۱- هر کال د ټولې دنیا مسلمانان دلته د حج دپاره راځي. حج ____________ دی او د دنیا د مسلمانانو د یووالی د ټولو نه لوی مثال دی.

۲- تا خو د حج د ادا کولو دپاره یو خاص ____________ هم اخستی و.

۳- زمونږ ګران ملک پاکستان د دنیا اووم او ړومبنی اسلامی ملک دی چه ____________ جوړ شوی دی.

۴- د هر چا د ژبې نه د "الله اکبر"، "____________"، "تل دې وی اسلامی ورورولی" نارې اوچتېدلې.

۵- په "اعلان لاهور" کښې دا اراده وښودله شوه چه د ____________ او د عربی نه د نورو قبضه کړی شوو علاقو د ازادولو دپاره به پوره پوره هڅې کوو.

三、判断对错。

۱- د عائشې نيکه او انا له مکې نه واپس کور ته رارسېدلی وو.

۲- د دې مقالې سره سم په هغه وخت کښې د ۵۰ نه زيات اسلامی ملکونه وو.

۳- اسرائيل له پاکستان نه وختی جوړ شوی و.

۴- د دې تنظيم بنيادی مقصد د اسلامی ملکونو تر منځه د ښو تعلقاتو ساتل او په شريکه د مسئلو حل کول دی.

۵- د اسلامی کنفرنس تنظيم دويمه غونډه په پنجاب کښې د ۱۹۷۴ کال د فروری مياشت وشوه.

四、翻译句子。

۱- لکونه مسلمانان په يو وخت کښې د خانه کعبې طواف کوي، خدای ته سر په سجده ږدي او دعاګانې غواړي.

۲- د حج په دوران کښې دا لباس د ټولو حاجيانو په غاړه وی، يو شان ښکاري.

۳- پاکستان يو مثال واخله، د برصغير پاک او هند مسلمانانو د غلامۍ ژوند تېروه. خو کله چه پکښې د ازادۍ شعور پيدا شو نو سره يو شول او د ازادۍ دپاره يې هڅې شروع کړې.

۴- د ټولو پاکستانيانو او په تېره بيا د لاهور د خلکو جوش او جذبه د ستاينې وړ وه.

۵- د ټول ښار هوا رنګ رنګ رڼاګانو نيولې وه.

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

دره خېبر

د پېښور نه قبلې طرف ته د ۱۲ کلو مېټره په فاصله جمرود کلی دی. دلته د خېبر يوه دروازه ده چه ورته باب خېبر وايي. دا په سړک باندی داسی جوړه ده چه ور لاندی ګاډی هم ځي راځي. د دې پرانسته پخوانی



صدر پاکستان فیلډ مارشل محمد ایوب خان په ۱۹۶۵ کال کښې کړېده. دې ته د خېبر دروازه وايي، ځکه چه په دې لاره دره خیبر ته خلک ځي راځي.

دا دره ۳۳ میله اوږده ده. د مار غوندی تاو راتاو سړک تر میلونو تلی دی. د دې درې برخې دی. په یوه برخه بې لارۍ او موټرې ځي راځي او بله برخه یې د اوښانو د تګ راتګ دپاره ده. د دې نه علاوه دلته د رېل ګاډی د تګ راتګ دپاره پاټلۍ هم شته. د رېل ګاډی دپاره دنګ دنګ غرونو کښې پنځه دېرش سورنګونه جوړ کړی شوی دی.

دره خېبر په دنګو ګرانو بې ګیا اوبې اوبو خړو غرونو کښې تېره ده. د ۳۱۲ فټ اوچتوالی نه پس علی مسجد راځي. دلته دا دره تنګه شی. منظرونه هم بدل شی.دلته یوه چینه بهیږی. د دې په وجه د خړو او خفه غرونو تر مېنځه دا ټوټه یو شین باغ ښکاري. د علی مسجد نه مخکښې دره هم داسی تاو راتاو بره تلې ده. بلکل په څوکه یې لنډی کوتل پروت دی. دلته یې اوچتوالی ۳۵۱۸ فټه ته رسېدلی دی. د دې ځای نه سړک په ښکته تلی دی. مخکښې لنډی خانه او تورخم راځي. دلته د پاکستان او افغانستان تر مېنځه پوله ده. دره خېبر د تاریخی او جغرفیايي محل وقوع، اب وهوا او د دې ځای د اوسېدنکو په لحاظ یې مثاله ده. دلته څلور قسمه قبائېل اوسېږي. افریدی، شنواری، ملاګوری او شلمانی.

دره خېبر هر قسمه وخت لیدلی دی. دا د دنیا د لویو لویو فاتحانو د تګ راتګ یو لاره پاتې شوې ده. د ټولو نه وړومبی اریایانو په ۱۲۵۵ ق م کښې په دې قدمونه ایښی وو. په وړومبی صدی عیسوی کښې کشان خاندان پېښور خپل پایه تخت و ګرځاوه. او دره خېبر د دوی د تګ راتګ یوه لاره جوړه شوه. د دوی نه پس د اسلام لوی فاتح سلطان محمود غزنوی چه په تاریخ کښې بت شکن یادېږي په هندوستان د حملې دپاره په دې لاره تېر شوی دی. د ده نه پس په ۱۱۸۵ کال کښې شهاب الدین محمد غوری ور پسی امیر تیمور بیا د مغول بابر او همایون باچا په دې لاره تېر شوی دی. دره خېبر د دنیا د عظیمو فاتحانو دور هم لیدلی دی لکه مشهور

فاتح سکندر اعظم او چنګېز خان په ۲۸۵۱ کال کښې راجا مان سنګه په کابل د حملې کولو په غرض په دې لاره تېر شوی و . په ۲۷۲۱ کال کښې قبائېلو د کابل په صوبېدار محمد امین خان او رنګ زېبې باندی په دې دره کښې حمله وکړه . د ده څلوېښت زره فوځیان یې تباه برباد کړل . په شاهی خزانې او هاتیانو یې قبضه وکړه . د ده نه پس نادر شاه افشار د مغول په صوبېدار ناصر خان د حملې د پاره په دې لاره تېرېدل غوښتل. د جمرود په مقام یې قبائېلو او ناصر خان سره سخته نښته وشوه چه په کښې ناصر خان ماتې وخوړه . د موجوده افغانستان مشر د احمد شاه ابدالی فوځونه د مرهټیانو د جرړې وېستو د پاره هم په دې دره تېر شوی وو .

د نولسمې صدۍ په شروع کښې د رنجیت سنګه د حکومت حدونه تر جمرود پورې را و رسېدل . دوست محمد خان امیر کابل د جمرود سره نزدې دوی سره مقابله وکړه او ماتې یې ورکړه . دلته د رنجیت سنګه سپه سالار هری سنګه نلوا د جمرود مشهوره قلعه جوړه کړه . دا قلعه تر ننه پورې هم په هغه حالت کښې موجوده ده .

په ۹۴۸۱ کال کښې پرې د انګرېزانو دور راغله . انګرېزانو دا خبره منلې ده چه دا هغه علاقه ده د کوم ځای خلک چه په صحیح معنو کښې زمونږ حریفان وو .

په ۸۷۸۱ کال کښې د افغانستان د دویم جنګ په دوران کښې په دې سیمه ډېر جنګونه شوی دی . په ۷۹۸۱ کال کښې افریدو په دره قبضه وکړه او د خېبر ټول قبائل د انګرېزانو خلاف یو موټی شول. لنډه دا چه د دې سیمې قبائلو د وړومبې ورځې نه تر اخری ورځې پورې د انګرېزانو خلاف خپلې هلې ځلې جاری ساتلې وې او د هغوی خوبونه یې حرام کړی وو .

په ۷۴۹۱ کال کښې چه پاکستان ازاد شو ، نو دا علاقه پاکستان سره شامله شوه . دلته یو نوی دور شروع شو . د قتل و غارت ، ظلم ، زور او زیاتی دور تېر شو . د امن ، مینې او د یو بل نه د زاریدلو دور شروع شو . اوس هم هغه افریدی ، شنواری ، ملاګوری او شلمانی د خوږ وطن په مینه مست دی . دوی د خوږ وطن پاکستان د سرحدونو محافظان دی . پخپله ساده قبائلی جامه کښې بې وردۍ فوځ دی . د پاکستان شملې اوچتولو ته شپه او ورځ تیار ولاړ دی .

دره خېبر هغه علاقه ده کوم ځای چه په هره زمانه کښې تاریخ جوړ شوی او وران شوی دی . دا د بې شماره تهذیبونو د یو ځای کېدو مرکز پاتې شوی دی . خېبر د دنیا یوه مشهوره دروازه ده. دا په تاریخ کښې د بر صغیر او مېنځنۍ ایشیا تر مېنځه د تجارت یوه لاره ده .

دره خیبر د ادب په میدان کښې هم ډېر د اعلی پایې ادیبان او شاعران پیدا کړي دي . په دغو کښې امیر حمزه خان شینواری ، ناظر شینواری ، خاطر افریدی ، خېبر افریدی او داسې نور ډېر شامل دي .

لغتونه 单词

مغرب	/magh'rib/	〈阿〉[阳]	西，西方；西部
فاصله	/fa:si'la/	〈阿〉[阴]	间隔，间隙，间距；距离
مار	/ma:r/	〈波〉[阳]	蛇
دنگ	/dang/	[形]	高的，严整的，整齐的
سورنگ	/su'rang/	[阳]	隧道；地道
کوتل	/ku'tal/	[阳]	山隘，山口，山关
صدی	/sa'di:/	[阴]	世纪，百年；百，一百
عظیم	/a'zi:m/	〈阿〉[形]	伟大的，巨大的；崇高的，重要的；著名的
قلعه	/qal''a/	〈阿〉[阴]	城堡；堡垒，工事
دور	/daur/	〈阿〉[阳]	转动，回转，旋转，循环
حریف	/ha'ri:f/	〈阿〉[阳]	同行，同事；反对者，竞争者；对手，仇敌
حرام	/ha'ra:m/	〈阿〉[形]	被禁止的，违反伊斯兰教教规的；不洁净的，禁食的；非法的，不正当的
زاریدل	/za:redəl/	[不及]	成为牺牲品，成为牺牲者
محافظ	/muha:'fiz/	〈阿〉[阳]	保护者；看守人，守卫者
تهذیب	/tah'zi:b/	〈阿〉[阳]	提炼，精炼；教导，教育；教养；修正，矫正
بر	/bar(r)/	〈阿〉[阴]	陆地，大陆
صغیر	/sa'ghi:r/	〈阿〉[形]	小的

تشريخ 注释

محمد ايوب خان阿尤布·汗（1907—1974年），第二任巴基斯坦总统（1958—1969年）。

تمرين 练习

根据课文回答问题。

۱ - دره خېبر د پېښور نه کوم اړخ ته پرته ده ؟

۲ - د خېبر مشهوره دروازه په کوم ځای کښې جوړه ده او دې ته څه وايي؟

۳ - دره خېبر څومره ميله اوږده ده او کومې برخې دی؟

۴ - علی مسجد په څومره فټه اوچتوالی پروت دی؟

۵ - د درې په څوکه کوم ځای پروت دی؟

۶ -د خېبر په لاره کوم کوم عظيم فاتحان تېر شوی دی ؟ د يو څو نامې واخلئ.

۷ - د خېبر په لاره کوم کوم لويو فاتحان تېر شوی دی ؟

۸ - په دره خېبر د انګرېزانو دور کله نه شروع و او تر کومه پوری و؟

۹ - کله چه پاکستان ازاد شو ، دره خېبر څه دور شروع شو؟

۱۰ - په تاريخ کښی دره خېبر د کومو ځايو تر منځ يوه تجارتی لاره وه؟

第三课

دریم لوست

لومړۍ برخه

د پښتو ژبې د لیک دود په باب یو څو خبرې (۱)

(لیکوال : سر محقق عبدالرحیم ځدران)

دا ډېره موده کېږي چې پښتانه لیکوالان، پوهاندان، ادیبان او ژبپوهان په دې اخته دي چې د پښتو ژبې د مشکلاتو د حل لپاره یوه لاره بیا مومي.

ځینې په دې عقیده دي چې د پښتو ژبې حروف باید په انګلیسي واوړي، ځینې نور په دې اخته دي چې د نویو لغاتو او اصطلاحاتو ذخیره پکې زیاته کړي. یو شمېر زیار باسي چې زاړه او د محاورې نه لوېدلي لغات بېرته را ژوندي کړي. ځینې کسان بیا غواړي چې هرې خارجي کلمې او نوم ته پښتو نوم او کلمه پیدا کړي. څوک یې د معیاري کولو په باب فکر کوي او یو شمېر نور بیا د ژبې د نورو مشکلاتو او پرابلمونو په برخه کې اندېښمن دي.

دوی حق لري، دا ځکه چې ژبه د یوه قوم د غوره مشخصاتو څخه شمېرل کېږي. ژبه خپل ویونکي په یوه سرحدي حلقه کې ساتي. ژبه د شعور د لوړولو، تنویر او یوه بل په پوهولو کې په زړه پورې چوپړ کوي. زموږ ژبه د یوې وسیلې په توګه زموږ سره د خپل

هېواد د اقتصاد ، کلتور ، ساینس او تکنالوژی ساختمانونو په وده کی پوره پوره مرسته کوي. د همدغې ژبې برکت دی چی موږ خپل غوره عنعنات او دودونه خوندی ساتو او د یوه غوره ملی کلتور څښتنان یو. ملی کلتور موږ ته پخپل ځان بسیا ، ډاډ او په خپلو خانونو د اتکا درس را کوي، احساس او مورال مو را لوړوي. موږ باید د خپلې ژبې مدیون او عاشقان واوسو.

د همدې ژبې برکت دی چی زموږ د یووالي او وحدت احساس یو له بله ټینګېږي. زموږ ژبه کولی شي چی هر نازک، خیالی او پېچلي مطالب افاده کړي. موږ باید په دې پوه شو چی د خپلې ژبې د ټولو ارزښتونو او اهمیت سره سره تر اوسه پوری د خپلې ژبې د نیمګړتیاوو او پرابلمونو په برخه کی فکر کوو ، بیا هم په دې نه یو بریالي شوي چی حتی خپلې ژبې ته دی د ملی پرابلمونو سره ارتباط ورکړو.

زه غواړم دلته د نورو لیکوالانو په خلاف په دغه برخه باندی څه نا څه ولیکم. دا یواځی موږ نه یو چی د خپلې ژبې په باب فکر کوو او د یو لړ مشکلاتو او پرابلمونو د حل لارې چارې یې لټوو. په نړۍ کی داسی هېواد نشته چی ویونکي یې د خپلې ژبې د پرابلمونو د حل د لارو چارو په موندلو اخته نه وی.

ځینی هېوادونو په دې برخه کی څه نا څه بریالیتوبونه ګټلي او ځینی نور لا ورسره په کش ګیر کی دي. په هر صورت که دا پوښتنه را منځته کړو چی څه به پېښ شي چی د پښتو ژبې دا اوسني حروف په انګلیسی او یا د بلې ژبې په حروفو واوړي؟ ځیني کسان شته چی د پورتنۍ پوښتنې کلک ملاتړ دي. دوی تل دا خبره په خوله کی اړوي او را اړوي . ولی ځینی نور بیا د دې خبرې کلک مخالف دي. دا ځکه چی نن ورځ پښتون ټبر په دوو برخو ویشل شوي دي، ولی بیا هم په یوه ژبه خبرې کوي او په یو ډول حروفو لیک کوي.

که چیری دوی دا کار و نه کړي، نو به دا ناممکنه شي چی موږ دی د یو او بل لیک په روانه توګه سره ولوستلی شو ، مجلې، ورځپاڼې او نور نشرات دی په اسانه تعقیب کړو. همدا اوس په داسی حال کی چی په یو ډول حروفو لیکنې کوو ، بیا هم د لیک دود د نه وحدت او معیاریتوب له کبله د یوه بل خپرونو په برخه کی د ځینو مشکلاتو سره مخامخ کېږو. زما د دې خبرې یو غوره مثال د ۱۹۸۰ کال د اګست د میاشتې پنځمې نېټې هغه لیک دی چی د هغه ځای د لیکوالو او شاعرانو لخوا د یوه قلمی شعری کتاب د چاپولو لپاره په پېښور کی زموږ د قنسلګری له لارې د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو انستیتوت ته را لېږلی دی. په دغه لیک کی دوی لیکلي چی ستاسو په خپرو شویو او چاپی اثارو خو د لرې پښتونخوا عام اولس څه چی حتی

لیکوالان هم ښه نه پوهېږي.

نو که چیرې موږ خپل اوسني حروف واړوو، نو د دې کار عواقب به دا وي چې موږ به په لوی لاس سره پخپله د خپل اولس د خویونو، دودونو، کلتور او بالاخره د دغه اولس تر منځ د بېلتون او پردي کیدو یو لوی خلیج ایستلی وي.

هغوی چې د حروفو د بدلون ملاتړ کوي دا په نظر کې نه ده نیولې چې د دغه کار سره به زموږ د ساینس اوسنی انکشاف او کلتور څومره تاواني شي او وروسته لوېږي. دا ځکه چې حروف د ساینس او کلتور په وده کې زیات رول لري.

د حروفو د بدلون په ذریعه به زموږ ټول خلک یو دم بې سواده شي. هر سړی به دوباره دا هڅه کوي چې لیک او لوست د سره زده کړي. کتابونه او نور ټول نشرات باید د سره په نویو حروفو و لیکل شي تر څو پورې چې زموږ خلک د نویو حروفو د لوستلو، لیکلو سره اشنا کېږي. تر هغه وخته پورې به د ساینس، تکنالوژۍ، ادبیاتو او ارت په برخه کې خلکو ته د خپرونو له لارو تبلیغ کول، پوهول او تنویرول ناممکن او ځای په ځای ولاړ وي. دغه کار به موږ د بر کلونه د ساینس او کلتور په برخه کې شا ته و غورځوي. په اوسنیو شرایطو کې زموږ هېواد دې ته زیاته اړه لري چې ساینس او تکنالوژۍ ته زیاته وده او سراعت ورکړي. د همدې کبله به دا غوره وي چې موږ باید خپل اوسني مروج حروف استعمال کړو. د حروفو اړولو ملاتړ کوونکي دا نه شي درک کولی چې دغه بدلون د دغه اولس په ټولنیز ژوندون باندې څومره ناوړه اغیزه کوي. په دې برسېره دوی دا هم نه شي کولی چې د حروفو بدلون په څه ډول لاربښودنه وکړي، صحیحه او درسته لاره یې و سنجوي. دا سې فکر کېږي چې دغه کسان د حروفو د بدلون څخه پرته په پښتو ژبه او د اولس په ژوند پورې مربوط نور اړخونه یا نه دي مطالعه کړي او یا دا چې سر یې پرې نه دی خلاص شوی.

لغتونه 单词

حرف	/harf/	〈阿〉[阳]	字母
اصطلاح	/isti'la:(h)/	[阴或阳]〈阿〉	句，句子；固定的短语；成语

标准的；通用的，规范的（指语言）	［形］	/mi'ya:'ri:/	معیاری
特点，特征，特色	〈阿〉［阳］	/mushakhi'sa:t/	مشخصات
小组，团体；圈，界	〈阿〉［阴］	/hal'qa/	حلقه
感觉，知觉；理智，理性	〈阿〉［阳］	/shu''ur/	شعور
照明；教育，启发	〈阿〉［阳］	/tan'wi:r/	تنویر
劳动；服务	［阳］	/cho'par/	چوپړ
建造，组装；构造，结构	〈波〉［阳］	/sa:kht-'ma:n/	ساختمان
足够的，充分的	［形］	/basi'ya/	بسیا
支撑，支柱；依靠，指望	［阴］	/itti'ka:/	اتکأ
精神状态，士气	〈英〉［阳］	/mo'ra:l/	مورال
执行，奉行，实行，贯彻	〈阿〉［阳］	/ta''qi:b/	تعقیب
后果，结果	〈阿〉［阴］	/a:qi'bat/	عاقبت
立刻，马上	［副］	/yaw-'dam/	یودم

注释 تشریح

1 د محاورې نه لوېدلی لغات 在口语中已经消失了的词汇。

2 په لوی لاس سره 明确地；绝对地。

练习 تمرین

一、回答问题。

١- د پښتو ژبې د مشکلاتو د حل لپاره څومره پیشنهادونه په دې لیکنه کې وړاندې شوي دي ؟

۲- ژبه زمونږ په ژوند کې څه رول لوبوي ؟

۳- که د پښتو ژبې حروف په انګلیسی واوړي ، څه به پېښ شي ؟

۴- د دې لیکنې د لیکوال نظریه څنګه ده ؟

۵- ولی لیکوال پورتنې نظریه درلوده ؟

二、填空题。

۱- ملی کلتور موږ ته پخپل ځان بسیا ، ډاډ او ______________ درس را کوي، احساس او______________ . موږ باید د خپلې ژبې مدیون او عاشقان واوسو.

۲- ځیني کسان شته چی د پښتو ژبې حروف په انګلیسی اوښتل ______________ دي. دوی تل

______________ .

۳- همدا اوس په داسی حال کی چی په یو ډول حروفو لیکنې کوو، بیا هم د لیک دود د ____ او معیاریتوب له کبله د یوه بل خپرونو په برخه کی د ځینو مشکلاتو سره ______________ .

۴- د حروفو د بدلون په ذریعه به زموږ ټول خلک یو دم ______________ . هر سړی به دوباره دا هڅه کوي چی لیک او لوست ______________ .

۵- د حروفو بدلول به موږ ډېر کلونه د ساینس او کلتور په برخه کی ______________ .

三、连线题。

لاره چاره	لوړول
په ... کی	نیول
درس	سنجول
شعور	چوپړ کول
په نظر کی	ورکول
لاره	موندل

四、翻译句子。

۱- ژبه خپل ویونکي په یوه سرحدی حلقه کی ساتي. ژبه د شعور د لوړولو، تنویر او یوه بل په پوهولو

کی په زړه پوری چوپړ کوي.

۲- د همدې ژبې برکت دی چی زمونږ د یووالي او وحدت احساس یو له بله ټینګېږي. زمونږ ژبه کولی شي چی هر نازک، خیالی او پېچلي مطالب افاده کړي .

۳- ځینی هېوادونو په دې برخه کی څه نا څه بریالیتوبونه ګټلي او ځینی نور لا ورسره په کش ګیر کی دي.

۴- دا ځکه چی نن ورځ پښتون ټبر په دوو برخو ویشل شوي دي، ولی بیا هم په یوه ژبه خبرې کوي او په یو ډول حروفو لیک کوي.

۵- نو که چیری مونږ خپل اوسني حروف واړوو، نو د دې کار عواقب به دا وی چی مونږ به په لوی لاس سره پخپله د خپل اولس د خویونو، دودونو، کلتور او بالاخره د دغه اولس تر منځ د بېلتون او پردی کیدو یو لوی خلیج ایستلی وی.

五、讨论：如果把普什图字母改成拉丁字母，会对阿富汗社会产生什么样的影响?

دوهمه برخه

د پښتو ژبې د لیک دود په باب یو څو خبرې (۲)

(لیکوال: سر محقق عبدالرحیم ځدراڼ)

مونږ باید په دې پوه شو چی زمونږ په حروفو کی یو څه نیمګړتیاوی شته. دغه نیمګړتیاوی باید ډکې شي، ولی د حروفو په بدلون نه.

که چیری بیا هم مونږ دا غوښتنه وکړو چی خپل حروف واړوو، نو دغه کار به هغه وخت کوو چی لر و بر سره یو شي.

که چیری په اینده کی د حروفو بدلون وغواړو او ساینس او تکنالوژی ته په بین المللی سویه وده

ورکړو ، نو باید چې په حروفو پورې مربوطې ملي او بین المللي خواوې په نظر کې ونیسو.

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټک یم

اوس به راشو دې خبرې ته چې ایا موږ د نورو ژبو د لغاتو د مخنیوي په برخه کې څه ډول چال چلند غوره کړو؟ ایا موږ کولی شو د نورو ژبو د لغاتو او نومونو مخه ونیسو؟

موږ د ساینس او تکنالوژۍ په اوسني سریع پرمختګ کې نه شو کولی چې په دغه مقابله کې په بشپړه توګه بریالي شو. موږ باید بین المللي منل شوي مفاهیم کټ مټ ومنو. ولې دا د دې معنی نه لري چې موږ دې د نړیوال علم او پوهې چټک او ځپاند پرمختګ ته لاس تر زنې کښېنو. ولې اصله خبره دا ده چې د نومو او لغاتو ایښودلو کار دې څوک کوي؟ ایا دغه کار د یوه یا دوو تنو صلاحیت دی که نه؟ ایا که یو ، دوه یا یو څو تنه په خپل سر دغه کار وکړي څه ګټه لري؟

زما په عقیده دغه کار د یوه، دوو یا یو څو تنو کار نه دی، نه د یو ، دوو یا څو تنو کار عام کېږي. د نومونو ایښودل او د کلمو ټاکنه په ژبه کې د ژبپوهانو او باصلاحیته کسانو کار دی. هغه هم په هغه صورت کې چې پوره صلاحیت او تر شا یې د پاس کولو ، عام کولو او په کرسۍ باندې کښېنولو قوت ور سره ملګري وي تر څو په دې توګه سره یې اخبارونه او رادیو واخلي او لیکوالان یې په لیکنو کې استعمال کړي. لغات یا نوم باید په لوستلو کې سلیس، تلفظ یې اسان او زموږ د ژبې د جوړښت او ساختمان په نظر کې نیولو سره وي.

رېښې یې باید زموږ په ژبه کې وي. که چېرې موږ دا واک ولرو ، نو بیا هم دغه ټکی باید په نظر کې ولرو چې د کرښې نااشنا ، په تلفظ کې مشکل او یا داسې نوم یا لغت څخه چې په غوږونو بدلګېږي ډډه وکړو. موږ باید زیار وباسو چې ژبه عام فهمه کړو ، او د اولس د درک، پوهې او خبرو اترو سره یې زیاتې اړیکې ټینګې کړو. د کرښو نامانوسو ، مشکلو او داسې نورو کلمو او لغاتو استعمال او ټاکنې چې په غوږونو بد لګېږي او نااشنا وي د ژبې دپاره چوپړ نه دی، بلکې ژبه د خپلو ویونکو دپاره نااشنا کېږي او د عامه افهام تفهیم، تنویر او پوهې په لاره کې مشکلات او خنډونه اچول کېږي. په دې برسېره بیا هم باید په دې پوه وو چې زموږ دا ډول کار او عمل به لکه چې مخکې مو هم وویل د دې لر و بر قوم لپاره هم په لوستلو او درک کولو کې ستونزې

پېښېږي کړي. که چیرې لږ پښتنانه هم زموږ نوې کلمې، لغات او نومونه را سره ومني او استعمال يې کړي، خو ښه تر ښه. ولې که يې وانخلي دغه کار به بيا هم زموږ او دوی تر منځ د پوهولو را پوهولو او همدارنګه ملي پیوستون ته صدمه ورسوي.

موږ باید زیار وباسو چې زموږ د لیکلو او ویلو ژبې تر منځ نږدې والی او ورته والی وي، تر څو هم موږ او هم لوستونکو او اوریدونکو ته د مطلب په اخذه کې ستونزې نه وي.

په دې باید پوه شو چې زموږ د هېواد يو لږ زیات عام خلک زموږ د اوسنیو خپرونو څخه ښه مطالب نه شي اخیستی او وار د واره ښه نه پرې پوهېږي، دا ولې؟

دا ځکه چې موږ خپلو لیکنو او خپرونو ته لا تر اوسه پورې ملي رنګ نه دی ور کړی. موږ په خپلو لیکنو او خپرونو کې د ځان ښودنې له کبله ځینې داسې سختې کلمې او لغات استعمالوو چې زموږ عام اولس نه پرې پوهېږي. دغه کار زموږ خپرونې زموږ د خلکو څخه پردې کړې دي. موږ باید زیار وباسو چې خپلې لیکنې، خپرونې د خلکو لپاره وړاندې او استخدام کړو. هغه څوک چې په لیکنو کې د اولس پوهه، درک او د اخذې قوه په نظر کې نه نیسي، په حقیقت کې یوازې د خپل ځان او یا څو تنو لپاره لیکنې کوي او د اولس د تنویر او پوهې مخنیوی کوي. موږ باید داسې لیکنې وکړو چې اولس له هغه څخه په سکه سیخه توکه مطلب واخیستی شي او د مسئلې تل ته په کې ورسېږي.

اوس به راشو دې خبرې ته چې موږ د خپلو زړو متونو هغو لغاتو په برخه کې چې اوس لږ استعمالېږي او یا نه استعمالېږي، په لیکنو کې بېرته د عامولو او استعمال لپاره کار واخلو او که نه؟

موږ باید دا کار وکړو: هغه لغات چې اوس په ځینو محاورو کې شته باید په لیکنو کې د استعمال زیاته برخه ور کړو او زیار وباسو چې عام یې کړو. کوم لغات چې اوس هم په محاوره او هم په لیکنو کې د استعمال څخه کرټ لوېدلي دي، که چیرې رټ نااشنا او کریح نه وي، د لیکنې ډګر ته راوباسو تر څو زموږ د اولس غوږونه ور سره ورو ورو اشنا په محاوره او لیکنه کې ځای ونیسي. ولې بیا هم موږ باید خپل ملي مسایل په نظر کې ونیسو او خپلې ټولې کړنې او پرېکړې د هغوی په نظر کې نیولو په اساس وکړو او زاړه لغات زموږ د ژبې مال دی، د هغو راوړل ژبه غني کوي او غوره کار دا دی چې موږ د خپلې ژبې د پخواني رنګ او قوت سره هم اشنا کوي او دا پر ځای کار دی او باید تر سره شي.

注释 تشريح

1. د ... په لاره کې خنډونه اچول 给……设置障碍。

2. په ... کې ځای نیول 在……领域占据。

单词 لغتونه

上面和下面；整个	[副]	/lar'bar/	لربر
快的，迅速的	〈阿〉[形]	/sa'ri'/	سریع
概念；理解	[阳]	/mafa:'hi:m/	مفاهیم
音节	[阳]	/sli:s/	سلیس
根；基础	[阴]	/re'ha/	رېښه
完全，彻底地	[副]	/krut/	کرټ
生僻的	[形]	/na:ma:'nu: s/	نامانوس
解释，说明	〈阿〉[阳]	/if'ha:m/	افهام
接受	〈阿〉[阳]	/akhz/	اخذ
明显的，显著的	[形]	/rət/	رټ
损害，伤害，损失	[阴]	/sada'ma/	صدمه
结合；衔接；情谊，亲近	[阳]	/paiwas'tun，pewas'tun/	پیوستون

练习 تمرین

根据课文回答问题。

۱- د پښتو په حروفو کې د نیمګرتیاوو په باره مونږ باید څه وکړو ؟

۲- که په راتلونکی کې د حروفو بدلون غواړو ، څه به وکړو ؟

۳- ایا مونږ کولی شو د نورو ژبو د لغاتو مخه ونیسو ؟

۴- د لیکوال په نظر د نورو ژبو د لغاتو ایښودلو کار باید څوک وکړي ؟

۵- د لیکوال په نظر د لغات کومه برخه باید د پښتو وي ؟

۶- د نورو ژبو د لغاتو ایښودلو په ترڅ باید له کومې قاعدې سره سمون وخورو ؟

۷- که لر پښتانه نوی کلمې او لغات و نه مني ، څه به پېښ شي ؟

۸- ولی د افغانستان یو لږ زیات عام خلک په اوسنیو خپرونو نه پوهېږي ؟

۹- د لیکوال په نظر د زړو متونو لغات په لیکنو کې بېرته د استعمال لپاره کار واخلو که نه ؟

۱۰- د دې مسئلې په باره ستا نظر راته ووایئ.

څلورم لوست

لومړی برخه

د پښتو ژبې دوه نامتو اديب

(۱) خوشحال خان خټک

بچو! تاسو به د خوشحال خان خټک نوم اورېدلی وي. خلک يې د ډېرې مينې نه په خوشحال بابا يادوي. دی د خټک قبيلې د يو لوی سردار شهباز خان زوی و. په ۳۱۲۱ع کښې د نوښار ضلعې په اکوړه خټک کلی کښې پيدا شوی و.

خوشحال بابا د پښتو ژبې يو نامتو اديب او شاعر و. د ده زيات کلام په پښتو کښې دی. په عربۍ او فارسۍ هم پوهېده. په فارسۍ کښې يې هم شعرونه شته. قران، حديث او نور ډېر علمونه يې هم زده وو. د يو کتاب نوم يې "فصل نامه" دی. دی کښې يې ديني مسئلې راغونډې کړې دي. دوه ديني کتابونه "هدايه او کفايه" يې هم په پښتو کښې ترجمه کړل.

خوشحال بابا د پخې عقيدې خاوند او يو رښتونی مسلمان و. د الله او رسول سره يې ډېره مينه وه. د خوشحال بابا په حقله حضرت کاکا صېب فرمائيلې وو چه په دې زمانه کښې ما ته د خوشحال خان خټک غونډې د پخې عقيدې خاوند او په شرع برابر بل هيڅوک نه ښکاري.

خوشحال بابا په سخاوت کښې ډېر مشهور و. د زړه د اخلاصه به يې د غريبانو مدد کاوه. يو ځل ده د خپل زوی سره په غريبانو پيسې وېشلې. د سحر نه تر ماښامه يې پيسې ووېشلې. دې سره يې ګوتې تورې شوې. زوی ته يې وويل : څوک چه پيسې وېشي نو لاسونه يې پرې تورېږي او څوک يې چه جمع کوی د هغوی زړونه تورېږي.

د دې نه پته لګي چه خوشحال بابا څومره سخی و، بخل يې څومره بدی شوه. خوشحال بابا د اعلی اخلاقو خاوند و. نورو ته يې هم د ښو اخلاقو درس ورکولو لکه چه وايي:

د هر چا سره نرمی ملائمت کړه

ګوندې وی چه په دا خپل کړې د چا زړونه

د مومنانو په حقله وايي: چه د مومنانو مذهب دا نه دی چه د ځان دپاره نيکی خوښه کړی او د بل دپاره بدی.

بل ځای وايي: که غواړې چه تا ته څه مصيبت در پېښ نه شی. نو مه بد وايه،مه بد ښايه او مه د بدو سوچ کوه. خوشحال بابا يو رښتونی او کره سړی و. فرمائی :

جنت د چا دی، د صادقانو دی

دوزخ د چا دی، د کاذبانو دی

خوشحال بابا يو بهادر سپايي او ماهره سر لښکر و. ډېر جنګی هنرونه يې زده و لکه غشی ويشتل، نېزه بازی، شهسواری لامبو وهل او داسی نور هنرونه. د مظلوم ملګری او د ظالم خلاف و. باطل ته يې چرې هم سر نه دی ټيټ کړی. خوشحال بابا تل د حق دپاره جنګېده او فخر به يې پری کاوه.

د خوشحال بابا کلام د زړورتيا ، تهدرۍ، ازادۍ او خودداری سبق دی. هغه غوښتل چه خپل قام په اتفاق کړی او دښمن ته فولادی دېوال شی. په اخری عمر کښې يې ويل :

که توفيق د اتفاق پښتانه مومی

زوړ خوشحال به دوباره شی په دا ځوان

خوشحال بابا د ۸۷ کالو په عمر کښې وفات شو. مزار يې د ايسوړو د کلی سره جوخت د غره په لمن کښې دی.

(۲) رحمان بابا



رحمان بابا د پښتو ژبې یو نامتو او عالمګیر شاعر دی. پوره نوم یې عبدالرحمان دی خو خلک یې د مینې نه رحمان بابا یادوي. رحمان بابا په قام مومند، د عبدالستارخان زوی او د پېښور سره نژدې په بهادر کلی کښې پیدا شوی و. د خپلې زمانې د لویو لویو عالمانو نه یې دیني او نور علم کړی و. هم د دې علم وجه ده چه د رحمان بابا کلام لولئ نو داسې به درته محسوسېږي لکه چه په قران او حدیث کښې د ورکړی شوو هدایاتو تشریح کوي.

رحمان بابا د نن نه تقریباً درې سوه کاله مخکښې پیدا شوی و. په هغه زمانه کښې په هندوستان باندې د مغول د شاه جهان بادشاه او بیا د اورنګزیب عالمګیر حکومت و. دې چرې هم د بادشاهانو دربار ته نه و تللی. دې پخپله فقیرۍ کښې پخپله یو بې تاجه بادشاه و چه د خلکو په زړونو یې حکومت کاوه. ده به په دې فخر کاوه او ویل به یې:

بادشاهي د ګدایانو په دعا شي　　زه رحمان هله بادشاه شوم چه ګدا شوم

رحمان بابا یو درویش سړی و. د دنیا د رنګینو سره یې بلکل نه لګېده. ځکه یې خپل کلی پرېښود او د هزار خوانۍ په یوه شاړه کښې دېره شو. خپله درویشي یې ډېره خوښه وه او ویل به یې:

هر بهار لره خزان په جهان شته دی　　خزان نه لري بهار د درویشانو

د رحمان بابا په دې پوخ یقین و چه انساني ژوند صرف او صرف د حضرت محمد په تعلیماتو عمل کولو سره ځلانده کېدلی شي. رحمان بابا نه صرف پخپله یو رښتوني مسلمان و بلکې خلکو ته به یې هم د خپلو شعرونو په ذریعه په اسلامي هدایاتو د عمل کولو نصیحت کاوه.

رحمان بابا د انسانیت شاعر دی. کلام کښې یې د یو بل سره د مینې، ورورولۍ او انسان دوستۍ

درس دی.

رحمان بابا غوښتل چه په دنیا کښی هرې خوا ته صلح او امن وی. خلک ازارول به یي لویه ګناه ګڼله لکه چه فرمایي:

چه د اور لمبو وهلی وی بیا روغ شی　　　نه رغېږی د ازار لمبو وهلی

او په بل شعر کښی فرمایي:

په ازار د چا راضی مه شی رحمانه　　　که خلاصی په قیامت غواړې له عذابه

رحمان بابا په خپل کلام کښی ساده او اسانه ژبه استعمال کړې ده. هر څوک پرې ښه پوهېږي. د پښتنو حجرې خو اکثر د رحمان بابا په کلام ګرمې وی. د جماعتونو امامان صاحبان خو د قران او حدیث سره دا هم په خپلو تقریرونو کښی لولی. چه تقریرونه یي زیات اثر ناک او خوندور شی.

رحمان بابا که هر څو په سوونو کاله پخوا تېر شوی دی خو نن هم د خلکو په زړونو کښی ژوندی دی. د ده په مزار تل ګڼه ګونه وی او هر کال یي په مزار باقاعده عرس کېږی. ډېر مئینان او سندر غاړی د ده کلام په خپلو خوږو اوازونو او د رباب په نغمو کښی وایي. ادیبان او شاعران یي په ژوند او فکر تقریرونه او مشاعرې کوی.

د رحمان بابا په مزار د ګڼې ګونې نه د ده دا پېشګویي رښتیا ثابتېږی:

هو مره خلک یي زیارت کاپس له مرګه　　　چه بازار وی په مزار د درویشانو

لغتونه 单词

بخل	/bakhl/	〈阿〉[阳]	吝惜，悭吝
ملائمت	/mula:yi'mat/	〈阿〉[阳]	柔软，柔和，细嫩；温和，温柔
مؤمن	/mu''min/	〈阿〉[阳]	信仰者，笃信者，信徒；正统的伊斯兰教徒，纯粹的穆斯林
صادق	/sa:'diq/	〈阿〉[形]	诚实的，诚恳的，真挚的，坦白的；真实的，实在的，正确的

地狱	〈波〉[阳]	/do'zakh/	دوزخ
假的，说谎的	〈阿〉[形]	/ka: zib/	کاذب
词，语言，话；祷文，祷告	〈阿〉[阳]	/ka'la:m/	کلام
使适合，协调；调解，使和睦；成功，成就	〈阿〉[阳]	/tau'fi:q/	توفیق
衔接起来的，连接在一块儿的；成对的，成双的	[形]	/jukht/	جوخت
描写，叙述，解释，说明，注释；分析，剖析	〈阿〉[阴]	/tash'ri:(h)/	تشریح
王冠	〈波〉[阳]	/ta:j/	تاج
未开垦的土地	[阴]	/'sha:ṛa/	شاړه
春，春天	〈波〉[阳]	/ba'ha:r/	بهار
秋，秋季	〈波〉[阳]	/kha'za:n/	خزان
指示，教训，训导，指导	〈阿〉[阳]	/hida:'yat/	هدایت
忠告，劝告，意见，主意，指示，教训，训诫	〈阿〉[阳]	/nasi'hat/	نصیحت
伟大，宏伟，崇高，庄严；光荣，荣誉；自豪，骄傲	〈阿〉[阳]	/'aza'mat/	عظمت
客厅，会客室（农村中为客人准备的房间）；房间，住房，卧室	〈阿〉[阴]	/huj'ra/	حجره
伊斯兰教堂，清真寺	〈阿〉[阳]	/jama:''at/	جماعت
阿富汗的六弦琴	[阳]	/ra'ba:b/	رباب

注释 تشريح

1 خوشحال خان ختېک 胡什哈尔·汗·哈塔克（1613—1691年），生于白沙瓦附近的西莱村。是普什图语最伟大的诗人和散文家，被称为"普什图文学之父"，也是17世纪反抗印度摸我儿王朝统治的民族英雄。哈塔克一生留下了大量诗歌作品，被后人收入《胡什哈尔·哈塔克诗集》，共4万联句。

2 رحمان بابا 拉赫曼·巴巴（约1663—1739年），生于今巴基斯坦白沙瓦地区的巴哈杜尔村，是伟大的苏菲派普什图语诗人，被誉为普什图文学的先驱，著有《拉赫曼·巴巴诗集》。他的诗大部分是爱情诗，情调忧郁悲怆。诗歌语言流畅，通俗易懂，扣人心弦，韵味无穷，很多诗句长期在人民口头中流传。著名诗篇有《盛着爱情琼浆的酒坛》、《美人儿并不需要我》和《爱情的来信》等。

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- د خوشحال بابا کوم کوم علمونه زده وو؟

۲- خوشحال بابا په کوم کوم هنرونو کښې مهارت لاره؟

۳- رحمان بابا د شاهانو دربار ته ولې نه تله؟

۴- رحمان بابا څنګه ژوند تېر کړی دی؟

۵- رحمان بابا ارزو څه وه؟

二、填空题。

۱- د دې نه پته لګي چه خوشحال بابا څومره سخی و، بخل او ________ يي څومره بدی شوه.

۲- د پر جنګی هنرونه يي زده و لکه غشی ________، نېزه بازی، شهسواری لامبو ________

او داسې نور هنرونه.

۳- رحمان بابا په قام مومند، د عبدالستارخان زوی او د پېښور سره نژدې په بهادر کلي کښې ________ و.

۴- رحمان بابا نه صرف پخپله یو ________ مسلمان و بلکې خلکو ته به یې هم د خپلو شعرونو په ذریعه په اسلامي هدایاتو د عمل کولو نصیحت کاوه.

۵- رحمان بابا که هر څو په ________ پخوا تېر شوی دی خو نن هم د خلکو په زړونو کښې ژوندی دی.

三、判断对错。

۱- خوشحال خان خټک له رحمان بابا څخه وختې پیدا شوی و.

۲- د خوشحال بابا ټول کلام په پښتو کښې وو.

۳- خوشحال بابا او رحمان بابا قران او حدیث زده کړی و.

۴- رحمان بابا یو پاکستاني و.

۵- رحمان بابا یو سپېڅلی مسلمان و.

四、翻译句子。

۱- د خوشحال بابا په حقله حضرت کاکا صېب فرمائېلي وو چه په دې زمانه کښې ما ته د خوشحال خان خټک غوندې د پخې عقیدې خاوند او په شرع برابر بل هیڅوک نه ښکاری.

۲- زوی ته یې وویل: څوک چه پیسې وېشي نو لاسونه یې پرې تورېږي او څوک یې چه جمع کوی د هغوی زړونه تورېږي.

۳- د هر چا سره نرمي ملائمت کړه ګوندې وی چه په دا خپل کړې د چا زړونه

۴- د مومنانو په حقله وایي: چه د مومنانو مذهب دا نه دی چه د ځان د پاره نیکي خوښه کړی او د بل د پاره بدي.

۵- په ازار د چا راضي مه شې رحمانه که خلاصی په قیامت غواړې له عذابه

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

د قائد ژوند



قائد اعظم محمد علی جناح د ور کوټی والی نه ډېر ذهین و. د صفائی به یې ډېر خیال ساته. په لوبو کښې به یې هم لاسونه او جامې نه ګنده کولې. ملګری به یې چه کله په بلورو (شینولو) کولو ولیدل، نو ور ته ویل به یې چه یوه داسې لوبه ولې نه کوو چه جامې او لاسونه مو پکښې نه ناولی کېږی. بس ده یو پنډوس او بېټ واخست او ټولو به د ده په مشرۍ کښې کرکټ کاوه.

د لوبو نه علاوه د سبق سره هم د محمد علی جناح ډېره مینه وه. لاټېن ته به یې د شپې تر ناوخته مطالعه کوله. که هم دغې کمره کښې به خوېندې ورونړه ور سره وو، نو د لاټېن مخې ته به یې ګته ودروله چه رڼا دوی د خوبه ونه باسی. یوه شپه چه دی سبق ته ناست و نو یوې خپلوانې ښځې ور ته وویل چه نور بس کړه اوده شه. ډېره شوګیره به دې ناجوړه کړی. محمد علی جناح جواب ورکړ چه تروري! که مطالعه و نه کړم نو غټ سړی به څنګه جوړېږم.

قائد اعظم خواری کوله او د کامیابۍ په لور روان و. غوښتل یې چه د قانون تعلیم وکړی. دې دپاره هغه لندن ته لاړ. هغه وخت په لندن کښې د قانون د تعلیم څلور اداری وې چه یوه یې "لېنکنز ان" وه.

قائد اعظم د "لېنکنز ان" په یو دېوال د دنیا د لویو شخصیتونو لیکلی شوی نومونه لوستل. د ده روښانه څېره او د ذهانت نه ډکې سترګې ځلېدې. د قانون د تعلیم یوه اداره یې خوښوله. ناڅاپه یې د ړومبی نوم په لوستلو سترګې روښانه شوې. دغه نوم ده ته د ډېرې ګرانې هستۍ حضرت محمد و. محمد علی جناح سمدستی هم دغلته د داخلې فېصله وکړه. د دې نه د رسول الله سره د ده د مینې اندازه ډېره ښه لګی.

وخت هم دغسی تېرېد. محمد علی جناح ټوله توجه سبق ته ور کړې وه. زیات وخت به یې د لکچرونو په

اوربدو او په کتاب خانو کښې د دنیا د لویو شخصیتونو د ژوند د حالاتو په لوستلو کښې تېرېد. د لندن په مشهور هائډ پارک کښې به يې د خلکو تقريرونه هم اورېدل. اخر يې خوارۍ ځای ونيوه او د وکالت ډګرې يې واخسته.

محمد علی جناح که غوښتلی نو په لندن کښې به يې ډېر دولت او شهرت ګټلی وی. خو د وطن بې کچه مينې خپل وطن ته واپس راوست چه د وطن او وطنيانو خدمت وکړی.

قائد اعظم محمد علی جناح د خپلو ښو عادتونو، قابليت او ذهانت په وجه د مور او پلار د سترګو تور و. په ورونو او خوېندو کښې د ټولو نه مشر او د فخر وړ و. خوېندې ور باندې ډېرې ګرانې وې او ډېر خيال به يې ساته. محمد علی جناح به چه څه فېصله وکړه نو ټينګ به پرې ولاړ و. په دغه زمانه کښې په مسلمانو جينکو تعليم کول رواج نه وو. د دې باوجود هغه خپله وړه خور فاطمه جناح په انګريزی سکول کښې داخله کړه او په هاسټل کښې يې دېره کړه. دی به هر اتوار په اس سور د هغې ليدلو ته ورتله. فاطمه جناح به چټيانې ورور سره تېرولې. د ورور د کوشش او خپلې خوارۍ د برکته فاطمه جناح د غاښونو ډاکټره شوه. د محمد علی جناح د ښځې رتی بائی د وفات نه پس فاطمه جناح ورور سره وه او د هغه خيال به يې ساته. او په هر حالت کښې يې مل وه. قائد اعظم به هم په خپله خور ډېر نازېده.

د قائد اعظم طالب علمان ډېر خوښ و او د "پاکستان معماران" يې ګڼل. د هغه دا هيله وه چه مسلمان طالب علمان دې د ژوند په هر اړخ کښې معلومات ولری. د طالب علمانو هم ده سره ډېره مينه وه. قائد اعظم به چه کله علی ګړ ته راغله، نو طالب علمان به د رېلوی سټېشن نه تر يونيورسټۍ پورې د ده د ګاډی سره پياده روان وو. کله به چه کوم طالب علم قائد اعظم ته د ليدلو دپاره ورغی او په چټ به يې "طالب علم" ليکلی و، نو قائد به هغه فوراً راوغوښت. په دغه شان ځوانان ور سره ورځ په ورځ نزدې کېدل. يو ځلې يو طالب علم د قائد اعظم په وړاندې د قائد اعظم د تقرير نقل وکړ. قائد اعظم ته يې دومره خوند ورکړ چه خپله ټوپۍ او چشمې يې هغه ته ور کړې او و يې فرمائېل چه د دې سره به د نقل خوند لا زيات شی.

قائد اعظم تعليم ته د هر څه نه زياته توجه ور کوله. هغه غوښتل چه هر مسلمان تعليم حاصل کړی. هغه فرمائېلی دی چه "تاسو د خپل ځان، د مور، پلار او وطن سره انصاف هله کولی شئ چه خپله ټوله توجه ليک لوست ته ورکړئ."

قائد اعظم د يو طالب علم د خط په جواب کښې ليکلې دی چه تاسو د تعليم په دوران کښې تعليمی سر گرميو سره سره ډېر څه کولی شئ. دا زمانه ستاسو د علم کولو ده. دې دپاره به تاسو ډېره خواری کوئ. که ستاسو څو تعليمی کلونه ضايع شول نو دا به هيڅ کله واپس را نه شی.

يو ځل قائد اعظم ته طالب علمانو يوه توره تحفه ور کړه. دوی و فرمائېل، "دا توره چه تاسو را کړه دا به صرف د حفاظت دپاره اوچتېږی. خو فی الحال ستاسو دپاره چه څه ضروری دی هغه تعليم دی. علم د تورې نه زيات طاقتور دی. لاړ شئ او علم حاصل کړئ."

لغتونه 单词

泥泞的，泥污的，不洁的，使人厌恶的，没洗的	［形］	/na:'wəlai/	ناولی
球	［阳］	/pan'ḍos/	پنډوس
黑夜，黄昏，暮色	〈波〉［阳］	/sho'gir/	شوگیر
财富，财产，所有物；存在，生存	［阴］	/has'ti:/	هستی
全权，全权证书；代理，代替；代表职位，代表资格，代表机构	〈阿〉［阳］	/waka:'lat/	وکالت
能力，本领，才能，技能	〈阿〉［阳］	/qa:bili'yat/	قابلیت
创造者，创建者	〈阿〉［阳］	/mi''ma:r/	معمار
公正，公平，公道；正义	〈阿〉［阳］	/in'sa:f/	انصاف
失去，失掉；损失，丧失	〈阿〉［阴］	/za:i''a/	ضایع
守卫，保卫；保护	〈阿〉［阳］	/hifa:'zat/	حفاظت
立刻，马上	〈阿〉［副］	/fil-'ha:l/	فی الحال
有力的，强大的	〈波、阿〉［形］	/ta:qat-'war/	طاقتور

注释 تشريخ

1 محمد علی جناح 穆罕默德·阿里·真纳（1876—1948年），在巴基斯坦也被正式称为：قائد اعظم，即“伟大领袖”，巴基斯坦国家缔造者、政治活动家，巴基斯坦第一任总督（1947—1948年），巴基斯坦人民尊称他为“巴基斯坦之父”。

2 لېنكنز ان 林肯律师学院（Lincoln’s Inn），是英国伦敦四所律师学院之一，坐落于伦敦卡姆灯自治镇的霍本。

3 د سترګو تور 很爱……

4 رتی بائی 拉坦白，真纳的第二任妻子。

练习 تمرين

单项选择题。

۱- د جناح په هکله لاندې خبرې کومه غلطه ده؟

الف) جناح د پاکستان جوړونکی ګڼل شو.

ب)جناح لوبه کول نه خوښ کړل.

ج) جناح د کرکټ کول خوښ کړل.

د) جناح ډېری خواری وکړی چه لاتېن يي زده کړ.

۲- په دغه مقاله کښې د "غټ" معنی څه ده؟

الف)ورت

ب) وسمن

ج) پیاوړی

د) ستر

۳-قائد اعظم د قانون د تعلیم کول د پاره چېرته ولاړ ؟

(الف) امریکا

(ب) انګلیز

(ج) جرمنی

(د) فرانس

۴- د لېنکتر ان په یو دېوال څه لیکلی شوی دی ؟

(الف)د قائد اعظم نوم

(ب)د خضرت محمد نوم

(ج) د دنیا دلویو شخصیتونو لاسلیکونه

(د) د دنیا دلویو شخصیتونو اسمونه

۵- په لېنکتر ان کښی قائد اعظم څنګه وخت تېر شو ؟

(الف) هغه یوازی په دغه اداره کښی درس ولوست او نور ځایونه ته و نه لاړ.

(ب) هغه زیات وخت لکچرونه واورېدل.

(ج) هغه په کتاب خانه کښی د دنیا د لویو شخصیتونو د ژوند د حالاتو په لوستلو کښی تېر شو.

(د) هغه ټوله توجه سبق ته ورکړې وه.

۶-د "خوېندی ور باندی ډېرې ګرانې وې او ډېر خیال به یې ساته." معنی څه دی ؟

(الف) 真纳很爱自己的姐妹，并且保护她们。

(ب) 真纳的姐妹很爱他，并且保护他。

(ج) 真纳很爱自己的姐妹，并且很照顾她们。

(د) 真纳的姐妹很爱他，并且很照顾他。

۷- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه درسته ده ؟

(الف) محمد علی جناح د دولت او شهر د پاره خپل وطن ته واپس راوست.

(ب) محمد علی جناح یو بلند همت سړی و.

ج) په هغه وخت کښې ډېرو مسلمانو جينکو سکول ته تعليم وکړ.

د) د محمد علی جناح د ښځې د وفات نه وروسته فاطمه جناح له ورور سره واده وکړ.

۸- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه غلطه ده ؟

الف) محمد علی جناح د پاکستان لومړی ولسمشر و.

ب) محمد علی جناح دا هيله ولاره چه مسلمان طالب علمان دې د ژوند په هر اړخ کښې معلومات ولرى.

ج) کله چه قائد اعظم علی ګړ ته راغله، طالب علمان د رېلوی سټېشن نه تر يونيورسټۍ پورى د ده د ګاډی سره پياده روان وو.

د) ځوانان له محمد علی جناح سره ورځ په ورځ نزدی کېدل.

۹- په دغه مقاله کښې د " طالب علم " معنی څه ده؟

الف) 学生

ب) 知识

ج) 宗教学生

د) 宗教学者

۱۰- د محمد علی جناح په زړه کښې څه ډېر مهم ځای درلود؟

الف) پول

ب) ننګه

ج) ملا

د) تعليم

第五课

پنځم لوست

لومړی برخه

په افغانستان کې د مغلو یرغلونه

د مغلو قوم تاریخ د چنګېز د راپیدا کېدو سره پیل کړي . د چنګېز اصلي نوم تموچین دی، پلار یې یوسکای نومېده ، په ۱۱۶۷ ع او ۳۶۵ ه ق کال کې د امو رود د برې درې په ښی غاړه کې زېږېدلی دی . د چنګېز لقب یې چې د جنګیالی په معنی دی ، ځان ته غوره کړ .

ده لا هغه وخت چې زلمی و ، خپل زړورتوب او نارینتوب خپل قوم ته ښودلی و . شاوخوا تیتې او خپرې قبیلې یې ځان ته تابع کړې وې . او په ۸۹۵ هجری کال کې په تخت کښیناست .

چنګېز په قراقرم کې خپل پلازمینه جوړه کړه او د خپل سلطنت په لومړیو کلونو کې یې شمالي چین تر پیکنګ پورې او سایبریایې تر روسي ترکستان پورې ونیول . په دې وخت کې چې د مغلو حکومت مخ په پیاوړتیا او پراخېد و ، په منځنۍ اسیا کې راز راز اختلافونه موجود وو چې په پای کې همدغه اختلافونه د منځنۍ اسیا د دولتونو د کمزورې کېدو لامل شول ، ځکه یې و نشو کړای چې د چنګیز د یرغلونو مخه ونیسي . له دې امله د اسیایی ملکونو زیاته برخه د چنګېز تر اداري لاندې راغله .

د منځنۍ اسیا د لویو او زور ور دولتونو څخه یو د خوارزمشاهانو دولت و . د دې دولت مشر محمد

خوارزم شاه و . ده د خپل دولت د شاوخوا ملکونو ډېرې برخې ونیولې ، په دې وخت کې د افغانستان او شمالي هند ځینې برخې د غور د پاچاهنو په قبضه او ګرت کې وې . خو محمد خوارزمشاه د ډېر کبر او لویې له مخې پخپل ځنګ کې د یو بل لوی دولت اقتدار نشو زغملی . نو کله چې شهاب الدین غوري د هند په فتوحاتو بوخت و فرصت یې غنیمت وګاڼه او په غوریانو یې برید وکړ . افغانستان یې د غوریانو له منګولو څخه خلاص کړ .

چنګېز چې د خوارزم شاه په قوت او طاقت پوه و ، هیله یې لرله چې د دې ګاونډي دولت سره سیاسي او تجارتي اړیکې ولري . محمد خوارزم شاه هم خپل استازي د چین په لورې ولېږل چې د مغلو د خان له خوا یې ډېر تود هرکلی وشو ، د مغلو خان هیله درلوده چې دواړه خواوې خپل مالونه په ازاده توګه د یو او بل په ملکونو کې خرڅ کړي ځکه یې خپل استازي د ډېرو سوغاتونو سره د خوارزم شاه دربار ته ولېږل . خو خوارزم شاه بې فکري وکړه او د لویې شهوي مرتکب شو ، ځکه چې د مغلو هیئت یې لومړی سپک او وروست په قتل ورساوه . له دې کبله د چنګیز د قهر او کینې اور په لمبو شو او د یرغل تیاری یې ونیو . د خورا زیات لښکر سره مخ په خوارزم را وخوزید شو او خپل یرغل یې په ۶۲۵ هجري قمري کال کې پیل کړ . چنګیز له ټولو لومړی د اترار ښار ونیو او د بخارا له لوري وړاندې ولاړ ، بخارایې ډېره اسانه ونیوله او دومره تاوانونه یې ورواړول چې قلم یې د لیکلو توان نه لري . بیا یې د سمرقند په خوا مخ وګرځاوه چې په لار کې یې چې هر څوک ولیدل ، ټول یې ووژل او هر ځای ته چې ورسید ، وران یې کړ او څومره مال یې چې ولید ، لوټ یې کړ . په خوارزم شاه پسې یې سړي ولېږل . خوارزم شاه چې د مقابلې زور په ځان کې و نه لید ، لومړی افغانستان او بیا طوس ته ولاړ او د هغه ځای نه عراق ته وتښتید . خو څرنګه چې مغل د هغه په لټه کې وو ، ځکه نو دی د ابسکون ټاپو ته چې د خزر د جزاېرو څخه دی ، ولاړ . چنګېز له دې کبله چې خوارزم شاه یې پیدا نه کړ ، د هغه کور کهول او کورنۍ یې ترتېغ تېر کړل . چنګېز د خوارزم له نیولو نه وروسته د امو د سیند څخه تېر شو او بلخ ته راغی . میمنه او اندخوی یې ونیول .

په دی وخت کې جلال الدین خوارزم شاه چې د پلار په ژوند د غزني حاکم وغوښتل چې د خپل پلار پور له چنګېز څخه واخلي . ځکه نو خلک یې د چنګېز د عسکرو په خلاف وپارول او په هر ځای کې یې د چنګېزیانو په مقابل کې جګړې پیل کړې . په پروان کې چنګېزیانو ماتې وخوړه . بل جنګ په بامیانو کې وشو ، چې د

چنګېز لمسی د ضحاک په ښار کې ووژل شو . خو د محمد د سردارانو د ځان د ځانۍ او بې اتفاقۍ په وجه چنګېزیان غالب شول .

دوی جلال الدین د ماتې سره مخامخ کړ . د غلغلې ښار یې وران او عامه وژنه یې وکړه . جلال الدین مجبور شو چې د اندس (سند) د رود په لورې په شا ولاړ شي ، د مغلو عسکر په هغه پسې شول ، د سند د رود په غاړه دواړو تر منځ سخته جګړه ونښته . جلال الدین چې بله چاره و نه لیده ، نو خپل ځان یې سیند ته وغورځاوه او په اس باندې له رود څخه تیر شو . د هغه ځای څخه ایران ته راغی او د دوهم ځل لپاره یې بیا د مغلولو سره په جګړه پیل وکړ . ښه بری یې په برخه شو ، خو په ۸۲۲ هجري ق کال کې ناڅاپا په کردستان کې ووژل شو . کومې ورانۍ چې چنګېز په اسلامې نړۍ کې په عمومي توګه او په تېره زمونږ په ګران هېواد کې کړی دي ، د يو شمیر تاریخ لیکونکو په نظر او عقیدې به په زرو نورو کلونو کې هم د هغو ځای و نه نیول شي . چنګېز له ډېرو وینو تویولو نه وروسته په ۴۲۲ هجري ق کال کې مړ شو .

چغتای د چنګېز بل زوی د پلار د مړيني وروسته په ماورا النهر ، بدخشان ، بلخ او غزني حکومت کاوه چې د چغتای څخه وروسته د هغه اولادونو کې ځان ځاني او بی اتفاقی پیدا شوه . تر څو چې د هغو وروستی حاکم تیموریې په ۱۷۷ هجري کې له پښو وغورځاوه .

单词 لغتونه

把柄，把手；具有，占有	〈阿〉[阴]	/qab'za/	قبضه
（手）指缝	[阳]	/grot/	ګرت
骄傲，傲慢，尊大，不逊	〈阿〉[阳]	/kibr/	کبر

力气；能力；势力；管辖，控制	〈阿〉[阳]	/iqti'da:r/	اقتدار
战利品	〈阿〉[阳]	/ghani'mat/	غنيمت
疏忽，马虎；错误，差错；失策	〈阿〉[阳]	/sahw/	سهو
犯罪的；作孽的；破戒的	〈阿〉[形]	/murta'qib/	مرتکب
憎恨，痛恨，仇恨；愤恨	〈波〉[形]	/ki:'na/	کينه
家庭；氏族，家族	[阳]	/ka'hul/	کهول
弯形的马刀（军刀）	〈波〉[阳]	/ki:'na/	تيغ
债，债务；信贷，信用；借贷	[阳]	/por/	پور
唆使，教唆；挑拨	[及]	/pa:ra'wəl/	پارول
个人的；身体上的	[形]	/dza:'ni:/	ځانی
获得胜利的，占上风的	〈阿〉[形]	/gha:'lib/	غالب
意见，见解，看法	〈阿〉[阴]	/'aqi'da/	عقيده

注释 تشريح

1 چنگيز 成吉思汗（1162—1227年）。13世纪，蒙古人的征服是阿富汗历史遭受的最大灾难之一。蒙古大军铁蹄过后，阿富汗繁华的城市几乎全被夷为平地或烧成灰烬。文明遭到了破坏，科学和文学的发展受到了沉重的打击。

2 خوارزم 花剌子模，是一个位于今日中亚西部的地理区域，在塞种人的语言里解释为“太阳的土地”的意思。12世纪，花剌子模王朝在这一地区诞生，强盛时期其版图囊括中亚河中地区、呼罗珊地区和伊朗高原大部。1231年亡于蒙古帝国。

تمرین 练习

一、回答问题。

۱ - چنګېز د خپل سلطنت په لومړیو کلونو کې یو څنګه لویې لتې ونیولې ؟

۲ - ولی د اسیایی ملکونو زیاته برخه د چنګېز تر اداري لاندې راغله ؟

۳ - کله خوارزم په غوریانو برید وکړ ؟

۴ - ولی چنګیز په قهر شو او په خوارزم د یرغل تیاری یی ونیوه ؟

۵ - مغلو د یرغل په ترخ کې څه وکړل ؟

二、填空题。

۱ - د چنګېز اصلي نوم ________ دی ، پلار یې یوسکای نومېده ، په ________ کال کې د امو رود د ________ په ښی غاړه کې زېږېدلی دی .

۲ - چنګېز په ________ کال کې په تخت کښیناست او په ________ کې خپل پلازمینه جوړه کړه

۳ - چنګیز په خوارزم خپل یرغل په ________ کال کې پیل کړ . له ټولو لومړی یی د ________ ښار ونیو او د ________ له لورې وړاندې ولاړ ، بخارایې ډېره اسانه ونیوله او دومره تاوانونه یې ورواړول چې ________ .

۴ -چنګېز د ________ له نیولو نه وروسته د امو د سیند څخه تېر شو او ________ ته راغی . میمنه او یې ونیول .

۵ - د ________ څخه وروسته د هغه اولادونو کې ________ او ________ پیدا شوه، تر څو چې د هغو وروستی حاکم تیموریې په ۱۷۷ هجري کې ________ .

三、连线题。

	محمد خوارزم
غوری	شهاب الدین
خوارزم	چنګېز
مغل	جلال الدین
	چغتای

四、翻译句子。

۱- ده لا هغه وخت چې زلمی و ، خپل زړورتوب او نارینتوب خپل قوم ته ښودلی و . شاوخوا تیتې او خپرې قبیلې یې ځان ته تابع کړې وې .

۲- چنګېز له دې کبله چې خوارزم شاه یې پیدا نه کړ ، د هغه کور کهول او کورنۍ یې ترتېغ تېر کړل .

۳- په دې وخت کې جلال الدین خوارزم شاه چې د پلار په ژوند د غزني حاکم وغوښتل چې د خپل پلار پور له چنګېز څخه واخلي . ځکه نو خلک یې د چنګېز د عسکرو په خلاف وپارول او په هر ځای کې یې د چنګېزیانو په مقابل کې جګړې پیل کړې .

۴- بل جنګ په بامیانو کې وشو ، چې د چنګېز لمسی د ضحاک په ښار کې ووژل شو . خو د محمد د سردارانو د ځان د ځانۍ او بې اتفاقۍ په وجه چنګېزیان غالب شول .

۵- کومې ورانۍ چې چنګېز په اسلامې نړۍ کې په عمومي توګه او په تېره زمونږ په ګران هېواد کې کړې دي ، د یو شمیر تاریخ لیکونکو په نظر او عقیدې به په زرو نورو کلونو کې هم د هغو ځای و نه نیول شي .

五、用普什图语复述课文。

دوهمه برخه

تيموريان

په هغه وخت کې چې د چنګېزيانو لړۍ مخ په زوال شوه ، په ترکستان کې يو بل زورور برياليی فاتح پيدا شو چې يو ځل بيا د اسيا په ډېرو برخو وبلوسيد او د چنګېز ورانۍ يې تکرار کړې او له مسکو څخه يې تر ډهلي او د چين له پولو څخه يې د مديترانۍ تر حدودو پورې

خاوره لاس ته راوستله . دغه سړی ګوډ تيمور و .

تيمور په ۷۳۶ هجري کال د کيش په ښار يا ننۍ شهر سبز کې چې د امو په شمالي خوا کې پروت دی ، زيږېدلی او پلار يې امير تراغای نوميده ، چې د چغتايانو په دربار کې يې د وزارت چارې اجرا کولې . تيمور له کوچني والی څخه زيار کښ ، زړور او د ټينګ هوډ خاوند و . د زلميتوب په وخت کې د جنګياليتوب او د لياقت د ښکاره کولو څخه وروسته د مغولستان د حاکم له خوا د ماورا النهر په حکومت مقرر شو . د هغې شخړې څخه وروسته چې د تيمور او امير حسين د بلخ تر منځ پيښه شوه ، امير حسين د تيمور له لاسه ووژل شو .تيمور د بست جګړو په يوې جګړې کې په پښه ټپ وخوړ او ګوډ شو چې له دې امله ګوډ تيمور ورته وايي . ده وروسته د امير حسين د وژلو څخه په ۷۷۱ هجري ق کال کې خپلواکه حکومت جوړ کړ او سمرقند يې خپله پلازمينه وټاکه ، او بيا په يو لړ بريو پيل وکړ . ټول خوارزم او ايران يې ونيو.

په عراق يې يرغل وکړ ، او له هغه ځايه روسيې ته ولاړ او تر مسکو پورې يې پرمختګ وکړ . عثماني ترکانو ته يې په انقره کې ماته ورکړه او سلطان بايزيد عثماني يې بندي کړ . د کوچنيو اميرانو لړۍ يې په ترکيه کې جوړه کړه . په هندوستان کې تر ډهلي پورې وړاندې ولاړ او بيا يې د چين د سفر تياری ونيول ، خو مرګ وخت ورنه کړ . پخوا له دې چې د چين په بري لاس پورې کړي ، په ۸۰۷ هجري ق کال کې د اويا کالو په

عمر د اترار په ښار کې مړ شو . په خراسان باندې د تیمور حمله د ډېرو ورانیو سبب شوه . څکه چې د افغانستان زړور او وطن پالونکو خلکو پوره مقاومت وکړ ، چې په پایله کې د مال او ځان تاوانونه وروا وښتل . دا د تیمور دود و چې په هره جګړه کې به یې بری وموند ، د هغه ځای د خلکو په عامه وژنه به یې لاس پورې کړ . ودانۍ او مدني اثار به یې وسوزول . ده د خپل سلطنت په موده کې سره له دې چې پراخه امپراتوري یې جوړه کړې ده ، خو د ډېرو ورانیو او زیانونو په سبب چې نیول شویو ملکونو ته یې اړولي وو ، په تاریخ کې یې ډېر بد نوم پریښود . له نیکه مرغه د تیمور له مړینې څخه وروسته د ده اولادونو د عدل نیاو او انصاف کمبله وغوړوله . دوی د خلکو د زړونو په ساتنه او خوښۍ بوخت شول . د خپل پلار ورانۍ یې بېرته جوړې او ترمیم کړې .

هرات یې پلازمینه کړ او د علم او پوهې ډیوه یې پکې بله کړه او د ښکلو صنایعو ترقي او پرمختګ یې زیات کړه ، پوهان او قدرمن خلک یې ښه ونمانځل . څکه نو د تیمور د اولادې دې نورې دورې ته په افغانستان کې د ختیځ د رنسانس دوره وایي .

تیمور څلور زامن درلودل چې د هغو څخه یې دوه تنه د تیمور په ژوند کې مړه شوي وو . د هغه زامن دا دي : ۱ - غیاث الدین جهانګیر ، ۲ - عمر شیخ میرزا ، ۳ - جلال الدین میرانشاه ، ۴ - شاهرخ میرزا .

شاهرخ د خپل پلار په ژوند د خراسان او ایران لویه برخه اداره کوله او نږدې اتلس کاله د هرات نائب الحکومه وو . نو کله چې یې پلار مړ شو ، د سلطنت واګې یې په لاس کې ونیولې او د هرات ښار یې خپله پلازمینه وټاکه ، الغ بیګ یې د سمرقند په حکومت مقرر کړ . که څه هم جنګیالی پاچا نه و ، خو په جګړو کې یې بری لاس ته ورغی . ارام او نرم طبیعت یې درلود ، غوښتل یې چې دولت یې کرار او وګړي یې خوښ او ارام وي . د هغه د سلطنت دوره په افغانستان کې د ډېر لوی برم له دورو څخه ده ، د ده په وخت کې د هرات تاریخي ښار په زړه پوری پرمختګ وکړ .

شاهرخ عادل او په علم او صنعت مین پاچا و . پوهان او فاضلان ورته ګران وو او د هغوی غم به یې خوړ . سوداګري او تجارت ته یې پوره رونق ورکړ . باندني سوداګران د هند او چین څخه راتلل ، د چین وریښم ، د هرات له لارې اوروپا ته تلل . د صنعت ، ودانۍ ، انځور ګرۍ او د اسې نورو لوی استادان د دې پاچا په وخت کې را میدان ته شول . ګوهر شادبیګم د شاهرخ ملکه چې د هرات له خلکو څخه وه ، له پوهې او ادب سره یې

زياته مينه درلوده او په خپل ميړه ډېره ګرانه وه . دې ملکې د پوهانو او عالمانو په روزنه کې زيار وکيښ ، د ګوهر شاد په نامه يې يوه لويه مدرسه جوړه کړه . مشهور عالمان يې هلته د تدريس او ښوونې لپاره وټاکل . لنډه دا چې شاهرخ ميرزا له ۳۴ کلونو حکومت څخه وروسته په ۸۵۰ هجري کال کې د ۲۷ کلنۍ په عمر وفات شو . د شاهرخ څخه وروسته د هغه اولاده لکه الغ بيک ، ابوسعيد او نور پادشاهان شول ، خو د هيواد چارو ته يې څه پاملرنه ونکړه ، څو چې د دې کورنۍ يو بل لوی او مقتدر پاچا سلطان حسين ته واک راورسيد . د هغه په عصر کې د لاسه وتلی مدنيت بيرته راژوندی شو .

لغتونه 单词

زوال	/za'wa:l/	〈阿〉[阳]	损失，丧失，腐败，堕落
بلوس	/blos，blaus/	[阳]	冒犯，触怒；骚扰，干扰
جنګياليتوب	/jangia:li-'tob/	[阳]	尚武精神，英勇精神
انضاف	/in'sa:f/	〈阿〉[阳]	公正，公平，公道；正义
کمبله	/kam'bala/	[阴]	羊毛毯子
غوړول	/ghwəra'wəl/	[及]	铺开，展开，打开；促使开花
واګه	/'wa:ga/	[阴]	马嚼子，马勒；缰；[转]权柄，政权
کرار	/qara:r/	〈波〉[阳]	宁静，安静，平静，安宁
برم	/bram/	[阳]	威严，威风

تشريخ 注释

1 تيمور 帖木儿（1336—1405年），帖木儿帝国的创建者，出身于突厥化的蒙古巴鲁拉斯部。

2 شاهرخ میرزا 沙哈鲁・米尔扎（1377—1447年），帖木儿的第四个儿子。他在位期间大力奖励文艺、大兴建筑，以首都赫拉特为中心，在阿富汗和中亚进行了一场文艺复兴，并取得了辉煌的成果。他的文艺复兴运动足以与欧洲的文艺复兴运动相媲美。

练习 تمرین

根据课文回答问题。

۱- تیمور یوه څنګه لویه خاوره لاس ته راوستله ؟

۲- تیمور یو څنګه سړی و ؟

۳- تیمور کوم وخت د خپل حکومت بنیاد کیښود ؟

۴- ولی مونږ ګوډ تیمور ورته وایو ؟

۵- تیمور کله او چېرته مړ شو ؟

۶- په تاریخ کې تیمور ډېر بد نوم پرېښود ، ولی ؟

۷- د تیمور پاتی کسان څنګه خلک وو ؟

۸- د شاهرخ میرزا د سلطنت دوره د ده د علمی او کلتوري خدمتونو سره ټوله بیان کړئ.

۹- تیمور څومره زامن درلودل ؟

۱۰- شاهرخ یو څنګه سړی و ؟

第六课

شپږم لوست

لومړی برخه

توقې

دانیال تېر ماښام د بهر نه راغی. مور او پلار یې د غولی په مېنځ کښې په کټ کښې ناست دی. دی چه مور او پلار مخامخ وینی نو رنګ یې زیړېږی. سائېکل ترې بې قابو شی خو ځی او په برنډه کښې یې ودروی. غلی شان کوټې ته ننوځی. دې کښې پرې پلار اواز کوی. دانیاله چرته تلی وې. دا ولی دې ناوخته کړ؟

دانیال: (لږ وارخطا غوندې) جی! هغه مېچ ناوخته ختم شو نو ځکه ......

(دا یې وویل او لاړ کوټې ته ننوت)

پلار: (مور ته یې وایې یره دانیال څه خفه غوندی نه و؟)

مور یې: او خفه خو ښکارېد. (دې کښې ور دېږی) ابداله ته ورشه وګوره چه څوک دی. مور یې وویل. (ابدال ور ته ورځی)

ابدال: (مور ته په چغه وایې) مورې دا خو خان شېر کاکا او خېبرۍ چاچی ده.

غنچه ګال کاکا: خان شېره پخېر راغلې.

خان شېر کاکا: خوار مه شې، غنچه ګله.

خېبرۍ ترور: پروشې ستړی مه شې. دا په دې وخت مو څنګه پېښنه وکړه.

پروشه ترور: سر توره مه شی، خدای دی اوبخښه.

خان شېر کاکا: ره شعېب تر اوسه پوری کور ته نه دی راغلی، مونږ ویل څه د هغوی کره به لاړ شو. دانیال

که راغلی وی د هغه نه به یې تپوس وکړو.

غنچه ګل کاکا: هغه خو هم دا دی اوس راغله. تاسو راځئ چه کوټې ته ورشو.

(ټول دانیال پسی کوټې ته ورځی)

پلار یې: دانیاله! شعیب څه شو؟

دانیال: هغه ...... هغه خو په سټېډیم کښې را نه پاتې شوی و.

(د دانیال خله وچه وچه کېده)

مور یې: چه مېچ ختم شو نو هغه بیا په سټېډیم کښې یوازې څه کول؟

دانیال: پته نشته. (او په ژړا کېږی)

پلار یې: هلکه رښتیا خبره وکړه. شعیب چرته دی او اصل خبره څه ده؟

(په ترخه لهجه)

دانیال: (د لږ ساعت خاموشۍ نه پس) نن هغه ...... (او بیا چت شی)

خان شېر کاکا: نن هغه څه؟ شابه، مخکښې وایه!

دانیال: نن هغه ما سره هیڅ بې هیڅه جګړه کړې وه. او بیا په مېچ کښې به یې هم راپسی اوازونه

وېستل. ورانې ورانې نامې به یې را ته اخستې. نورو هلکانو به هم راپوری خندل. ما ته یې ډېره غصه راوسته. زه په سائېکل سور شوم. کور ته رااروان شوم. ده رامنډه کړه، دی هم راپسی سور شو. ما سائېکل ودراوه، ور ته مې د کوزېدو وویل، خو دی نه کوزېده. ویل یې چه په زور به در سره ځم. ما بیا سائېکل په خاموشۍ راروان کړ، خو چه کله په اوچ خوړ راتېرېدم نو هغه غټې کنډې سره مې سائېکل وخوزاوه. هلته رانه دی غورزېدلی دی. تیاره شوې وه ما بیا و نه لیدل چه څه چل به پرې شوی وی.

پروشه ترور: (په ځان رااېږدی) وئ خدایه! دا څه وشو؟ هغه خوز ما د ړندی سترګې اوښکه ده. هسی

نه چه به خدای مه کړه...... (په ویلو کنبي چت شي).

خان شېر کاکا : تندی ته تڼ ورکړي. غنچه ګله دا څه وشو؟

غنچه ګل: خدای به خېر کړي. خپېرۍ هله زر کوه ټارچ راواخله.(خپېرۍ ترور په منډه ځي ټارچ راوړي او خاوند ته يي ورکوي). خان شېره! راځه چه اوچ خوړ ته ځان رسوو. دانياله! شابه مخکښي شه رانه. هغه ځای ته مو رسوه. (دانيال د ځان سره روانوي او اوچ خوړ ته ځي).

خان شېر کاکا: غنچه ګله! خدای دې خېر کوی هسي نه چرته...... نانا ، (غنچه ګل په مېنځ کښي راټوپ کړو). داسي مه وايه د خدای نه خېر غواړه.

پروشه ترور: زه به هم در سره ځم.

غنچه ګل او خان شېر کاکا دواړه په شریکه وايي نانا شپه ده. ته او خپېرۍ دواړه کور کښي کښېنئ د خدای نه سوال کوئ چه خدای خېر کړي. مونږ دا دی زر راځو.

پروشه ترور: خدایه! زما زړه خو به تر هغې پرق وچوی.

خپېرۍ ترور: خورې! د خدای نه خېر غواړه. هغه به که خېر وی روغ جوړ او صحيح سلامت راځي. (پروشې ترور لاسونه اوچت کړي دي او بيا وايي خدايه په جولۍ کښي مې خېر واچوې، خدايه بچی مې روغ جوړ راولې.)

هلته خان شېر کاکا ، غنچه ګل کاکا او دانيال خوړ ته رسېدلي دي. غنچه ګل او خان شېر کاکا وار په وار چغه وهي. شعېبه! شعېبه! کوم ځای يې. اواز راکړه مونږ تا پسي راغلي يو.

شعېب : د کندې نه ورو غوندي اواز ورکوی. دايمه دلته کنده کښي يمه. غنچه ګل کاکا ور ته بېټرۍ وهي او ويني يې. هغه دی خان شېره لاندی وګوره. پلار يي او خان شېر کاکا څادر ورښکته کوی. او ور ته وايي دا کلک ونيسه. څادر شعېب کلک نيسي. غنچه ګل کاکا او خان شېر کاکا څادر بره راکاږي او راوباسي يې. شعېب چه بره راوخېژوی غنچه ګل کاکا ور ته بېټرۍ وهي. دی او پلار يي دواړه لاس پښي ګوري چه خوږ خو نه دی. تپوس ترې کوی شعېبه کوم ځای دی خوږ دی.

شعېب: خوږ نه يم، بس هسي لږ ګرېدلی يم.

دوی کور ته واپس راځي. مور يي پروشه ترور بهر دننه کېږي او ډېر په بې صبرۍ د دوی انتظار کوی. دې

کښې دوی ورننوځي. شعېب وينی د مور د خلې نه يې "خدای شکر دی" ووځي. ورځي او په دواړه مخه يې ښکلوي.

غنچه ګل کاکا: (دانيال ته سخت غصه دی او وايي) که اوس په شعېب څه چل شوی وی نو بيا به څه چل وو؟

خان شېر کاکا: يره بلاوه او برکت يي نه و. بس چه څه و هغه هسی هم وشول خو ښه ده چه خدای خبر کړو. ټوقې هم تر يو حده پوری وی. چه زياتې شی نو بيا د ټوقو نه بوقه جوړه شی.ورستو بيا انسان لاسونه مروړی خو هيڅ نه شی کېدی.

غنچه ګل کاکا: خان شېره او پروشې مونږ تاسو ته ډېر ملامته يو.

خان شېر کاکا او پروشه ترور: نانا، دې کښې ستاسو څه قصور و. قصور خو د دې دواړو سر کوزو دی چه دا مخامخ ولاړ دی.

غنچه ګل کاکا: دانياله! شابه د شعېب نه معافی وغواړه او چه بيا دپاره داسی ټوقه و نه کړې. (دانيال شعېب ته ورځي او معافی ترې غواړی).

شعېب: ما هم معاف کړه. غلطی زما هم وه. که ما تا پوری ټوقې نه وې کړې نو تا به ما سره داسی نه و کړی.

دانيال: نانا. ته خو زما ورور يې خو پته نه لګی چه څه چل وو. (دواړه تر غاړه ووځي).

لغتونه 单词

院子，场子；屋内地板	[阳]	/'gholai/	غولی
凉台，外廊	[阴]	/baran'ḍa/	برنډه
安静的，无声的；沉默的，沉默寡言的	〈波〉[形]	/kha:'mosh/	خاموش
盲目的，瞎眼的	[形]	/ṛu:nd/	ړوند
谜，谜语	[阳]	/ṭaq/	ټق

搔痒	［不及］	/gəre'dəl/	ګرېدل
差错，出入	［阴］	/bu'la:wa/	بلاوه
缺点，短处，缺陷；罪过，过失，过错，疏忽	〈阿〉［阳］	/qu'sur/	قصور

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- دانيال ولې ناوخته راغله؟

۲- د شعېب مور او پلار دانيال دوی کره څه ته راغلي وو؟

۳- د شعېب د ناوخته کولو په هکله دانيال څه وويل؟

۴- اصل خبره څه وه؟

۵- که شعېب ته څه غټ نقصان رسېدلی وی نو بيا به څه چل وو؟

二、填空题。

۱- سر توره مه شي، خدای دی ________.

۲- تياره شوې وه ما بيا و نه ليدل چه ________ به پرې شوی وی.

۳- هغه به که خېر وی ________ او صحيح سلامت راځی.

۴- مور يې پروشه ترور ________ کېږی او ډېر په بې صبرۍ د دوی انتظار کوی.

۵- دانياله! شابه د شعېب نه ________ وغواړه او چه بيا دپاره داسی تېوقه و نه کړې.

三、单项选择题。

۱- په دې ډرامګۍ کښې دانيال او شعېب څه دی؟

(الف) ورونه (ب) د تره زامن

(ج) بدخاه (د) ملګری

۲- غنچه ګل کاکا څه دی؟

(الف) د پروشي ترور خاوند
(ب) د شعیب پلار
(ج) د دانیال او ابدال پلار
(د) د دانیال پلار

۳- خیبرۍ ترور څه ده؟

(الف) د شعیب مور
(ب) د خان شېر کاکا ښځه
(ج) د دانیال مور
(د) د پروشي خور

۴- پروشه ترور څه ده؟

(الف) د غنچه ګل کاکا ښځه
(ب) د شعیب مور
(ج) د خیبرۍ خور
(د) د ابدال مور

۵- ابدال څوک دی؟

(الف) د دانیال ورور
(ب) د شعیب کشر ورور
(ج) د شعیب ملګری
(د) د غنچه ګل کاکا زامن

四、翻译句子。

۱- (دې کنبنی ور ډېرې) ابداله ته ورشه وګوره چه څوک دی.

۲- نن هغه ما سره هیڅ بې هیڅه جګړه کړې وه.

۳- ما بیا سائیکل په خاموشۍ راروان کړ، خو چه کله په اوچ خوړ راتېرېدم نو هغه غټې کندې سره مې سائیکل وخوزاوه.

۴- ته او خیبرۍ دواړه کور کنبنی کښېنئ د خدای نه سوال کوئ چه خدای خبر کړی.

۵- (دانیال ته سخت غصه دی او وایي) که اوس په شعیب څه چل شوی وی نو بیا به څه چل وو؟

۶- تهوقې هم تر یو حده پوری وی. چه زیاتې شی نو بیا د تهوقو نه بوقه جوړه شی.

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

تل دې وي پاکستان

زمونږ کلي ته څه خلک راغلي وو. ځای په ځای يې د کپړو بينرونه لګولي وو. په بينرونو يې ليکلي وو ، "راځئ چه خپل کلی صفا وساتو" ، "خپل چاپېريال د الودګۍ نه وساتئ!" ، "خپل ملک شين او اباد کړئ" !

سحر وختی ابمل او ملګری يې سبل ته روان وو. دغه بينرونه يې وليدل. يو بل ته يې وويل چه يره دا بينرونه به چا لګولي وي؟ دې کښې يې يو اعلان واورېد : " د کلي د خلکو نه هيله لرو چه نن سحر په اته بجې د لوبو ميدان ته راشي . د کلي د خير ښېګړې په کارونو به صلاح مشورې وکړو. ټول په دې نيک کار کښې برخه واخلئ ! "

ابمل او ملګری يې د لوبو ميدان ته ورسېدل. څه ګوري چه هلته د مخکښې نه ډېر خلک راجمع دي . ميدان کښې د ونو لاندې څو خېمې لګېدلې وې. ابمل د خپلو ملګرو سره د خلکو شا ته وښو کښې کښېناست.

يو هلک د ځان او د خپلو ملګرو پېژندګلوی وکړه و يې ويل ، چه مونږ د " تل دې وي پاکستان " د تنظيم غړي يو. دې کښې هلکان او ځوانان شامل دي. دڅه عوض نه بغير د خير ښېګړې کاورنه کوی . زمونږ د تنظيم بنيادي مقصد خپل وطن پاک او ښکلی ساتل دي. مونږ ډېر خدمتونه کوو لکه د لارو کوڅو ، وېيو ، پارکونو او نورو ځايونو صفايي ، د ګند خزلو ختمول، د ونو کرل او ساتنه. مونږ په شريکه دا ملک شين او ښايسته کول غواړو.

په اخر کښې يې خپله منصوبه اعلان کړه ، و يې ويل چه مونږ به د هر کال څو ورځ دلته کېمپ لګوو او د کلي د خلکو سره به يو ځای د خير ښېګړې مختلف کارونه کوو. خلکو ور سره د ملاتړ اعلان وکړ. ابمل او ملګری يې هم ور سره شول.

په سبا د کلي خلکو او د " تل دې وي پاکستان " تنظيم غړو په کار شروع وکړه. هلکانو د لارو کوڅونه ګند خزلې راټولې کړې ، د کلي نه بهر يې لويې لويې کندې وکنستې ، څه ګند خزلې يې په کښې واچولې او څه يې وسيزلې . چا چرګاو کاوه، چا جارو وهله. زړو، ځوانانو په کار کښې برابره حصه واخسته. ابمل او

ملګرو يې د دېوالونو نه اشتهارونه لرې کړل . کارکوونکو په کوڅو کښې ځاى په ځاى د ګند خزلو ټيمونه کېښودل .

اېمل او ملګرى يې ستړى شول. لږ کښېناستل چه دمه شي . اېمل ووېل ، " په شريکه کار څومره خوند کوي . د يو څو ورځو کار د کلي نمونه بدله کړه . د چا يقين نه راتله چه دا هم هغه کلي دى چه هر خوا به پکښې ګند خزلې پرتې وې ، ماشو او مچانو به پرې اتڼ اچولى و".

په دريمه ورځ ټول خلک په پارک کښې په کار لګيا شول. په پارک کښې ځاى په ځاى د ګندېرو او مالټو پوستکي او کاغذونه، تشې لفافې او بوتلونه پراته وو. په وښو وچې پاڼې او ګلونه پراته وو. هلکانو هم د نورو خلکو سره ګند خزلې راټولې کړې او د ګند په ټيمونو کښې يې واچولې. ځنى ځوانانو بوټى ګوډ کړل . ونې ، بوټى او واښه يې اوبه کړل. په اخر کښې يې د ونو سره بورډونه ولګول چه پرې ليکلي شوى وو : "ګلونه مه شو کوئ! " "ګند مه خوروئ! " "ګند خزلې په ايښودو شوو ټيمونو کښې اچوئ! " " د باغ ساتنه وکړئ! "

تر مازيګره دا کار جاري وو. په اخر کښې اعلان وشو چه سبا به ونې کرو. د تنظيم له خوا بوټى راوړلى شوى دى . مهرباني وکړئ سباته تيار راشئ .

بله ورځ خلک د بېلچو ، کودالو او فوارو سره راغلل" شين ښکلى پاکستان " کېږه په هوا کښې زوړنده وه. په کار يې بسم الله ووېله. ځينى خلکو د سړک دواړو غاړو ته کندې کنستلې ، اېمل او ملګرو يې پکښې ونې کرلې او خاورې به يې پرې وراړولې . ځينو به په فوارو اوبه ورکولې . چا به د سړک غاړې سمولې .

کار چه ختم شو ، نو د تنظيم يو کس د کلي د خلکو شکريه ادا کړه ، و يې ويل ، " تاسو ته د دې اهم کار مبارکي وايم. امېد دى چه دا کار به جارى ساتئ . پاک ماحول کښې صحت ښه وى . د دې وجې نه خپل ماحول د الودګۍ نه بچ کړئ . ګند خزلې هر ځاى مه اچوئ . د ونو خيال وساتئ او ډېرې ونې وکرئ . ونې هوا صفا شي او ستاسو په کار به راشي . دا د ټول قام سرمايه ده. په صفا ماحول کښې به ستاسو بچي روغ وى . زه يو ځل بيا د زړه د تل نه ستاسو د خلوص ، مينې او ملاتړ شکريه ادا کوم. "

په اخر کښې يو مشر د کلي د طرفه د " تل دې وی پاکستان " د ځوانانو جذبه وستائله او شکريه يې ادا کړه. دغه مشر وويل " لکه څنګه چه مو د خپل کلي د ښېګړې دپاره په شريکه مختلف کارونه وکړل ، هم دغسی به د ټول ملک دپاره هم په شريکه کار کوو. پاکستان زمونږ کور دی. ساتنه به ئې کوو او مضبوطوو به ئې. دا په مونږ فرض دی چه قومی وسيلې لکه اوبه ، ګېس ، بجلی او نور د ضالع کېدلو نه بچ کړو. ونو او ځنګلونو ته ضرر ونه رسوو. قومی عمارتونه ، سړکونه ، پولونه او پارکونه خراب نه کړو. مونږ پاکستان يو مثالی ملک جوړول غواړو".

ټولو په يو اواز وويل ، " مونږ به پاکستان يو ښېرازه او خوشحاله ملک جوړوو. خپل ماحول به د ناولتيا (الودګی) نه بچ ساتو. مونږ به خپل قوم مضبوطوو. پاکستان زنده باد ، پاکستانی قوم زنده باد. "

په اخر کښې د " تل دې وی پاکستان " ډله بل کلي ته روانه شوه. د دې کلي خلکو ور ته ښه په مينه په مخه ښه وويل.

单词 لغتونه

布	［阴］	/ka'pṛa/	کپړه
环境	［阳］	/cha:peri'ya:l/	چاپېريال
帐篷	［阴］	/khe'ma/	خېمه
组织，安排，整顿，整理	〈阿〉［阳］	/tan'zim/	تنظيم
补偿，赔偿，抵偿（费）	〈阿〉［阳］	/'i'waz/	عوض
提纲，提要，纲要；计划，草案，方案	［阴］	/mansu'ba/	منصوبه
燃烧，燃着，着火	［不及］	/sezəl/	سيزل
浇灌；喷洒	［阳］	/chaṛ'ka:u/	چړکاو
宣读；公布；传播；广告	〈阿〉［阳］	/ishti'ha:r/	اشتهار
欧洲夹竹桃	［阳］	/ganḍe'rai/	ګنډېرى

红瓤甜橙；甜橙树	[阴]	/ma:l'ta/	مالټه
空的，空虚的	[形]	/təsh/	تش
纸包，纸袋；包装材料	〈阿〉[阴]	/lifa:'fa/	لفافه
小铲，小铁锹	〈波〉[阴]	/bel'cha/	بېلچه
十字镐，鹤嘴锄	[阴]	/koda:'ləi/	کودالۍ
坑，坑洼	[阴]	/'kanda/	کنده
环境；周围地区	〈阿〉[阳]	/ma:'haul/	ماحول
资本，资金；本钱	〈波〉[阴]	/sarma:'ya/	سرمایه
心，诚意，真诚，纯洁	〈阿〉[阳]	/khu'lus/	خلوص
义务，职责	〈阿〉[阳]	/farz/	فرض

练习 تمرین

单项选择题。

۱- په میدان کښې د ونو لاندې څه لګېدلې نه وو ؟

(الف) تامبه　　(ب) ډېره

(ج) دیره　　(د) غږدۍ

۲- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه غلطه ده ؟

(الف) د "تل دې وی پاکستان" د تنظیم غړی د کلي د خلکو نه هیله ولاره چه سهار په اته بجې د لوبو میدان ته راشي.

(ب) سهار وختی ایمل او ملګری یي سېل ته روان وو.

(ج) د دغه تنظیم غړی ټول ځوانان وو.

(د) د تنظيم غړي هغه ښنروته جوړ کړل.

۳- د دې متن په باب لاندني خبرې کومه درسته ده ؟

(الف) د "تل دې وی پاکستان" تنظيم يوازې د لارو کوڅې ، وېنيو او پارکونه صفا کوي.

(ب) د "تل دې وی پاکستان" د تنظيم غړي ډېر عوض وګاټه .

(ج) د "تل دې وی پاکستان" د تنظيم بنيادي مقصد خپل وطن پاک او ښکلی ساتل دی.

(د) د "تل دې وی پاکستان" تنظيم به د هر کال ډېرې ورځې د کلي د خلکو سره يو ځای د خبر ښبګړې مختلف کارونه وکړل.

۴- په لومړۍ ورځ کښې د "تل دې وی پاکستان" تنظيم او د کلي خلکو څه کار و نه کړ ؟

(الف) د پارک نه د ګند خزلې ټولول

(ب) د ګند خزلې سېزل

(ج) چړکاو کول

(د) جارو وهل

۵- په پارک کښې څه څيز پروت نه و ؟

(الف) پوستېر

(ب) کاغذ

(ج) پوست

(د) پوسه

۶- اېمل او ملګرې يې څه کار وکړ ؟

(الف) دېوالونه پاکول

(ب) اشتهارونه لرې کول

(ج) جارو هول

(د) سېل کول

۷- د دې مقاله دمتن سره سم په دغه کلي کښې کوم تاسيس نه و؟

(الف) عمومي باغ

(ب) سړک

(ج) پول

(د) مسجد

۸- د "تل دې وی پاکستان" د تنظيم غړيو او د کلي خلکو په شريکه په څو ورځو کار وکړ ؟

(الف) ۲

(ب) ۵

(ج) ۴

(د) ۳

۹- "پاکستانی قوم زنده باد" څه مطلب دی؟

الف) 巴基斯坦民族万岁

ب) 巴基斯坦人民万岁

ج) 巴基斯坦部落万岁

د) 巴基斯坦万岁

۱۰- دغه مقاله ته یو مناسب عنوان ورکوئ؟

الف) خپل وطن پاک او ښکلی ساتل

ب) ایمل او خپل ملګری

ج) کلی صفا کول

د) شین ښکلی پاکستان

第七课

اووم لوست

لومړۍ برخه

د افغانستان پارلمان

پارلمان د دولت له دريو بنسټونو څخه يو بنسټ دی چې د افغانستان په اساسي قانون کې د ملي شورى په نامه يادېږي . په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په ۱۱۳۱ لمريز کال کې د محمد نادر شاه د پادشاهۍ په دوره کې د پارلمان بنسټ کېښودل شو . دغه بنياد د قانون په جوړولو او په سياسي تصميم نيولو کې او د خلکو د ګډون برخې اخيستنې ښکارندوی دی . د افغانستان د اسلامي جمهوری دولت ملي شوری د ستر تقنيني ارګان په توګه د افغانستان د خلکو د ارادې ښکارندويه ده او د ټول ملت نمايندګي کوي .

هغه څوک چې د ملي شورى غړيتوب ته کانديد يا ټاکل کېږي د ټاکونکو پر شرطونو سر بېره دا لاندې صفتونه هم بايد ولري .

۱- د افغانستان تبعه وي يا لږ تر لږه د کانديديدو يا تعيين تر نيټې لس کاله پخوا يې د افغانستان د دولت تابعيت ترلاسه کړی وي .

۲- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي .

۳- د ولسي جرګې غړيو د عمر پنځه دېرش کاله د کانديد او يا ټاکنې په ورځ بشپړ کړی دي .

د افغانستان د ملي شورى غړي د انتخاباتو له لارې او يا د ولسمشر لخوا په انتصابي ډول ملي شورى ته لاره پيدا کوي . د شورى هر غړی د رايې د څرګندونې په وخت کې د افغانستان د خلکو عمومي مصلحتونه

او ستړې ګټې د خپل قضاوت محور ټاکي . ملي شورى له دوو مجلسونو ولسي جرګې او مشرانو جرګې څخه جوړه ده .

١ - ولسي جرګه

د اساسي قانون له موادو سره سم ولسي جرګه په افغانستان کې اوس ٢٥٠ غړي لري .

دغه غړي د هېواد د ټولو وګړو لخوا د هغو خلکو له ډلې څخه ټاکل کېږي چې ځانونه کاندیدوي او د هغې انتخاباتي حوزې د استازي په توګه ولسي جرګې ته لاره پیدا کوي .

هغه خلک چې د انتخاباتو له لارې وټاکل شي د پنځو کلونو لپاره د خپل ولایت د استازي په توګه په ملي شورا کې دنده تر سره کوي . ولسي جرګه د خپل کار په پیل کې خپل یو تن غړى د مشر په توګه ، دوه تنه غړي د لومړي مرستیال او دویم مرستیال په توګه او دوه تنه نور د منشیانو په توګه ټاکي . له هر ولایت څخه لږ تر لږه دوه ښځینه وکیلې په ولسي جرګه کې غړیتوب تر لاسه کوي . دغه ټوله ډله د ولسي جرګې د ادارې پلاوي په نامه یادیږي .

د ولسي جرګې دندې :

(١)- د تقنیني احکامو او یا قوانینو تصویب ، تعدیل او یا لغو کول .

ولسي جرګه د خلکو د اړتیاوو سره سم نوي قوانین تصویبوي او هغه پخواني قوانین چې نور د کار وړ نه دي او یا نور ارزښت نه لري ، له منځه وړي .

(٢)- د فرهنګي ، اقتصادي او تکنالوژیکي پرمختګ د پروګرامونو تصویبول .

هغه پروګرامونه چې د اجتماعی ، فرهنګي ، اقتصادي او تکنالوژیکي پر مختګ لپاره د دولت او یا خصوصي ادارو له لارې وړاندې کېږي باید د ولسي جرګې د غونډې له خوا تصویب کړى شي .

(٣)- د دولتي بودجې تصویب او د پور د ورکړې او یا اخیستنې اجازه

ولسی جرګه د دولت او دولتی ارګانونو بودجه ټاکې . که دولت وغواړي چې قرضه واخلې او یا کوم دولت ته قرضه ورکړي باید هرومرو د ولسی جرګې له خوا تصویب شي .

(۴)- د دولتی ادارو پرانیستل او یا د هغوی له منځه وړل (لغو کول)

ولسي جرګه کولای شی اداري واحدونه رامنځته کړی او یا په موجودو ادارو کی بدولونونه راوړي او یا ځینی اداري واحدونه له منځه یوسی .

(۵)- د نړیوالو تړونونو او معاهداتو پیوستون او تائید او یا له هغوی سره د پیوستون فسخ کول .

افغانستان ځینی نړیوال تړونونه لاسلیک کړي او منلی دي د دغو تړونونو منل او یا نه منل د ولسی جرګې په غاړه دي .

۲- مشرانو جرګه

د مشرانو جرګې غړي په دریو کې دوې برخې انتخابی او په دریو کې یوه برخه یې انتصابی دي . د دې مجلس غړي د دریو برخو څخه یوه برخه یې د ولایتیشورا ګانو د غړو له منځه ، یو پر دریمه د ولسوالیو د شورا ګانو د غړو له منځه ، یو پر دریمه برخه یې د ولسمشر لخوا د پوهانو او متنفذو اشخاصو له منځه ټاکل کیږي .

د مشرانو جرګې غړي چې د سناتورانو په نامه هم یادیږي ، په لاندې ډول انتخاب او ټاکل کیږي :

(۱)- د هرې ولایتي جرګې له غړو څخه یو تن د مربوطې جرګې په انتخاب ، د څلورو کلونو لپاره .

(۲)- د هر ولایت د ولسوالیو د جرګو په غړیو څخه یو تن ، د مربوطو جرګو په انتخاب ، د دریو کلونو له پاره

(۳)- پاتی دریمه برخه غړي د معلولینو او معیوبینو د دووتنو او کوچیانو د دوو تنو استازو په ګډون د هیواد له خبیرو او تجربه لرونکو کسانو څخه د پنځو کلونو له پاره د جمهور رئیس له خوا ټاکل کیږي . جمهور رئیس له دې اشخاصو څخه په سلو کې پنځوس ښځې ټاکي . هغه شخص چې د مشرانو جرګې د غړي په توګه انتخابیږي ، په مربوطه جرګه کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي او د ده پر ځای د قانون له حکمونو سره سم بل شخص ټاکل کیږي .

مشرانو جرګه هم د ولسی جرګې په شان اداري هیئت لري .

د مشرانو جرګې دندې:

مشرانو جرګه هم په دقیقه توګه لکه ولسی جرګې په شان دندې په غاړه لري. توپیر یې دا دی چې د قانون د طرحی غوښتنلیک د دولت له خوا لومړی ولسی جرګې ته وړاندی کېږي ، د ولسی جرګې له لوری د طرحې تر تصویبولو وروسته ، نوموړی طرح مشرانو جرګې ته وړاندی کېږي. مشرانو جرګه د ۱۵ ورځو په موده کې په دغه طرح باندی غور کوي او د هغې په هکله تصمیم نیسی او بیا ولسمشر ته وړاندی کېږي. په هغه صورت کی چې ولسمشر د ملی شورا پرېکړه ومنی او لاسلیک یې کړي ، نو نوموړی طرح بیا د قانون په بڼه منل کېږي

لغتونه 单词

立法的	〈阿〉[形]	/taqni'ni:/	تقنیني
任命，委派；指定	[阳]	/ta'yi:n/	تعیین
犯罪行为，犯罪	[阳]	/arti'ka:b/	ارتکاب
指定的，任命的	[形]	/intisa:'bi:/	انتصابي
利益；福利	[阳]	/masla'hat/	مصلحت
审判；判断	〈阿〉[阳]	/qaza:'wat/	قضاوت
核心，中心	〈阿〉[阳]	/mih'war/	محور
贷款；债务；信贷	〈阿〉[阳]	/qarz/	قرض
条约，协议	〈阿〉[阴]	/mu'a:ha'da/	معاهده
联合，联结；汇合；友谊	[阳]	/paiwas'tun, pewas'tun/	پیوستون
取消，废除	〈阿〉[阳]	/faskh/	فسخ
有影响的，有权势的	[形]	/matna'qaz/	متنفذ
参议员	[阳]	/sina: 'tor/	سناتور
残疾人	[阳]	/ma''lu:l/	معلول

تشريح 注释

1 بنسټ کېښودل 奠定基础。

2 ستر تقنيني ارګان 最高立法机关。

تمرين 练习

一、回答问题。

۱- د افغانستان ملی شوری له څو مجلسونو څخه جوړه شوی ده او نوم يې څه دی ؟

۲- د افغانستان ولسی جرګه څومره غړي لري او دغه غړي څنګه ملی شورا ته لاره پيدا کوي ؟

۳- د ملی شورا کانديدان د ټاکنو په وخت کې بايد کوم اوصاف ولري ؟

۴- د مشرانو جرګې غړي څنګه د مشرانو جرګې مجلس ته لاره پيدا کوي ؟

۵- د مشرانو جرګې دندې په لنډه توګه وليکئ او د هغو توپير د ولسی جرګې له دندو سره په ګوته کړئ .

二、填空。

۱- د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت ملی شوری د ____________ په توګه د افغانستان د ____________ د ارادې ښکارندويه ده او د ____________ نماينده ګی کوي .

۲- د شوری هر غړی د رايی د څرګندونې په وخت کې د افغانستان د خلکو ____________ او سترې ګټې د خپل ____________ ټاکي .

۳- ____________ د دولت او دولتی ارګانونو بودجه ټاکې .

۴- څوک چې د هرې ولايتي جرګې له غړو څخه يو تن د مشرانو جرګې په انتخاب ، د ____________ کلونو لپاره دی .

۵- د مشرانو جرګې غړي چې د جمهور رئيس له خوا ټاکل کېږي ، د ____________ کلونو لپاره دي .

三、判断对错。

۱- په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د احمد شاه بابا د پادشاهۍ په دوره کې د پارلمان بنسټ کېښودل شو .

۲- څوک غواړي چې د افغانستان د ملي شورى غړي شي ، پلار او مور يې بايد افغانان وي .

۳- د ولسي جرګې غړي ټول د انتخاباتو له لارې وټاکل شي .

۴- له هر ولايت څخه لږ تر لږه دوه ښځينه وکيلې په مشرانو جرګه کې غړيتوب تر لاسه کوي .

۵- څوک چې د مشرانو جرګې د غړي په توګه انتخابيږي ، هغه هم کېداى شي د ولسي جرګې غړي وي .

四、翻译句子。

۱- پارلمان د دولت له دريو بنسټونو څخه يو بنسټ دى چې د افغانستان په اساسي قانون کې د ملي شورى په نامه ياديږي .

۲- ولسي جرګه د خلکو د اړتياوو سره سم نوي قوانين تصويبوي او هغه پخواني قوانين چې نور د کار وړ نه دي او يا نور ارزښت نه لري ، له منځه وړي .

۳- د نړيوالو تړونونو او معاهداتو پيوستون او تائيد او يا له هغوی سره د پيوستون فسخ کول .

۴- د مشرانو جرګې غړي په دريو کې دوې برخې انتخابي او په دريو کې يوه برخه يې انتصابي دي . د دې مجلس غړي د دريو برخو څخه يوه برخه يې د ولايتي‌شورا ګانو د غړو له منځه ، يو پر دريمه د ولسواليو د شورا ګانو د غړو له منځه ، يو پر دريمه برخه يې د ولسمشر لخوا د پوهانو او متنقذو اشخاصو له منځه ټاکل کېږي .

۵- د قانون د طرحې غوښتنليک د دولت له خوا لومړى ولسي جرګې ته وړاندې کېږي ، د ولسي جرګې له لورى د طرحې تر تصويبولو وروسته ، نوموړې طرح مشرانو جرګې ته وړاندې کېږي .

五、用普什图语介绍阿富汗国会。

دوهمه برخه

د وګړو په وړاندې د حکومت دندې

څرانګه چې ټول ملت ، د ټاکنو له لارې دولت ټاکلی دی ، نو په کار دی چې د ملت حقوق په بشپړ ډول ادا کړي . د ملت هر وګړی دوه ډوله حقونه لري : ۱ - ځاني حقونه ۲ - ټولنیز حقونه

۱ - ځاني حقونه

وګړي د جوړو شوو قوانینو له مخې حق لري چې هر ډول وغواړي هماغسې ژوند وکړي . خو دا ټکي باید ښه په پام کې ولرو چې خپلواک ژوند داسې څېز نه دی چې د نورو خپلواکي له منځه یوسي .

۲ - ټولنیز حقونه

همدارنګه هر څوک حق لري ، د قوانینو په چوکاټ کې د عام مصلحت پر بنسټ په ټولنه کې خبرې او یناوې او داسې موسسات جوړ کړي چې د هغه اهداف پرمخ بوځي . یا په بله وینا په ډیموکراټیکه ټولنه کې د قانون په چوکاټ کې د بیان ، قلم او عقیدې ازادي تضمین کېږي . د یادونې وړ ده چې د قلم بیان او د عقیدې ازادي په یوه اسلامي ټولنه کې باید د اسلام د سپیڅلي دین د اساساتو او ارزښتونو په چوکاټ کې د ننه وي او د نور په حقوقو باندې تېری و نه شي . په همدې ډول د ملت هر وګړی د دولت په وړاندې مساوي حقونه لري . هېڅ توپیر او امتیاز له هره اړخه چې اټکل کېدای شي ، د ملت د وګړو تر منځ نه شته . دا دی د افغانستان د اساسی قانون په دویم فصل کې راغلی دی ، یادوو .

دوه وېشتمه ماده

د افغانستان د اتباعو ترمنځ هرراز تبعیض او امتیاز منع دی.

د افغانستان اتباع د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري.

درویشتمه ماده

ژوند د خدای (ج) لورېنه او د انسان طبیعي حق دی. هېڅوک له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي.

ځلیرویشتمه ماده

آزادي د انسان طبیعي حق دی. دا حق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون لیارې تنظیمېږي، حدود نه لري.

د انسان آزادي او کرامت له تېري خوندي دي.

دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په درناوي او ساتنه مکلف دی.

پنځه ویشتمه ماده

د ذمې برائت اصلي حالت دی.

متهم تر څو چې د باصلاحیته محکمې په قطعي حکم محکوم علیه و نه ګرځي، بې ګناه ګڼل کېږي.

شپږ ویشتمه ماده

جرم ، یو شخصي عمل دی.

د متهم تعقیبول، نیول ، توقیفول او پر هغه باندی د جزا تطبیق بل هېچا ته سرایت نه کوي.

اووه ویشتمه ماده

هېڅ یو عمل جرم نه ګڼل کېږي خو د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب د مخه نافذ شوی وي.

هیڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبېدای، نیول کېدای ، توقیفېدای نه شي.

هېچا ته سزا نشي ورکول کېدای مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ عمل تر ارتکابه مخکی نافذ شوی وي.

اته ویشتمه ماده

د افغانستان هېڅ یو تبعه په جرم باندې د متهم کېدو له امله بهرني دولته ته نه سپارل کېږي. مګر د ورته معاملې اود هغو نړیوالو تړونونو له مخې چې افغانستان ور سره تړاو لري.

هېڅ افغان د تابعیت په سلبېدو او په افغانستان کی دننه یا بهر په شړل کېدو نه محکومېږي.

نهه ویشتمه ماده

د انسان تعذیب منع دي.

هیڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب،نیونې

يا توقيف لاندې وي او يا په جزا محکوم وي. د هغه د تعذيب لپاره اقدام وکړي يا يې د تعذيب امر وکړي.

د داسې جزا ټاکل چې د انساني کرامت مخالفه وي، منع دي.

دېرشمه ماده

هغه څرګندوني ،اقرار يا شهادت چې له متهم يا بل شخص څخه په زور تر لاسه شي، اعتبار نه لري.

په جرم اقرار، د متهم هغه اعتراف ته وايي چې په بشپړه خوښه او د عقلي روغتيا په حالت کې يې د باصلاحيته محکمې په وړاندې کړې وي.

يو دېرشمه ماده

هر څوک کولای شي چې له نيول کېدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او يا د حق د ثابتولو لپاره مدافع وکيل وټاکي.

متهم له نيولو سره سم حق لري چې له منسوب اتهامه ځان خبر کړي او د هغې موده دننه چې قانون ټاکلې محکمې ته حاضر کړی شي.

دولت په جنايي پېښو کې د بيوزلې متهم لپاره مدافع وکيل ټاکي .

د مدافع وکيلانو دندې او واکونه د قانون له لیارې تنظيمېږي.

دوه دېرشمه ماده

پور د پوروړي دآزادۍ د سلبېدو يا محدودېدو سبب کېدلای د پور د بېرته اخيستلو لارې چارې او وسايل د قانون په وسيله تنظيمېږي.

درې دېرشمه ماده

د افغانستان اتباع د انتخابولو او د انتخابېدو حق لري.

له دې حق څخه د ګټې اخيستو شرايط او لارې د قانون په وسيله تنظيمېږي.

څلور دېرشمه ماده

د بيان آزادي له تېرې څخه خوندي ده.

هر افغان حق لري چې خپل فکر د وينا ،ليکنې ، انځور او يا په نورو وسيلو له لارې په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په رعايت څرګند کړي.

هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم مطلب بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښيي، خپاره او نشر کړي.

د مطبعو ، راډيو تلويزيون ، مطبوعاتو او نورو ډله ييزو رسنيو پورې مربوط حکمونه د قانون له لیارې تنظيمېږي.

پنځه دېرشمه ماده

د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مادي او يا معنوي غوښتنو د تامين لپاه د قانون له حکمونو سره سم ټولنې جوړې کړي.

د افغانستان اتباع حق لري د قانون له حکمونو سره سم سياسي ګوندونه جوړ کړي. په دې شرط چې:

١- د ګوند تګلاره او کړنلاره د اسلام د سپېڅلي دين د احکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي.

٢-د ګوند تشکيلات او مالي سرچينې څرګندې وي.

٣-نظامي او شبه نظامي تشکيلات او هدفونه و نه لري.

۴-له بهرنيو سياسي ګوندونو يا نورو بهرنيو منابعو سره تړلی نه وي.

د قوم ، سيمې، ژبې او مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعاليت کول جواز نه لري.

هغه جمعيت او ګوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړېږي د قانوني موجباتو او باصلاحتي محکمې له حکمه پرته نه منحل کېږي.

شپږ دېرشمه ماده

د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو روا او سوله ييزو غوښتنو د تأمين لپاره له قانون سره سم بې له وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.

اووه دېرشمه ماده

د اشخاصو د مخابرې او ليکونو آزادي او محرميت که په ليکلي ډول وي يا د ټلفون او تلګراف يا نورو

وسیلو له لارې له تېرې څخه خوندي دي.

دولت د اشخاصو د مخابرو او لیکونو د پلټنې حق نه لري مګر د قانون له حکمونو سره سم.

اته دېرشمه ماده

د شخص استوګنځی له تېري څخه خوندي دی.

هېڅوک د دولت په ګډون نشي کولای د استوګن له اجازې یا واکمنې محکمې له پرېکړې پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښودل شوي، د چا کور ته ورننوزي یا یې وپلټي.

د څرګند جرم په مورد کې مسوول مامور کولای شي د محکمې له مخکینۍ اجازې پرته د شخص کور ته ورننوزي یا هغه وپلټي. نوموړی مامور مکلف دی کور ته له ننوتو یا پلټنې وروسته، په هغه موده کې چې قانون یې ټاکي د محکمې پریکړه تر لاسه کړي.

نهه دېرشمه ماده

هر افغان حق لري د هېواد هرګوټ ته سفر وکړي او استوګن شي خو له هغو سیمو پرته چې قانون منع کړې وي.

هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له افغانستان څخه بهر سفر وکړي او بېرته را ستون شي.

دولت له هېواد څخه بهر د افغانستان د اتباعو د حقوقو ساتنه کوي.

څلوېښتمه ماده

ملکیت له تېري څخه خوندي دی.

هېڅوک د ملکیت د تر لاسه کولو او په هغه کې له تصرف کولو څخه نه منع کېږي. مګر د قانون په حدودو کې.

د هېچا ملکیت د قانون له حکم او د باصلاحیته محکمې له پرېکړې څخه پرته نه مصادره کېږي.

د شخص د ملکیت استملاک یوازې د عامه ګټو د تامین په مقصد د مخکیني او عادلانه بدل په ورکولو ، د قانون له مخې ،مجاز دی.

دشخص د شتمنۍ پلټنه او اعلان یوازې د قانون په حکم کېدای شي.

单词 لغتونه

教义；信仰；准则	〈阿〉[阳]	/mas'lak/	مسلک
意见，见解，看法	〈阿〉[阴]	/'aqi'da/	عقیده
歧视，不平等待遇	〈阿〉[阳]	/tab'i:z/	تبعیض
允许，许可	〈阿〉[阳]	/muja'wiz/	مجوز
威严，尊严	〈阿〉[阳]	/kara:'mat/	کرامت
利益	〈阿〉[阳]	/masa:'lih/	مصالح
免除；无罪	〈阿〉[阳]	/bara:'a't/	برائت
责任，职责；义务	〈阿〉[阴]	/zi'ma/	ذمه
被指控的；被告，嫌疑人	〈阿〉[阳]	/muta'him/	متهم
折磨，磨难，虐待	[阳]	/ta'a'zi:b/	تعذیب
追踪，起诉；检察	[及]	/ta'qiba'wəl/	تعقیبول
拘留，收监	[及]	/tauqifa'wəl/	توقیفول
丧失，失去；被剥夺	[不及]	/salbe'dəl/	سلبېدل
证明，证词	[阳]	/shaha:'dat/	شهادت
心理上的，精神的	〈阿〉[形]	/'aq'li:/	عقلي
保卫的，捍卫着的	〈阿〉[形]	/muda:'fi'/	مدافع
留心；尊敬，恭敬	〈阿〉[阳]	/ri'a: 'yat/	رعایت
准许，允许，许可	〈阿〉[阳]	/ja'wa:z/	جواز
印刷厂，印刷所	〈阿〉[阴]	/matba''a/	مطبعه

解散了的，被取消的，被废除的	〈阿〉[形]	/mun'hal/	منحل
侵占；占有	[及]	/tasarrufa'wəl/	تصرفول
亲密关系，秘密	〈阿〉[阳]	/mahrami'yat/	محرمیت
没收，充公；罚金，罚款	〈阿〉[阳复]	/masa:'dir/	مصادر

注释 تشریح

本文部分内容节选于阿富汗2004年宪法。宪法是一个国家的根本大法。学习普什图语的人应该了解阿富汗的宪法。本宪法全名为《阿富汗伊斯兰共和国宪法》，有别于以往的王国宪法和人民民主共和国宪法。本宪法于2003年12月13日由宪法起草委员会提交制宪大支尔格会议讨论。经逐条审议之后，于2004年1月4日由制宪大支尔格会议550名代表表决通过，随后由过渡政府总统卡尔扎伊于2004年1月26日签署生效。

练习 تمرین

根据课文回答问题。

١- د ملت هر وګړي څو حقونه لري ؟

٢- د ټولنيزو حقوقو په باره کې معلومات ورکړئ.

٣- د وګړو بنستيز حقونه او د اتباعو وجيبې د اساسي قانون په کوم فصل کې راوړل شوي دی ؟

۴- د اساسی قانون دوه ويشتمه ماده د کومو موضوعاتو څخه بحث کوي ، معلومات ورکړئ.

۵ - د برائت ذمه اصلي حالت څه ډول افاده کوئ ؟

٦- جرم يو شخصي عمل دی دا څرنګه افاده کوئ ؟

۷- د اساسي قانون نه ویشتمه ماده کوم موضوعات لري ، ویې وایئ .

۸- د اساسي قانون درې دېرشمه ماده د کومو موضوعاتو څخه بحث کوي ، معلومات ورکړئ .

۹- د اساسي قانون پنځه دېرشتمه ماده کوم موضوعات لري ، ویې وایئ .

۱۰- په اساسی قانون کې د بیان ازادي په باره معالومات ورکړئ .

第八课
اتم لوست

لومړی برخه

د شالامار باغ سېل

د ابدال ورور دانیان د پنجاب د سېل ګرځ په محکمه کښې دی. هغه اکثر د لاهور د تاریخي عمارتونو په هکله ابدال ته خبرې کوي. د ابدال یې لیدلو ته زړه وشو. هغه دا ځل د اوړی په چھټیانو کښې د دانیال سره لاهور ته لاړه. وړومبی یې د شالامار باغ د لیدلو پروګرام جوړ کړ. سبا دواړه وروڼه شالامار ته روان شول.

په لاره ور ته دانیال وویل چه دا باغ د مغول شاه جهان باچا په ۲۴۲۱ کښې جوړ کړی و. هغه په لاهور کښې پیدا شوی و. دې ښار سره یې ډېره مینه وه. هغه غوښتل چه لاهور دې هم د کشمیر په شان ښکلی او شین ښکاري. شالامار باغ ته چه ورسېدل او د ګاډی نه کوز شول نو ابدال یوه زړه چار ډېوالی ولیده . ډېر مایوسه شو. ټکټونه یې واخستل او په یوه وړه دروازه باغ ته ننوتل. دننه خو څه بله دنیا وه. شنو چمنونو، ګڼو ونو،



لویو لویو تالاوونو او فوارو یو زړه راښکونکی منظر جوړ کړی و. ابدال ته د بهر نه پته نه لګېده چه دننه دومره ښکلې نظارې د ده منتظرې دی.

"په څه سوچ کښې تلی یې ابداله؟" د دانیال اواز دی رابېدار کړ. "ایله خو مونږ باغ ته راننوت. اصل منظرې خو به اوس

راځي. " هغوی په خښتو فرش شوې يوه لار باندی روان شول. خوا کښې ور سره د اوبو لښتی روان و. ځای په ځای يې فوارو خوند لا زيات کړی و.

"لالا دا دومره اوبه د کوم ځای نه راځي، او دا فوارې څنګه چلېږي؟" ابدال پوښتنه وکړه. "يره افرين شه ستا په سوچ او مشاهده"، دانيال وويل. "د ټولو نه وړومبی د راوی سيند نه يو نهر باغ ته راوستلی شو و او باغ به يې پرې اوبه کول. د فوارو دپاره پکار و چه اوبه يو اوچت ځای ته وخېژوي او بيا د بره نه تېزې راځي. هغه وخت بجلۍ او د اوبو مشينونه نه وو. کوهی او ډيګۍ به يې جوړولې. د کوهو نه به يې په څرخونو اوبه پاس ډيګيو ته خېژولې. څرخونه به هاتيانو تاوول. د ډيګيو نه به اوبه د ختو په پخو پيپونو کښې د باغ تالاوونو ته رسولی شوې. دا پيپونه تر ننه پوری ښه کار ورکوي. نن سبا د هاتيانو او څرخونو په ځای د بجلۍ پمپونه دی."

په خبرو خبرو کښې هغوی يوې لويی کوټې ته ورننوتل. دې کښې څلورو واړو طرفونو ته محرابی ورونه

او ستنې وې دانيال وويل چه دا د مغول د ابادۍ يو خاص انداز دی او دا عمارت د هغې نمونه ده. دې ته منا (باره دری) وايي. څلورو واړو خواو ته يی درې درې دروازې دي. دا منا د باغ په اوچته حصه کښې ده. راځه چه د دغه ځای نه د باغ سېل وکړو.

ابدال د منا نه د باغ منځنۍ او لاندينۍ برخې وليدلې. په منځنۍ برخه کښې يو لوی تالاو و چه ډېرې فوارې يې لرلې. د تالاو ښی او ګڅ اړخ ته د سرو کاڼو دوه مناګانې وې. د چونترې نه ور ته لارې ورغلې وې. ور سره نژدې د سنګ مر مرو يو تخت و چه څلور واړو طرفونو ته يې ښکلې جالۍ لګېدلې وې.

"لالا دا د بادشاه تخت دی؟" ابدال تپوس وکړ. دانيال وويل، "او، راځه چه نژدی ورشو" ابدال ور منډه کړه. " تخت ته ورغلل او په جاليو يې لاس وهه او وې ويل چه شاه جهان به په دې تخت په څومره دبدبه کښې

ناست و." بیا یي چه ور ته لاندی وکتل نو وې ویل، "لالا دې کښې خو چاود راغلی دی." لالا یي یو سوړ اسوېلی وکړ، وې ویل، "ابداله دا یوه بې خونده قصه ده. کله چه د مغول حکومت کمزوری شو نو په دې ځای سکانو قبضه وکړه. د هغوی سنګ د دې باغ ټول قیمتی کاڼي او نور نایابه څیزونه ووېستل او خرڅ یي کړل، یا یي په



خپلو عمارتونو کښې ولګول. هغه دا شاهی تخت هم امرتسر ته وړه خو د وېستلو په وخت کښې مات شو بیا یي دغسې مات پرېښود." ابدال په ډېر افسوس ووې "مطلب دا چه د شالامار د باغ اوس هغه شان شوکت نشته کوم چه د شاه جهان په وخت کښې و". لالا یي وویل،"او، خو دا هم غنیمت دی چه د دې دومره لوټمار باوجود زمونږ دا تاریخی میراث تر ننه بوری شته."

خېر! دا وګوره د تخت شاهی شا ته ابشار دی. په دې باندی ډېر ښکلی کند شوی دی چه د پاسه نه پرې اوبه په غورځنګونو مرکزی تالاو ته رابهیږي. د تالاو په منځ کښې د سنګ مرمرو یوه چونتره ده. دې ته "مهتابی" وایي. دوی د سرو کاڼو د منا نه مهتابی ته ورسېدل. دانیال خپله خبره جاری وساتله او وې ویل، "دا د شالامار باغ د ټولو نه زیات زړه راښکونکی ځای دی. د سپوږمۍ په شپو کښې د تالاو په منځ کښې د تکو سپینو سنګ مرمرو مهتابی او څلور واړو طرفونو ته د فوارو اوبه یوه زړه راښکونکې فضا جوړوی. د شاهی کورنۍ خلک به په مهتابی او مناګانو کښې ناست وو او د دې منظر نه به یي خوند اخسته."

د دانیال په دې خبرو د ابدال په سترګو کښې د هغه وخت نقشه وګرځېده. چه لږ مخکښې لاړل نو ابدال یو وړوکی تالاو ولید چه پنځه فوارې پکښې لګېدلې وې. د تالاو درې اړخونو ته د سنګ مرمرو دېوالونه وو چه واړه واړه محرابی تاخونه پکښې جوړ وو. ابدال په سوچ کښې شو چه دا په سوونو تاخونه د څه دپاره جوړ شوی دی؟ دانیال د ابدال د حېرانتیا نه خوند اخست. اخر یي ور ته په مسکا کښې ووې چه "پخپلو مازغو دومره بوج مه اچوه. زه یي در ته وایم. دغه تاخونو کښې به یي د ورځې د رنګ رنګ ګلونو ګلدستې ایښودې



او د شپې به يې پکښې د کافورو شمعې بلولې. د دېوال د پاس نه به پرې راغورزېدونکې اوبه داسې ښکارېدې لکه صفا څادر چه پرې چا غوړولی وی. دغه شان به د ورځې دېوالونه رنګين ښکاره کېدل او د شپې به ترې رنګ په رنګ رڼاګانې راوتلې. د تالاو د فوارو خوند به پرې دپاسه لا بل و. ښی او ګڅ طرفته چه کومې مناګانې دی هغې ته 'ساون بادو' وايي. شاهی کورنۍ به دلته کښېناستله او د دې منظر نه به يې خوند اخست."

ابدال داسې محسوسوله لکه چه هغه پخپله د شاهی کورنۍ سره په منا کښې ناست دی او هر څه پخپلو سترګو ګوري. ده وويل، "لالا د شاه جهان په زمانه کښې خو به شالامار باغ ډېر ښکلی و." دانيال سر وخوزاوه او و يې ويل چه، "اوس هم دلته د مېلمنو په درناوی کښې مېلمستيا ګانې او تقريبونه کېږي او سړی ته د شاهی دور يادونه تازه کوي."

اوس دوی د ټولو نه لاندی حصې ته روان وو. "لالا دې دواړو اړخونو ته سرزوړې لارې ولې جوړې دی؟" ابدال ور ته اشاره وکړه، "په منځنۍ حصه کښې مې هم داسې لارې ليدلې وې". "ابداله ته داسې پوښتنې کوې چه سړی ته د باغ هغه پخوانی وخت بيا رایاد شی" لالا ور ته ټوقه کښې وويل، "اصل کښې دا لارې اسونو يا وړو ګاډو ته جوړې شوې وې چه شهزادګۍ پکښې کښېناستې او د باغ سېل به يې کاوه."

دانيال باغ ته په کتو کښې وويل چه، "د تاريخی اهميت په وجه دا باغ جهانی ميراث ګڼلی شوی دی." يعنی په دې کښې ټوله دنيا د افتخار او پالنې حق لري. د ډېرو خلقو د تګ راتګ باوجود د باغ د صفايي خيال پوره پوره ساتلی شی. د دومره ډېر وخت د تېرېدو نه پس هم اکثر ونې هم هغه شان دی.

"ښه! د شالامار باغ سېل ختم شو. نور عمارتونه به بيا وګورو." دانيال وويل، "دا را ته ووايه چه د نن سېل ښنګه و؟" ابدال ور ته د شکريې په نظر وکتل او وې ويل چه "لالا دا زما د ژوند د ټولو نه ښه سېل و، او بيا د تا سره يو ځای يې خوند لا زيات وکړ."

单词 لغتونه

失望的，扫兴的	〈阿〉[形]	/ma:'yu:s/	مایوس
水池；池塘	[阳]	/ta:'la:u/	تالاو
喷泉，喷水池	〈阿〉[阴]	/fa(w)wa:'ra/	فواره
地毯；地板	〈阿〉[阳]	/farsh/	فرش
(人工的)水道；运河，水渠，灌溉渠	[阳]	/laḥ'tai/	لښتی
称赞，赞扬，嘉许	[阳]	/a:f'ri:n/	افرین
水塔，水箱	[阴]	/ḍi:gəi/	ډیگۍ
轮，车轮；螺旋桨；砂轮，磨轮；旋转，转动	[阳]	/tsarkh/	څرخ
象	〈印〉[阳]	/ha:'ti:/	هاتی
使弯曲，使盘绕；使旋转；卷上，卷起	[及]	/ta:wa'wəl/	تاوول
清真寺内部墙壁中指示向麦加方向的壁龛(即教长站的地方)；祭坛，祷告室	〈阿〉[阳]	/mih'ra:b/	محراب
风格，叙述；姿势，姿态	〈波〉[阳]	/an'da:z/	انداز
石，石头	〈波〉[阳]	/sing/	سنگ
大理石	〈波〉[阳]	/mar'mar/	مرمر
网，金属网，蛛网；纱布	[阴]	/ja:'ləi/	جالۍ
缝，隙，裂缝，裂口	[阳]	/cha:ud/	چاود
叹气，叹息	[阳]	/aswe'lai/	اسوېلی
把柄，把手；占用的空地；具有，占有	〈阿〉[阴]	/qab'za/	قبضه
伟力，威力；权力，实力	〈阿〉[阳]	/shaw'kat/	شوکت

战利品：获得战利品；顺利的情况，利用时机	〈阿〉[阳]	/ghani'mat/	غنیمت
强盗，掠夺者，寇贼	[阳]	/lut'ma:r/	لوټمار
（钉在墙上的）搁架，壁橱	[阳]	/ta:kh/	تاخ

注释 تشریح

1 شالامار باغ 夏利玛公园，“夏利玛”意为“娱乐宫”或“喜乐宫”。该公园是莫卧儿王朝时期沙贾汗国王于1642年下令修建的，整个公园占地17公顷多。设计师阿·马顿按照沙贾汗国王的要求，用乳白色的大理石建造了亭台楼阁，连引水的沟渠也用洁白如雪的大理石砌成。巴基斯坦的很多文人都在作品中称之为“爱神之家”。

2 شاه جهان 沙贾汗（1592—1666年），印度莫卧儿帝国的皇帝。

练习 تمرین

一、回答问题。

١- ابدال چه باغ ته داخل شو نو څه یي ولیدل؟

٢- د شاه جهان په زمانه کښې فوارې څنګه چلېدې؟

٣- سکانو د خپل حکومت په وخت کښې باغ ته څه ضرر ورکړ؟

۴-د ساون بادو پحقله څه وایي؟

۵- د شالامار باغ کوم منظر مو ډېر خوښ شو؟

二、填空题。

١- هغه دا ځل د اوړی په ________ کښې د دانیال سره لاهور ته لاړه.

٢- ________ او ________ به یي جوړولې. د کوهو نه به یي په څرخونو اوبه پاس ډېګیو ته خېژولې.

۳- په منځنۍ برخه کښې يو لوی تالاو و چه ______________ يې لرلې.

۴- دانيال خپله خبره جاري وساتله او وې ويل، "دا د شالامار باغ د ټولو نه زيات زړه ______________ ځای دی.

۵- د دېوال د پاس نه به پرې راغورزېدونکې اوبه داسې ښکارېدې لکه ______________ چه پرې چا غوړولی وی.

۶- اصل کښې دا لارې اسونو يا وړو ګاډو ته ______________ چه شهزادګۍ پکښې کښېناستې او د باغ سېل به يې کاوه.

三、判断对错。

۱- شالامار باغ په ۲۴۲۱ کال کښې په پنجاب ولايت کښې جوړ کړی و.

۲- د تالاو ښی او ګس اړخ ته د سرو کاڼو دوه مناګانې وې.

۳- اوس د شالامار د باغ شوکت د شاه جهان د وخت په شان و.

۴- په يو وړوکي تالاو کښې ۵ فوارې شته.

۵- د تالاو څلور اړخونو ته د سنګ مرمرو دېوالونه وو.

۶- شالامار باغ عالمي ميراث ګڼلی شوی دی.

四、翻译句子。

۱- په لاره ور ته دانيال ووېل چه دا باغ د مغول شاه جهان باچا په ۲۴۲۱ کښې جوړ کړی و. هغه په لاهور کښې پيدا شوی و.

۲- دننه خو څه بله دنيا وه. شنو چمنونو، ګڼو ونو، لويو لويو تالاوونو او فوارو يو زړه راښکونکی منظر جوړ کړی و.

۳- ور سره نزدې د سنګ مر مرو يو تخت و چه څلور واړو طرفونو ته يې ښکلې جالۍ لګېدلې وې.

۴- د هغوی سنګ ددې باغ ټول قيمتي کاڼې او نور نايابه څيزونه ووېستل او خرڅ يې کړل، يا يې په خپلو عمارتونو کښې ولګول.

۵- د سپوږمۍ په شپو کښې د تالاو په منځ کښې د تکو سپينو سنګ مرمرو مهتابي او څلور واړو

طرفونو ته د فوارو اوبه یوه زړه راښکونکې فضا جوړوي.

۲- اخر یې ور ته په مسکا کښې ووې چه "پخپلو مازغو دومره بوج مه اچوه.

五、用普什图语简要介绍你参观过的世界文化遗产。

دوهمه برخه

د موئن جودړو سېل

ذاکر نن د کلاس ملګرو سره پېښور یونیورسټۍ ته تللی و. کور ته چه راغی نو مور ترې پوښتنه وکړه، " وایه کنه زویه! چکر مو څنګه و "؟ " ډېر ښه و ". ذاکر وویل، " د صاحبزاده عبدالقیوم د اثار قدیمه عجائب ګر ډېر خوند راکړ. دا د پېښور یونیورسټۍ په یو لوی عمارت کښې دی. هلته مو د پخوا زمانې د لوبو څیزونه، اوزار، لوښی او کالی ولیدل. ډائرکټر را ته د کانی اوزار را وښودل او و یې ویل چه دا اوزار پنځه لکه کاله پخوانی دی. د موئن جودړو د کنډرونو تصویرونه او نور ډېر څیزونه مو هم ولیدل."



" موئن جودړو چېرته دی؟ " فاطمې پوښتنه وکړه. پلار یې وویل، " لورې! موئن جودړو په سند صوبه کښې د لاړکانې سره نزدې دی. دا د دنیا د ډېرو پخوانو ښارونو په شمار کښې راځی او نخښې یې صحی سلامتې پاتې شوی دی. د ودانیو، کوڅو او نورو ډېرو څیزونو نه یې د هغه خلکو د ژوند ژواک ښه پته لګی چه زرګونه کاله وړاندی تېر شوی دی. "

ذاکر او فاطمې په ډېره دلچسپۍ د پلار خبرې اورېدې او په تصور کښې موئن جودړو ته رسېدلی وو. په دې کښې ذاکر پوښتنه وکړه، " موئن جودړو د دې ځای نه څومره لرې دی. " پلار د ذاکر په مطلب پوی شو. "

لرې خو دی، خو لیدل به غواړی "، هغه وویل. " د ژمی په چټیانو کښې به د خپره ځو. " د دې خبرې په اورېدو ایله د ماشومانو د زړه واورېدلی شوه. د خوشحالۍ نه یې پښې په زمکه نه لګېدې. یوه یوه ورځ به یې شمارله چټیانې را نزدې شوې. په ډېره خوشحالۍ یې یوه هفته مخکښې د سفر تیارۍ شروع کړې. د لائبرېرۍ نه یې د موئن جودړو په حقله کتابونه راوړل. د پاکستان په نقشه کښې یې لاړکانه او موئن جودړو لټول. فاطمې د هغه ښارونو نومونه یادول چه رېل ګاډی پرې تېرېږي. اخر د روانېدو ورځ راورسېده. ماشومان مخکښې چرې په رېل ګاډی کښې نه وو تلی. زر زر د رېل په ډبه کښې کړکیو ته کښېناستل او د هر منظر نه به یې خوند اخست.

بله ورځ موئن جودړو ته ورسېدل. د لږ ارام نه پس د یو ګائډ سره موئن جودړو ښار ته روان شول. په لاره کښې ګائډ وویل چه په سندهي ژبه کښې موئن جودړو " د مړو ځلی " ته وایي. اول دلته یو ځلی و چه د بنیادمانو هډوکي پکښې و موندلی شول. خو د نور کند سره یو مکمل ښار راووت چه لویه علاقه یې نیولې

ده. په دې وجه دې پخوانی ښار ته د موئن جودړو نوم ورکړی شو. ماهرین وایي چه دا ښار پنځه زره کاله مخکښې اباد شوی دی او د زر کاله پورې په پوره دبدبه کښې و. خو یو وخت پرې د دریای سند طوفاني چپې ورو ختلې او د موئن جودړو اباد ښار یې د خاورو او ختو لاندې کړ. هغه مخامخ وګورئ، نخښې یې ښکاري.

لږه شېبه پس د موئن جودړو کنډراتو ته ورسېدل. ماشومان د ښار په صفا سوتره خو شاړو کوڅو کښې ګرځېدل را ګرځېدل. د کوڅو دواړو طرفونو ته د پخو خښتو نه جوړ قطار قطار کورونه وو. د کوڅو غاړو ته د خښتو لښتې وو. ماشومان د هغو خلکو په حقله سوچ وړی و چه په دې کورونو کښې به اوسېدل او په دې کوڅو او سړکونو به ګرځېدلی وی. مور یې وویل،" دا څومره د حېرانتیا خبره ده چه څلور زره کاله د موئن جودړو ښار په خاورو کښې خښ و. خو د کنستلو نه پس دا سې ښکاري چه تاسو په یو اباد ښار کښې ګرځئ او اوس به د یوې کوڅې د ګوټ پېر نه یو سړی راووځی او تاسو سره به ستړې مشې وکړی. "

" راځئ چه اوس داسی لاړ شو " ګائډ د یوې غونډۍ طرف ته اشاره وکړه. ذاکر په منډه ځان ور ورساوه. " ګورئ، دا لاندی جوړې د لامبلو تالاو دی " ذاکر وویل. " اندازه دې ټیک ولګوله " ګائډ وویل او په شا یې وتپوه، " تالاو دی خو د لامبو وهلو دپاره نه، بلکی د هغه وخت د خلکو عقیده وه چه دې کښی لامبل د عبادت یوه برخه ده. "

" او دا څه دی؟ " فاطمې یوې لویې څلور دېوالۍ ته ګوته ونیوله. " لورې، دا د سرکاری غلې یو ګودام و "، ګائډ وویل، " ګورئ! په دې کښی لوی لوی روشندانونه ښکاری او د پوړو نه دا پته لګی چه دا دوه چتیزه ودانی وه. اوس دې خوا راشئ. دا اسمبلی هال دی. دا په ۲۰ ستنو ولاړ دی. د دې نه دا پته لګی چه دا یو لوی او شانداره هال و. " پلار وویل، " داسی ښکاری چه دا یو ډېر اهم ښار و ". " دا خبره خو دې بالکل سمه ده، " ګائډ وویل، " په هغه زمانه کښی د دریای سند په ښېرازه وادۍ کښی ډېر ښارونه اباد وو. د ځینی خلکو دا خیال دی چه موئن جودړو د دې ټولې سیمې دارالخلافه وه. "

دې نه پس ګائډ ماشومان عجائب ګر ته بوتلل. هغه وویل چه " عجائب ګر کښی ټول هغه څیزونه دی چه د موئن جودړو د کنستلو نه راوېستی شوی دی. " ماشومانو هلته د لوبو ډېر څیزونه، لوښی، ګاڼې او مهرونه ولیدل. د لوبو په څیزونو کښی مختلف ځناور، مارغان، د غویانو رېړې، ګوډۍ او نور ډېر څه شامل وو. د لوبو د دومره ډېرو څیزونو په لیدلو سره مور وویل، " زما په خیال چه د هغه زمانې خلکو به هم د خپلو بچو د خوشحالۍ ډېر خیال ساته. "

پلار ګړۍ ته وکتل او و یې ویل " او هو، دوه بجې خو راباندی دلته شوی، په ډوډۍ خوړلو به هم وخت لګی او په څلور بجې به ځان رېل ګاډی ته رسوو. "

ټولو د ګائډ شکریه ادا کړه او رېست هاوس طرف ته روان شول.

单词 لغتونه

废墟	[阳]	/kan'ḍar/	كنډر
卫生的，医疗的	〈阿〉[形]	/sah'hi:/	صحی
健康的，身体好的	〈阿〉[形]	/sala:'mat/	سلامت
兴趣，趣味	[阴]	/dilchas'pi:/	دلچسپی
思想，想法	〈阿〉[阳]	/tasaw'wur/	تصور
车厢	[阴]	/ḍa'ba/	ډبه
石丘	[阳]	/'tsəlai/	ځلی
完善的，尽善尽美的，完美无缺的	〈阿〉[形]	/muka'mal/	مکمل
(外表的)宏壮，高贵；威力，实力，势力	[阴]	/dabda'ba/	دبدبه
暴风雨的，狂风大浪的	〈波、阿〉[形]	/tufa:'ni:/	طوفانی
行，队	〈波〉[阳]	/qa'ta:r/	قطار
埋葬的，被掩埋的，被埋葬的	[形]	/khah/	خښ
盖上，合上(书)；关闭(收音机)；敲(门)	[及]	/ṭapa'wəl/	ټپول

注释 تشريخ

موئن جودړو 摩亨佐·达罗考古遗址，又称“死丘”或“死亡之丘”(Mound of the Dead)，位于今巴基斯坦信德省的拉尔卡纳县南部，是印度河流域文明的重要城市，世界上早期古代城市之一，有“古代印度河流域文明的大都会”之称，1980年被列入世界遗产，与哈拉帕文明并称为古印度文明的代表。摩亨佐·达罗大约于公元前2600年

建成，多认为是由古印度的白种雅利安人入侵之前达罗毗荼人所缔造的都市文明，约于公元前1900年弃置。

تمرين 练习

单项选择题。

۱- موئن جودړو چېرته دی ؟

(الف) پېښور　　(ب) سند

(ج) لاهور　　(د) لاړکانه

۲- ممکنه ده چه ذاکر او فاطمې کله موئن جودړو ته سېل وکړ ؟

(الف) اوری　　(ب) وږی

(ج) سرطان　　(د) جدي

۳- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه درسته ده ؟

(الف) زرګونه کاله مخکښې په موئن جودړو کښې کوڅې نه وې.

(ب) ذاکر په پېښور یونیورستي کښې یوازې د موئن جودړو د کنډرونو تصویرونه ولیدل.

(ج) موئن جودړو د ذاکر د کور نه ډېر لرې دی.

(د) ایله د ماشومانو د خبرې په اورېدو پړمخ ولوېده.

۴- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه غلطه ده ؟

(الف) ذاکر او فاطمه یوه اونۍ مخکښې د سفر تیارۍ شروع کړې.

(ب) د کتاب خانه نه یې د موئن جودړو په حقله کتابونه راوړل.

(ج) رېل ګاډی پر موئن جودړو تېرېږي.

(د) د رېل په ډبه کښې یې یوه ورځ کښېناستل.

۵-په دغه مقاله کښې ګائډ څه معنی ده؟

(الف) هدایت (ب) ښودنه (ج)ښوونکی (د) لارښود

۶- دې ښار ته موئن جودړو نوم ولی ورکړی شو ؟

(الف) ځکه چه هلته یو څلی و.

(ب)ځکه چه هلته یو څلی و چه پکښې ډېر کندونه وو.

(ج) ځکه چه هلته یو څلی و چه د بنیادمانو هډوکی پکښې و موندلی شول او د نور کند سره یو مکمل ښار راووت چه لویه علاقه یې نیولې ده.

(د) دغه مقاله مونږ ته ځواب ونه ورکړ.

۷- ذاکر له څومره کسان سره موئن جودړو ته سېل وکړ ؟

(الف) ۲ (ب)۴ (ج) ۳ (د)۵

۸- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه درسته ده ؟

(الف) په موئن جودړو کښې یو جوړ د لامبلو تالاو و.

(ب)اوس ځینی کسان په موئن جودړو کښې واوسېدل.

(ج) د موئن جودړو د کوڅو دواړو طرفونو ته کورونه له خښتو نه جوړ شوی وو.

(د) ذاکر نیمه ورځ په موئن جودړو کښې سېل وکړ.

۹- د دې متن په باب لاندنې خبرې کومه غلطه ده ؟

(الف) د کوڅو غاړو ته د خښتو لښتی وو.

(ب) د موئن جودړو ښار څلور زره کاله په خاورو کښې خښ و.

(ج) اسمبلی هال دوه چتیزه وانی وه.

(د) د موئن جودړو ښار پنځه زره کاله مخکښې اباد شوی دی.

۱۰- کوم څیز د موئن جودړو د کنستلو نه راوېستلی شوی نه دی ؟

(الف) لوښی (ب) ټاپه (ج) پیرایه (د) ګوډۍ

لومړی برخه

د افغانستان هنر(۱)

ودانۍ او معماري:

د منځنۍ آسيا د معمارۍ فن له لسمی سدۍ څخه بيا د هرات د تيموريانو تر وختو پورې خورا غوړېدلی و ، چې نمونې يې د غزني اوجام او د هرات منارې او نورې ودانۍ دي . د اتلسمی سدۍ په منځ کې چې احمد شاه دراني بيا د افغانستان سره شلېدلي لمن راغونډه کوه نو بيا د ودانۍ فن لږو ډېر وغوړېدي او دلته موږ وينو ، چې د کابل او قندهار او هرات د معمارانو کورنيو خپله هنر نماني بيا په ودانيو کې ښکاره کړې ده او درې د معمارۍ ډولونه پکې ليدل کېږي :

لومړی : د خراسان قديم سبک چې د هرات د تيموريانو په عصر (شپاړسمه پيړۍ) کې تکميل شوی و .

دوهم : د مقامي کلاوو او برجونو ښکلې ودانۍ چې مواد يې خاورې او ډبرې وې .

دريم : د هند د اسلامي سلطنت او مغولي شاهانو د ودانيو اثر چې (خراساني+هندي) سبک يې ګڼلای شو.

د دغو معماري ډولونو په ودانيو کې اکثر پخه خښته ، اومه خښته ، ګچ ، تيږه ، اهاک ، سارو ، خاوره

استعمالېده او د اقليمي او اجتماعي اوضاعو په لحاظ يې غټ او پلن او جګ دېوالونه او په کابل کې د لرګو ودانۍ ، خو په نورو ځايو کې د پخو يا اومو خښتو پوښښونه جوړېدې . د کابل په ګرده سيمه کې د لرګو سره نښتې ودانۍ رواج وې ، خو د کندهار د پخو خښتو پوښښ چې په ګچو سره نښلول کېږي ، تر اوسه ژوندی دي . په هرات او شمالي سيمو کې د اومو خښتو د زربۍ پوښښونه له اقليمي اوضاعو سره مقاومت کولای شي او د کابل او هندوکش په سيمو کې چې زلزلې پېښېږي ، عمومي ودانۍ له لرګو څخه جوړېږي .

د ودانيو دننه دېوالونه او چتونه په سپينو ګچو يا رنګه ګلکاريو او تصاويرو ښکلي کېدل ، د کندهار د ګچونقاشي او هندسي شکلونه او ډول ډول ګلکارۍ ډېرې نفيسې وې ، د هرات د مقرنس سازۍ کار ، د قديم نفيس هنر نمايندګي کوله ، د غزني نقاشانو د کابل د سيمو د ودانيو چتونه او ديوالونه په ښکلي رنګ او ډول انځورول او کله کله به ښيښه کاري هم پکښې کېده او سپين ګچي دېوالونه به په طلا يا د طلق په ټوټو افشان کېدل .

لکه چې دمخه وويل شوه ، د کليو کلاوې به د پخو ختو څخه په دای (پخسه) داسې ټينګې او ښکلې ودانېدې ، چې په سديو به يې د باران ، واورې او نورو طبيعي آفاتو ، سيلو او زلزلو سره مقابله کوله او نړول به يې خورا ګران کار و ، ختهٔ يې داسې پخوله ، چې اول به يې يومن وچه خاوره له اوبو سره ګډه کړه ، بيا به يې د ونې سره واړوله او تر پښو لاندې به يې پخه کړه ، چې بيرته به يې تول هغه يو من و .

په کابل کې د اتلسم قرن په آخرو کې د قندهار د معمارانو يوه مشهوره کورنۍ راغلې وه ، چې مشر يې محمد ياسين معمار و ، له دوی څخه په کندهار کې د احمدشاه دراني ګنبده او د چارسو لويه ګنبده او د کندهار د شاه جامع او د خرقې شريفې ګنبده او جامع او زړه جامع او د مير هزار جامع عمارتونه او په نونسم قرن کې د کهندلخان جامع پاته دي او کله چې کابل ته راغله ، دلته يې د کابل د بالاحصار کلاوې بيا جوړې کړې ، د تيمور شاه ګنبده هم د دوی په لاس جوړې شوې ، د جلال آباد د حکومتي باغ او د خلم د باغ جهان نما هم د دغه هنر نمونې دي .

مفروشات:

د ډول ډول رنګه او ساده مفروشاتو جوړونه د افغانستان د خلکو يو قديم صنعت دی ، چې په شلمه پيړۍ کې هم ژوندی پاته دی ، داخلي او خارجي بازار لري .



۱- غالۍ اودل: چې د هندوکش په شمالي ولایاتو کې له بدخشانه تر میمنې او هراته ، خورا نفیسې او پنډې ټینګې د پایښت وړ رنګینې غالۍ جوړېږي او اوس لویې او کوچنۍ خارج ته هم صادرېږي ، د جوړولو مواد یې سپنسي ، اورته ، وړۍ او مختلف نباتي او معدني رنګونه دي . مشهور انواع یې مورۍ ، قزل ایاقۍ ، آقچه یۍ ، هراتۍ دی . اکثر یې ښځې اوبي .

۲-کمبلې او ټغرونه: دا صنعت هم له پخوا څخه ژوندی پاته دی ، اکثر یې په هندسي او لوزي انځورونه ښکلي کېږي ، چې لوی مرکز یې د افغانستان مرکزي یا شمالي سیمې دي ، هغسې خونو هر څوک د خپل احتیاج لپاره کمبلې او ټغرونه ځانته جوړوي .

۳- کراسته : دا هم له وړیو څخه بې له اودنې په خاصه توګه مښلو او لندولو داسې جوړوي ، چې وړۍ پخپله سره نښلي او د باندې رنګینې یا ساده ګل کارۍ پرې کوي ، د سړو سیمو لپاره ډېر ښه فرش ځنې جوړوي او کله چې له پټ څخه جوړه شي ، نو خورا نفیسه او پسته وي . په بدخشان، هلمند ، فراه ، او کندهار کې ښې کراستې جوړېږي ، چې کله خارج ته هم صادرېږي .

د کندهار د کراستو د توشکانو صنعت دېرش کاله پخوا لا ژوندی و ، چې د خونو د ژمي د فرش لپاره به یې یو راز سپین منقش او ډولي توشکان په خورا ښکلو رنګو جوړوله او خاص صنعت کاران یې لرل .

د کالیو صنعت:

د نونسم قرن تر نیمایي پورې د افغانستان د خلکو کالي ، د خپلو لاسو جوړ کړي کالي وو ، چې له سپنسیو او اینځیو یا وربښمو څخه به اودل کېدل .

د دغو لاسي صنایعو مرکزونه هرات ،

فراه ، هلمند ، کابل ، ننګرهار ، لغمان او د شمالي سیمو کلي او ښارونه وو ، خو کله چې په دغو وختو کې د هند له پلوه د ماشیني مصنوعاتو تجارت شروع شو ، نو په ورو ورو دغه لاسي داخلي مصنوعات لړ یا ورک شول ، د هرات او کابل د وریښمینو او وړینو کالو او پټوانو دستګاهونه وتړل شوه ، د نخي ټوکرانو او کرباسو صنعت مړ شو ، فقط په شمالي ولایاتو کې لا تر اوسه هم فقط د چینو لپاره د وریښمینې یا نخي الچې جوړولو صنعت ژوندی دی او په داخلي ماشیني برقي کارخانو کې د اغوستلو ټوکران دونې اودل کېږي ، چې د لاسي نساجۍ ، نفیس صنعت یې نابود کړې دې .

د غزني او کابل او نورو سړو سیمو د پوستین د وزۍ صنعت تر اوسه پاته دی ، چې د پسونو یا د قره قل یا ګیدړې او خفک له پوستو څخه ډېر نفیس پوستینونه او پوستینچې ، دسکلې ، جورابې یا خولۍ جوړېږي او د ستنې په وریښمو ګنډلو ګل کاریو ښکلي کېږي .

لغتونه 单词

显示，表现出	[不及]	/nma:ye'dəl/	نمائېدل
古代的，古时的；老的，古老的	〈阿〉[形]	/qa'di:m/	قدیم
完善，完美	〈阿〉[阳]	/tak'mi:l/	تکمیل
几何学	[阴]	/handa'sa/	هندسه
精美的，雅致的，美丽的	〈阿〉[形]	/na'fi:s/	نفیس
不幸，倒霉；天灾，灾害	〈阿〉[阳]	/a:'fat/	آفت
毯，地毯	[阴]	/gha:'ləi/	غالۍ
粗的；厚的；粗针	[阳、形]	/pənd/	پنډ
稳固，稳定，坚固，牢固	[阳]	/pa:'yəht/	پایښت
种，类，品种	〈阿〉[阴]	/'naw'(a)/	نوع

羊毛毯子	[阴]	/kam'bala/	کمبله
无绒头地毯，粗地毯	[阳]	/ta'ghar/	تغر
薄毯，毡	[阴]	/k'rasta/	کراسته
使潮湿，浇湿，淋湿，浸湿，蘸湿	[及]	/landa'wəl/	لندول
磨，涂擦，擦，磨碎；搓，揉碎	[及]	/mə'həl/	مښل
无绒头小地毯	〈波〉[阳]	/to'shak/	توشک
线	[阳]	/span'sai/	سپڼس
同دومره	[副]	/'du:ni/	دونی
织，纺织	[阴]	/nasa:'ji:/	نساجی
消失的，不存在的	〈波〉[形]	/na:'bu:d/	نابود
貂	[阳]	/kha'fak/	خفک
羊羔皮	〈土〉[阳]	/qara'qul/	قره قل
手套	[阴]	/daska'la/	دسکله
建筑学，建筑术；建筑艺术	[阴]	/mi'ma:'ri:/	معماری
科学，艺术，手艺；技术	〈阿〉[阳]	/fan/	فن
伊斯兰清真寺的高塔	〈阿〉[阴]	/man: 'ra/	مناره
(自阿قلعه)堡垒，要塞	[阴]	/kala/	کلا
塔，塔楼	〈阿〉[阳]	/burj，brəj/	برج
砖	[阴]	/khəhta/	خښته
石灰；石膏	〈波〉[阳]	/gach/	گچ
石灰	[阳复]	/a:'hak/	آهک

宽的，广阔的，辽阔	［形］	/plən，plan/	پلن
砖瓦工，灰泥匠；建筑工人	［阳］	/gil-'ka:r/	ګلکار

注释 تشريخ

احمد شاه دراني 阿赫马德沙·杜兰尼。阿赫马德沙是阿富汗统一国家的奠基人，也是阿富汗杰出的军事家和政治家。他通过反对异族压迫的战争实现了阿富汗的完全独立，并在国内建立了中央集权制的机构，把分散的阿富汗诸部落联合成一个统一的政权。

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- د منځنۍ آسيا د معمارۍ فن په کوم وخت کې غوړېدلی و ؟

۲- د افغانستان پخوانی ودانۍ له کوم کوم شيانو څخه جوړ شول ؟

۳- د افغانستان د معمارۍ څو ډولونه لري ؟ کوم کوم دي ؟

۴- هغه ودانۍ چې له پخو خښتو څخه جوړ شوي دي څه ګټه لري ؟

۵- د کمبلې او ټغرو د جوړولو مواد څه دي ؟

二、判断对错。

۱- د اتلسم پيړۍ په پای کې د معمارانو يوه مشهوره کورنۍ قندهار ته راغلې وه .

۲- د خرقې شريفې ګنبده او جامع د محمد ياسين په لاس جوړ شوی وو .

۳- په سرو سيمو کې کمبلې او ټغرونه جوړېږي .

۴- د نونسم قرن د نيمايي د مخه د افغانستان د خلکو کالي ، د خپلو لاسو جوړ کړي کالي .

۵- کله چې د هند او روس کالي راغي ، د افغانستان لاسې کالي مصنوعات لړ يا ورک شول .

三、翻译句子。

۱- د کابل په ګرده سیمه کې د لرګو سره نښتې ودانۍ د لرګي رواج وې ، خو د کندهار د پخو خښتو پوښښ چې په ګچو سره نښلول کېږي ، تر اوسه ژوندی دي .

۲- ختمه یې داسې پخوله ، چې اول به یې یومن وچه خاوره له اوبو سره ګډه کړه ، بیا به یې د ونې سره واړوله او تر پښو لاندې به یې پخه کړه ، چې بیرته به یې تول هغه یو من و .

۳- د ډول ډول رنګه او ساده مفروشاتو جوړونه د افغانستان د خلکو یو قدیم صنعت دی ، چې په شلمه پیړۍ کې هم ژوندی پاته دی ، داخلي او خارجي بازار لري .

۴- د کندهار د کراستو د توشکانو صنعت دېرش کاله پخوا لا ژوندی و ، چې د خونو د ژمي د فرش لپاره به یې یو راز سپین منقش او ډولي توشکان په خورا ښکلو رنګو جوړوله او خاص صنعت کاران یې لرل .

۵- فقط په شمالي ولایاتو کې لا تر اوسه هم فقط د چپنو لپاره د وریښمینې یا نخي الچې جوړولو صنعت ژوندی دی .

四、讨论。

د افغانستان د معماری په باب تاسی څه معلومات لرئ ؟

دوهمه برخه

د افغانستان هنر (۲)

ساز و آواز:

د موسیقي او ترنم په هنر کې هم افغانستان د فرهنګونو د سره ګډېدلو سیمه وه او په شلمه سدۍ کې موږ دلته د ساز و آواز او ټنګ ټکور ، درې مهم عناصر ټاکلای سوای :

لومړی: د خراسانی ساز و آواز راپاته شوي عناصر .

دوهم: د هندي موسیقي سره مشترک عناصر .

دریم: خپل مقامي د پښتو او دري او نورو لهجو عوامي بدلې او سازونه.

۱. د خراسان د موسیقي قدیم مقامات چې د غزنویانو او غوریانو او تیموریانو د عصر خلکو روزلي وو، تر اوسه لاهم لږ و ډېر په خلکو کې پاته دي. دغه مقامونه (راګونه) دوولس وو، هر مقام دوې شعبې (راګني) درلودې، چې یوه به ځیره (پست) او بله ډډه (بلند) وه او ګرده شعبې چې د دغو دوولسو مقاماتو څخه جوړېدې ۴۲ دي او هره شعبه بیا نغمې لري او که د یوې شعبې ځیر او د بلې شعبې ډډ سره ګډ شي، له هغه څخه «آوازه» جوړېږي.

۲. د اسلامې دورې د خراسان او بیا د افغانستان سیمې له هنده سره نښتې وې او له دې پلوه یې ډېرې مدني او کلتوري اغیزې منلې دي. د هند آریایي خلکو خو د خپل زاړه آریایي تمدن په پوهنه کې د یوناني موسیقي کلمې پر ځای د سنګیت کلمه درلوده. په هندي ژبو کې آهنګ او نغمې ته سُر وایي، چې ګرده اووه سُر دي. له دغه اوو نومو څخه یې لومړی توری رااخیستی دی.

په لوړ ډول د مملکت په غربی برخو کې خراسانۍ سندرې او په شرقی پلو کې د پښتو سندرې له هندي راګونو سره ګډې ویلې کیدې. څو چې په شلمه پیړۍ کې په هند کې د اروپایي مدنیت او صنعت له خپرېدلو سره د ګرامافون او فلم صنعتونه رواج شوه او د هندي موسیقي سازونه او ږغونه یې له لمر خاته څخه په ګرده افغانستان کې خپاره کړل او په افغاني دربارونو کې هم د هندي موسیقي راګونو په فارسي یا پښتو ژبو رواج وموند.

د کابل د خرابات او قندهار په توپخانه او مسلیانو کې ځینې خاصې کورنۍ وې، چې د هندي موسیقي ویونکي او خپروونکي وو. لکه په کابل کې د استاد قاسم کورنۍ د هندي ساز استادان او استاد کام الدین او قربانعلي د خراساني موسیقي استادان. او په قندهار کې د حکیم کاکو کورنۍ او په پېښور کې د عبدالقدیر خان ربابی کورنۍ چې استاد پذیرخان دده زوی مشهور سرینده نواز و، استاد بهرام خان په طبله وهلو کې استاد، اکرم خان او سبز علي خان مشهور سندر غاړي وو، د هرات حیدرو شش تار په

تکړه ګوتو واهه.

۳. پښتو سندرې: اساساً خو په پښتو ژبه کې درې هنري مظاهر: شعر او موسیقي او رقص (اتڼ) ډېر سره

تړلي راغلي دي. د پښتو د عوامي منظوماتو جوړښت (سیستم) خو له قدیمه سیلابو ټونیک و یعنی شاعر آزاد و، چې د خپل نظم ټوټې د هجاوو د شمېر په لحاظ داسې سره واوډي، چې وزن او هم آهنګ ولري او په اتڼ کې لاهم د انساني بدن له ښکلیو حرکاتو سره برابرې وي. پښتو عامي سندرې چې د موسیقۍ د ټاکلو ږغونو او کله د اتڼ له خاصو حرکاتونو سره سم وي.

اتڼونه:

اتڼ هغه فردي یا دسته جمعیت بدن مرتب او ښکلي حرکات دي، چې په عربي رقص او په انګریزي ډانس ورته وايي. ځینې پښتانه د نرو اتڼ ګډا او د ښځو نڅا بولي، چې په کندهار کې د ښځو اتڼ ایشله وايي. د پښتونخوا په ځینې سیمو او د ږوب په ناوه کې کله کله د نرو او ښځو اتڼ په ګډه کېږي.

د اتڼ راز راز حرکاتونه، سوکه سوکه یا ژر ژر اوښتونه، د لاسو، سر، اوږو، ملا او پښو ښوروني ټول د اتڼ ډولونه سره بیلوي، لکه:

شالکی: د پښین او ږوب په ناوه کې ورو ورو دوه قدمه پرمخ او دوه پر شا، چې کله غلی اتڼ هم بلل کېږي.

د یوې اوږې اتڼ (یوارخه اتڼ): په شالکی شروع کېږي، بیا ورو ورو چټک شي.

د غبرګون اوږو اتڼ (دوه ارخه اتڼ): د یوې اوږې اتڼ په پای کې، دغه ډېرې تودې او خورا چټکې ښورېدنې دي او ډم هم خپل ډول په خورا درزا ژر ژر ورسره ډمبوي.

شاپاترې: د ږوب د خلکو اتڼ دی، چې بې ډوله او سورنا، تشې غاړې پکې ویلې کېږي.

شین اتڼ: د کاکړو په سیمو کې بې ډوله او سورنا خورا چټک اتڼ، چې ورو ورو له شالکي څخه شروع

شي ، بيا د خورا مستۍ عروج او د غبرګو اوړو اتڼ ته ورسېږي .

برګ اتڼ (ګډه امۍ يا کمره امۍ): د ښځو او نرو ګډ اتڼ دئ ، چې لکه شين اتڼ سوکه شروع شي ، بيا نو د مستۍ او غورځنګ لوړې څوکې ته ورسېږي .

طالبي اتڼ: بې ډوله لو سورنا تش په غړي او غومبر سره د طالبانو په بندار کې اچول کېږي ، چې يو بيرغ يې هم په منځ کې وي .درې قدمه پر شا او مخ ځي ، ورو ورو تودېږي .

درې پلی : د کندهار او پښين ترمنځ رواج لري درې درې پله له ډاله او نارو سره کېږي.

له پښينه تر هرنايي د پښتونخوا په چنوبي سيمو کې څو ډوله اتونه شته چې لبه يا لوبه يې بولی لکه:

خوره لبه: د هرنايي د ترينانو دوه قدمه ورو بې ډوله او سورنا اتڼ.

هوم لبه: دوه قدمه سوکه اتڼ د بدلو سره .

اړوي لبه: د هرنايي د ترينانو اتڼ د نارو سره .

خورکۍ لبه: د هرنايي د ښځو لږ چټک اتڼ د بدلو سره .

دومړي لبه: د کاکړو د سنزر خيلو اتڼ ، د ډول او سريندې يا چغکې سره .

ايشله: په کندهار کې د ښځو خاص اتڼ دی ، چې يوه يوه ښځه له جمعيته راوزي او په منځ کې رقص کوي ، کله کله لنډۍ او کله د اتڼ غاړې او کله فکاهي خبرې ورسره وايي او که دغه اتڼ په ګډه ښځې وکي نو يې په جنوبي پښتونخوا کې شله بولي .

ګلوبيا : د جنوبی پښتونخوا د ښځو اتڼ د دريې او کسرونو او ټوکو سره .

د منګي اتڼ : کله چې کليوالې نجلۍ منګی ګودر ته وړي ، نو په ګډه ورو ورو اتڼ کوي او منګي ته راز راز حرکتونه ورکوي ، عاشقانه لنډۍ وايي ، او مستې نارې کوي .

د اتڼ د سرود آلات ډول ، سورنا ، سرينده ، دريه ، شپېلۍ ، چغکه دي او کله کله د لاسو پړک يا د ټوپک ډز يا چک چکې هم ښه برخه پکې لري . ډول وهونکی ډم يا ډولچي د سورنا وهونکی سورنا چي بولي . چې ډم د ډول په ړغ ګرده اتڼ اداره کوي . هغه څوک چې اتڼ کوي ، اتڼ چي ، اتڼ باس ، ناڅګر ، رخځي بلل کېږي ، چې د ځوانانو څنې غوړې او خپرې وي . کميس او پرتوګ اغوندي ، ملا په رنګه دسمال تړي ، په لاسو کې يې رنګه دسملونه وي ، ښځې چې ايشله کوي ، سپک پړونی او فاخر کالي اغوندي او کله پايزيب هم په پښو

کوي او هر اتڼ يو مير هم لري ، چې اتڼ چيانو ته بولی ورکوي .

د اتڼ سندرې عموماً عشقي ، حماسي ، فکاهي او کله تاريخي يا طنزي وي چې د پښتو د شفاهي ادب يوه ارزښتمنه پانګه ده .

لغتونه 单词

歌曲；旋律，音调	［阳］	/tə'kor/	ټکور
混合的	〈阿〉［形］	/mushta'rak/	مشترک
低的，低矮的，不高的	［形］	/past/	پست
高的；高起的	〈波〉［形］	/bi'land，bu'land/	بلند
石，石头	〈波〉［阳］	/san'gi:n/	سنګين
留声机，唱机	［阳］	/gra:ma'fu:n/	ګرامافون
宝藏，宝物	〈波〉［阳］	/ganj/	ګنج
节目，很高兴的事，庆祝	［阴］	/ha:'di:/	ښادي
工人	［阳］	/masa'lai/	مسلی
炮，大炮	〈波〉［阳］	/top-kha:'na/	توپخانه
铃鼓，板鼓	〈波、阿〉［阴］	/tab'la/	طبله
个人的	〈波、阿〉［形］	/far'di:/	فردی
团体；人群	〈阿〉［阳］	/jami'yat/	جمعيت
有秩序的；协调的；按规律进行的，有规律性的	〈阿〉［形］	/mura'tab/	مرتب
唢呐；喇叭	［阴］	/sur'na:/	سورنا
（跳舞人发出的）呼声	［阳］	/ghum'bər/	غومبر

幽默的，诙谐的，戏谑的	〈阿〉［形］	/fuka:'hi:/	فکاهی
小鼓，板鼓，羯鼓	［阴］	/dari'ya/	دریه
摇动，摆动；颤动，战栗	［阳］	/pə'rak/	پړک
女披纱	［阳］	/pa'ru'nai/	پړونی
（妇女的）腿饰	〈波〉［阳］	/pa:i'zeb/	پایزیب
命令；指示	［阴］	/bo'ləi/	بولۍ
嘲笑，嘲弄，讽刺	〈阿〉［阳］	/tanz/	طنز
口头，口述的	〈阿〉［形］	/shifa:'hi:/	شفاهي

练习 تمرين

根据课文回答问题。

۱- د خراسان مویقی څو مقامونه لري ؟ او څو شعبې لري ؟

۲- په هندي ژبه آهنګ او نغمې ته څه وايي ؟

۳- په کوم وخت کې د هندي موسيقي په افغانستان کې خپاره کړل ؟ ولی ؟

۴- په پښتو سندرې کې څو هنرې مظاهر شامل دي ؟

۵- ایشله په کوم ځای کې د اتڼ کوم ډول ته وايي ؟

۶- د اتڼ د حرکاتو سره سم څو ډولونه شته ؟

۷- شین اتڼ څرنګه اتڼ دی ؟

۸- د اتڼ د سرود آلات د څه په شمول دي ؟

۹- هغه سړي ته چې اتڼ کوي څه وايي ؟

۱۰- مېږه او ښځې چې اتڼ کوي څه شی اغوندي ؟

第十课

لسم لوست

لومړی برخه

يو رښتياني قصه

الفت

څوکاله پخوا تاماس خان اپريدی له تيرا نه د مومندو غرونو ته ولاړ او په لاره ډير بې پروا تيرېده، د ده توپک ډير ښکلی او ډير باوري و څکه ئی له چا نه ويره نه کېده. د مومندو بنارس خان چه د هغه قيمتي توپک وليد، دومره ئی خوښ شو چه په هيڅ شان ئی زړه نشو صبرولی، مومند سړی چه ښه توپک ووينې نو بيا ځان نه ويني او د سر په سودا هم د دغسي توپک اخستلو ته تيار وي.

بنارس خان په همدغه اراده له کلي او ودانۍ نه لری د تاماس خان مخه ونيوله او غږ يی پرې وکړ چه توپک همدلته کېږده او ځه. تاماس خان چه دا غږ واورېده سمدلا سه ئی يوې تيږې ته ځان پناه کړ او په ډزو ئی شروع وکړه. دا څکه يو پښتون هيڅکله دا پيغور نشي قبلولی چه په ژوند چا ته خپله وسله تسليم کړي. دا کار په پښتنو کی يوه بې غيرتي ده او د دغسي سړی اولادونه هم د خپل پلار پدغسي نامه شرمېږي. تاماس خان پدې پوهېده چه که دده ډزې له بنارس سره شروع شي، نو ارومرو نور مومند د هغه په مرسته را رسېږي او لويه شخړه جوړېږي

، مگر سره له دې دی مجبور ؤ چه په یوه سر جنگ شروع کړي او د بې غیرتی نوم په ځان کنبېنږدي . په دې جنگ کی بنارس خان ووژل شو او د تاماس خان گولی د هغه په تندی ونښته مگر د ډ زو په اورېدو له یوې خوا او بلې خوا د مومندو چیغه را ووته او تاماس خان ډېر کوشش کاوه چه له دغه ځایه په منډه پښې وباسي .

هر کله چه دی د غره سرې و نو بیا ئی هم یو ځای ته ځان ورساوه مگر په مخکی ئی له نورو کلیو نه نور خلق را ووتل او دی پوه شو چه دوه خوا جنگ نشي کولی ځکه ئی د یوه خور په غاړه یوه کاله ته پناه وروړه او دځان د حمایت غوښتنه ئی وکړه، ده ته دا معلومه وه چه که یو خونی او قاتل هم د یوه پښتانه کور ته پناه وروړي، هغه پری له سر او ماله تېرېږي او چا ته ئی په لاس نه ورکوي . د پښتنو دغه پښتنی عادت ډېر شهرت لري او هر پښتون ترینه هر چېرته خبر دی . تاماس خان پدغه کاله ننوت نو ځان ور ته په امن او امان کی ښکاره شو او باور ئی درلود چه د کاله خاوند که څه هم په قام مومند دی بیا هم پدې هیڅکله نه راضي کېږي چه دی نورو مومندو ته وسپاري . تاماس خان اپریدی چه د مومند په کاله کی لږ غوندی دمه جوړه کړه نو خلق له توپکو سره هلته را ورسېدل او د کاله خاوند میر اکبر خان ته ئی وویل چه ستا د زوی قاتل په کاله درننووت چه د بنارس خان غوندی یو توریالی ځلمی ئی وژلی دی، له دې خبر سره سم د بنارس خان مرې هم را ورسېد او میر اکبر خان د خپل گران ځوی په ډېر لوی غم اخته شو. دلته تاماس خان په ځان وویرېده او پدې پوه شو چه په لوی لاس ئی لکه اجل نیولی ځان مرگ ته وسپاره. ده ډېر افسوس کاوه چه کاشکی د بل چا په کور کی ننوتی وای او د ځوی مړی له کاله نه په څنگ وای میر اکبر خان په دغه وخت کی ډېر عجیب او غریب حال درلود ، کله به د انتقام جذبه پری دومره غالبه شوه چه باید سمدلاسه د قاتل په ستونی چاړه را کاږي او خپل زړه پرې یخ کړي . ځکه چه ده ته دا هم نه وه معلومه چه تېری او تجاوز د بنارس خان له خوا و او تاماس خان د ځان د ساتلو دپاره دغه اقدام ته مجبور شوی دی مگر له دغی جذبې سره به د پښتنو او پښتونوالی قانون هم د ده مخې ته درېده چه د یوه پناه راوړونکی حمایت نه کول ډېره لویه نامردي ده چه پښتون ئی هیڅکله تحمله نشي کولی.

ددې دوه ډوله متضادو غوښتنو تاثیر د میر اکبر خان ځوی مړی فکر او خیال لکه ماشوم لوباوه چه کله به ئی یو تصمیم ښه وگاڼه او کله بل مگر وروستنی قطعی فیصله دا وه چه قاتل وبخښي او د ځوی په

مرګ صبر وکړي ځکه ئی نورو مومندو ته وويل ښه ده چه تاماس خان پناه راوړونکی د بل چا ځوې نه دی وژلی او زما د ځوی قاتل دی، د ده بخښل یواځی ځما کار دی که ده بل څوک وژلی وای اوس به ئی ما ته ساتنه ګرانه وه او د ده حمایت به ما ته په ډېر لوړ قیمت تمام شوی و.

تاسي واورئ چه ما تاماس خان ته عفوه وکړه تاسي اوس ده ته څه زیان نشئ رسولی ځکه چه دی زما پوروړی دی او ما ته ئی پناه راوړی ده ، زه نه غواړم چه یو پښتني قانون ما ت کړم او هغه څوک ووژنم چه زما کور ته په ډېر امېد راغلی او خپل ځان ئی ما ته سپارلی دی . که زه دا کار وکړم ، یوازی زما نوم نه بدېږي ، د ټولو مومندو نوم بدېږي ، تاسو باید پدې راضي نشئ چه مونږ او تاسو په قومونو کی په بد نامه یاد شو او هغه عادت پرېږدو چه له پلرونو او نیکونو را پاته دی.

مومند پدې خبرو قانع شول او تاماس خان له خپل توپک سره صحیح او سالم خپل کور او کلي ته روان شو چه د مومندو بدرګه هم ور سره وه .

单词 لغتونه

使忍受	[及]	/sabra'wəl/	صبرول
嘲笑，辱骂；讽刺	〈阿〉[阴]	/pe'ghor/	پېغور
胆怯，没有骨气	[阳]	/be-ghaira'ti:/	بې غیرتی
冲沟，沟壑，谷间	[阳]	/khwar/	خوړ
保护，防护，庇护，保卫	[阳]	/hima:'yat/	حمایت
死亡的时刻，生命的结束	[形]	/a'jal/	اجل
血的，血腥的；杀人犯，凶手	[阳、形]	/khu'ni:/	خونی
报仇，报复	〈阿〉[阳]	/inti'qa:m/	انتقام
战胜，获胜，占上风	[不及]	/gha:libedəl/	غالبېدل
相反的，对立的，矛盾的	〈阿〉[形]	/muta'za:d/	متضاد

借债的；负债人，借贷人	[阳、形]	/por'wərai/	پوروړی
满足的，满意的	〈阿〉[形]	/qa:'ni:'/	قانع

注释 تشريح

1 这个故事的作者是阿富汗著名学者الفت，他曾是普什图语学会主席。故事发生在阿富汗和巴基斯坦交界的普什图人居住地区。讲述一个普什图人在同时遇到میلمه和بدل پالنه时怎样处理的。普什图人在对待复仇时有三种选择：立即报复；拖后报复；公开宽恕。但当一个生人请求庇护时，只有保护客人一种选择。

2 بدرگه 普什图瓦里中的一条，意味在部落所属地区护送受保护者过境。

练习 تمرين

一、回答问题。

١ - ولی تاماس خان له چا نه ویره نه کېده ؟

٢ - بنارس خان چېرته د تاماس خان مخه ونیوله ؟

٣ - په دې جنګ کې څوک ووژل شو ؟

۴ - تاماس خان د چا کاله ته پناه ور وړه ؟

۵ - د میر اکبر خان وروستنی فیصله څه وه او ولی ؟

二、填空题。

١ - دومره ئی خوښ شو چه په هیڅ شان ئی زړه ＿＿＿＿＿＿＿، مومند سړی چه ښه توپک ووینې نو بیا ځان نه وینې او ＿＿＿＿＿＿＿ هم د دغسي توپک اخستلو ته تیار وي.

٢ - دی ＿＿＿ ؤ چه په یوه سر جنګ شروع کړي او د بې غیرتی نوم په ځان ＿＿＿＿＿.

٣ - ده ته دا معلومه وه چه که یو خونی او قاتل هم د یوه پښتانه کور ＿＿＿＿＿＿＿، هغه پر

ی ____________ تېرېږي او چا ته ئی په لاس نه ورکوي .

۴ - کله به د انتقام جذبه پری دومره ____________ چه باید سمدلاسه د قاتل په ستونی چا

ږه ____________ او خپل زړه پرې ____________ .

۵ - مومند پدې خبرو ____________ او تاماس خان له خپل توپک سره صحیح او سالم خپل کور او

کلي ته روان شو چه د مومندو ______ هم ور سره وه .

三、判断对错。

۱ - بنارس خان چې د تاماس خان توپک ولید ، و یې غوښت چې هغه توپک ورڅخه واخلي .

۲ - میر اکبر خان د بنارس خان زوی دی .

۳ - تاماس د بنارس خان کور ته پناه ور وړه .

۴ - د میر اکبر خان په نظر په دې جنگ کې تېری او تجاوز د تاماس له خوا و .

۵ - اخر میر اکبر خان تاماس خان ته عقوه وکړه ، ځکه چې تاماس یو ډېر باوري توپک درلود .

四、翻译句子。

۱ -یو پښتون هیڅکله دا پیغور نشي قبلولی چه په ژوند چا ته خپله وسله تسلیم کړي . دا کار په پښتنو کی یوه بې غیرتي ده او د دغسي سړی اولادونه هم د خپل پلار پدغسي نامه شرمېږي .

۲ -د ډ زو په اورېدو له یوې خوا او بلې خوا د مومندو چیغه را ووته او تاماس خان ډېر کوشش کاوه چه له دغه ځایه په منډه پښې وباسي .

۳ - تاماس خان پدغه کاله ننوت نو ځان ور ته په امن او امان کی ښکاره شو او باور ئی درلود چه د کاله خاوند که څه هم په قام مومند دی بیا هم پدې هیڅکله نه راضي کېږي چه دی نورو مومندو ته وسپاري.

۴ - تاماس خان په ځان وویرېده او پدې پوه شو چه په لوی لاس ئی لکه اجل نیولی ځان مرگ ته وسپاره.

۵ - که زه دا کار وکړم ، یوازی زما نوم نه بدېږي ، د ټولو مومندو نوم بدېږي ، تاسو باید پدې راضي نشئ چه مونږ او تاسو په قومونو کی په بد نامه یاد شو او هغه عادت پرېږدو چه له پلرونو او نیکونو را پاته دی.

五、用普什图语复述课文。

دوهمه برخه

غوریان

د غوري پاچاهانو کورنۍ د فیروز کوه او غور اصلي اوسېدونکي و . غور د هرات ، فراه ، کندهار ، بامیانو او اوسني هزاره جات په منځ کې سیمه ده ، چې د سلطان محمود تر وخت پورې له هر ډول ناوړه پېښنو څخه په امن کې پاتې شوی وه . په ۱۰۴ هجري کال کې د سلطان محمود د غزنوي له خوا فتح شوه او د اسلام مقدس دین یې په هغه کې خپور کړ . په دغه وخت کې د غور واکمن محمد سوري و چې سلطان محمود بندي کړ ، تر څو چې مړ شو او زوی یې ابوعلي د سلطان له خوا د هغه ولایت د چاروالی وتاکل شو .

غوریان او یا سوري پښتانه له اسلام څخه وړاندی د محلي حکومتونو څښتنان و ، ځانګړی دود او دستور یې درلود . غور په باندنیو چارو کې د غزنویانو تر اداري لاندې و ، خو په کورنیو چارو کې یی د پخوا په شان پوره خپلواکي درلوده او د بهرام شاه تر زمانې پورې همدغه شاه خپلواک و . کله چې د غزنوي دولت خښتې نړیدلې او مخ په لوېدو وې ، هغه مهال د غور واکمن مخ په پیاوړتیا و ، ځان یې د طاقت خاوند کړ او اقتدار یی تر لاسه کړ .

قطب الدین غوري چې د غزنوي بهرام شاه زوم و ، د خپلو ورونو له وېرې یې بهرام شاه ته پناه وروړه . بهرام شاه د خلیفه پوره درناوی او هرکلی وکړ . خو کله چې د غزني خلک قطب الدین ته ډېر نږدی شول ، د بهرام شاه ګومان پرې بد شو او هغه یې په زهرو وواژه . کله چې دا خبر د قطب الدین ورور سیف الدین سوري ته ورسید ، هغه په غزني یرغل وکړ . په ۲۴۵ه کې یی بهرام شاه له غزني څخه په شړلو او هند ته په تښتېدلو مجبور کړ . یو کال وروسته بهرام شاه په غزني برید وکړ او سیف الدین یې ونیوه او مړ یی کړ . علاوالدیند خپلو دوو ورونو قطب الدین او سیف الدین د وژلو له امله په غضب شو . علاوالدین حسین په ډېر شور او ځوږ کې د خپلو ورونو د غچ اخیستلو لپاره په ۴۴۵ هجري کې غزني ته راغی . د ده او بهرام شاه تر منځ یوه خونړۍ جګړه ونښته . خو د بهرام شاه په ماتې تمامه شوه او بیا هند ته وتښتېد . علاوالدین د غزني په خلکو د هیڅ رنګه تېري او زور څخه ځان و نه ژغوره او اووه شپې او ورځې یې عام قتل او وژل وکړل او ښایسته

غنزي يې چې په هغه وخت کې د ښارونو ناوې وه ، له خاورو او ايرو سره برابر کړ او اور يې ورته واچاوه . په تاريخ کې ده ته د همدې عمل له کبله د جهانسوز لقب ورکړ شوی دی . علاوالدين د غزني له سوځولو څخه وروسته په سلطان سنجر سلجوقي يرغل وکړ او د ناب هريوالرود په کلي کې سره مخامخ شول ، خو ماته يې وخوړه او ونيول شو . څه موده په زندان کې و . د علاوالدين شپږ زره عسکر چې ترکان او غلجيان وو ، سنجر ته تسليم شول . بيا سنجر خوشی کړل او د غور مملکت ته يې وليږل . علاوالدين د کورني اړودوړ له غلي کولو وروسته په سيستان ، مرغاب ، باميان او هرات باندې بريد وکړ او د خپل سلطنت تر اغېز لاندې يې راوستل . لږ وخت نه وروسته په ۱۵۵ هجري کې د غور په سيمه کې مړ شو .

له علاوالدين څخه وروسته د هغه زوی سيف الدين محمد په فيروز کوه او غور کې په تخت کښېناست ، غياث ادين او معزالدين غوري يې چې په وجيرستان کې (د هرات ، فراه او غور تر منځ پراته ده) د علاوالدين له خوا بنديان وو ، خوشی کړل . له يو کال نه زيات په خپل اقتدار پاتې نشو . په دغه وخت کې د غزني ترکانو ډېر اقتدار موندلی وو . سيف الدين له هغوی سره په غزني کې جګړه پيل کړه ، خو د خپلو سردارانو او د غور د سپه سالار د خيانت له کبله په ۷۵۵ هجري قمري کې ووژل شو .

د علاوالدين او سنجر جګړه که څه هم د غوريانو او سلجوقيانو د کمزورۍ سبب شوه ، خو د سيف الدين محمد له مرګ څخه وروسته د غور مشرانو د هغه د تره زوی غياث الدين په ۸۵۵ هجري کال کې پر تخت کښېناوه او هغه سپهسالار خپل بيعت د غياث الدين سره اعلان کړ .

غياث الدين د بغداد خليفه الناصر الدين سره نيک سياسي روابط درلودل او دواړو دولتونو خپل سفيران هم تبادله کړي وو . د غور پايتخت په دغه وخت کې په اوړي کې فيروز کوه او په ژمي کې زميندا ور و . غياث الدين غوري په شرق کې ډېر لوی اسلامی شخصيت تېر شوی ، له علم سره يې مينه وه . ډېر مهربان او عادل پاچا و . په دربار کې يې ډېر اسلامي علما او پوهان اوسېدل او د سوريانو سلطنت يې لويې امپراطورۍ ته ورساوه



او د سترو خدمتونو مصدر وګرځېد ، تر څو چې د ۳۲ کالو په عمر په ۹۹۵ هجري کال کې په هرات کې مړ شو او د هرات د جامع جومات په څنګ کې خاورو ته وسپارل شو .

د غياث الدين له مرګ نه وروسته د ده زوی محمود چې يو عياش سړی و ، د خپل تره له خوا د فراه او بست په حکمرانۍ مقرر شو او تر مړوې پورې مخکې ولاړ او د پلار د ملک وارث وګرځېد ، خو بيا هم دی کمزوری شو او د ده له کمزورۍ څخه خوارزمشاهيانو او نورو امرانو استفاده وکړه . جګړې په هره خوا پيل شوې او د پلار قلمرو يې ونشو ساتلی . د ده تره شهاب الدين غوري چې په محمد غوري هم شهرت لري ، دا وضع يې و نه زغملای شوه او په خپله د غور پر تخت کښېناست . شهاب الدين د خپل ورور په وخت کې د شاهي لښکر مشر و او د غياث الدين په وخت کې ډېرې کاميابۍ يې د هغه په وسيله سر ته رسولې وې . د مملکت په پراخولو کې يې زيات زيار وکېښ . شهاب الدين د پاچاهۍ حدود ختيځ ته د هند تر ګنګاه پورې او لويديځ ته تر بحيره عرب پورې ، د شمال له خوا تر خورازم نسا ، ابيورد او ماوارلنهر او د سهيل له خوا د عرب تر بحيرې پورې ورسول . پلازمينه يې په اوړي کی خراسان او په ژمی کې لاهور و . دا لوی پاچا کله چې د کوکهران قبايل د پنجاب په جودغره کې بغاوت کړی وو ، د هغوی د کرارولو لپاره پنجاب ته ولاړ . هغه يې چې ارام کړل ، غزني ته په راستنېدو د جهلم د دميک په سيمه کې د کهکرې طايفې د يو ناپېژندونکی سړي له خوا په ۶۰۲ هجري کال کې په شهادت ورسېد .

که څه هم د شهاب الدين له مرګ نه وروسته امير محمود د غياث الدين زوی بيا په غور کې پاچا شو ، خو د غوري دولت چارې ويجاړې شوې وې . نو ځکه دا لويه امپراتورۍ په دوو برخو ووېشل شوه چې يوه برخه يې په هند کې د قطب الدين ايبک تر لاربښوونې او بله برخه يې د غور په مرکز کې د امير محمود تر ادارې لاندې راغله .

لغتونه 单词

دستور	/das'tu:r/	〈波〉[阳]	风俗，习惯，常规，惯例
خښته	/khəhta/	[阴]	砖

推倒，扑倒，推翻；毁坏	［不及］	/n ṛe'dəl/	نړېدل
女婿	［阳］	/zum/	زوم
继承人	〈阿〉［阳］	/khali'fa/	خلیفه
喧嚷，叫嚣	［阳］	/shor/	شور
嘈杂声，喊叫	［阳］	/dzwaġ/	ځوږ
血腥的；凶残的	［形］	/khuna'rai/	خونړی
已订婚之女，新娘	［阴］	/'na:we/	ناوې
内讧，纠纷；战斗，武装冲突	［阳］	/a:ṛ-u-'duṛ/	آړودوړ
叛变，变节，背信弃义	〈阿〉［阳］	/khiya:'nat/	خیانت
［史］对封建主的效忠；效忠宣誓	〈阿〉［阳］	/bai''at/	بیعت
善良的；慈爱的；温柔的，和蔼的	［形］	/mihr'ba:n, ehr'ba:n/	مهربان
以狂饮消遣的人，纵酒作乐的人	〈阿〉［阳］	/'ai'ya:sh/	عیاش
继承人；后嗣，接班人	〈阿〉［阳］	/wa:'ris/	وارث
殉难的死，牺牲	〈阿〉［阳］	/shaha:'dat/	شهادت

注释 تشريخ

1 علاوالدين غورى 阿拉乌丁·古里，1151年古尔军队占领加兹尼后对这座城市进行了残酷的屠杀和焚烧，大火烧了7天7夜，整座城市几乎全部遭到毁坏，因此阿拉乌丁·古里获得了“جهانسوز”（世界焚烧者）的称号。

2 غياث الدين غورى 贾亚苏丁·古里，古尔王朝最伟大、最强有力的统治者，也是亚洲历史上最出色的人物之一。著名的赫拉特的星期五清真寺（又称“贾米清真

寺”）始建于1201年，由贾亚苏丁・古里修建。

3 جهلم杰卢姆，印度地区一地名。

练习 تمرین

根据课文回答问题。

١ - غوریان څرنګه قدرت ته ورسیدل او د غوریانو لومړنی پاچا څه نومیده ؟

٢ - قطب الدین ولی بهرام شاه ته پناه وروړه ؟

٣ - بهرام شاه څنګه قطب الیدن وواژه او ولی ؟

۴ - سلطان علاوالدین ولی په جهان سوز ملقب و ، د خپل حکومت په دوره کې یی کومې سیمې لاسته راوړې او په کوم کال کې مړ شو ؟

۵ - چا غیاث الدین په وجیرستان کې بند کړ ؟

۶ - د سلطان غیاث الدین کارنامې او فتوحات ذکر کړئ او په کوم کال کې مړ او په کوم ځای کې خاورو ته وسپارل شو ؟

٧- سطان غیاث الدین یو څنګه سړی و ؟

٨ - د شهاب الدین د پاچاهۍ حدود څومره لوی و ؟

٩ - شهاب الدین په کوم کال او څه رنګه مړ شو او په دغه دوره کې کومه لویه پیښه رامنځته شوه ؟

١٠ - د غوریانو د لړۍ د مشهورو شاهانو نومونه واخلئ .

第十一课

يوولسم لوست

لومړۍ برخه

پښتني دودونه

هغه دودونه او رواجونه بيانېږي چه په ټولو پښتنو کښې د يو قانون او اجتماعي دستور حکم لري. د پښتني دود مننه او په ځاي کول د هر پښتون د قومي تهذيب او پښتونوالي يوه لازمي برخه ده. که څوک ور نه غاړه غږوي، نو بيا ور ته سم او رسا پښتون نه ويل کېږي.

جرګه: په پښتني دود کښې جرګه ډېر اوچت ځاي لري. د جرګې پرېکړه او فيصله په پښتنو کښې د يو قانون حکم لري او هر څوک چه د جرګې له حکم نه سر غړوي، سربېره پردې چه پړ او ملامت ګڼل کېږي، لازمه سزا هم ور کول کېږي. که چېرې د دروتنو يا اولس په منځ کښې يوه غټه لانجه او دعوه پېښه شي، نو د دغه کار دپاره د کلي يا اولس له خوا قومي جرګه جوړېږي. کله چه جرګه راغونډه شي، نو له دواړو خواونه واک واخلي او په منځ کښې يوه مچلګه هم کښېږدي. مچلګه د ټوپک او پيسو ضمانت ته وايي. که چا د جرګې فيصله و نه منله، نو مچلګه يي هم له منځه ځي او د جرګې له خوا ور سره تګ راتګ هم بندېږي. جرګه د دوو مدعيانو په غوښتنه هم راغونډېږي. جرګه په دوه ډوله ده. يوه لويه جرګه ده او يوه وړه. لويه جرګه د غټو او لويو قومي مسئلو دپاره جوړېږي او وړه جرګه د کلي او سيمې د لانجو او

د عوو د پرېکړې دپاره منځته راځي. په کومه جرګه کښې، که څوک واک نه ورکوي، نو جرګه خپله فیصله اوروي. مګر د نه منلو پصورت کښې بیا بله جرګه جوړېږي او جرګه والا کوښښ کوي چه خامخا د دواړو خواو تر منځ جوړه وکړي. لویه جرګه په افغاني تاریخ کښې ډېر اهمیت لري. احمد شاه بابا په کندهار کښې د لوئې جرګې له خوا په ۱۷۱۱ کښې د پاچا په توګه انتخاب شو.

د امیر امان الله خان په وخت کښې د نظامنامې د جوړولو دپاره لویه جرګه راغوښتل شوې وه. دغه شان هر وخت، د یو لوی قومي مقصد دپاره لویې جرګې جوړې شوې دي. لویه جرګه په پښتني قانون کښې د اولسي جرګه ځای لري، خو دومره ده چه د یوې ټاکلې نېټې دپاره وي او یوائې د یوې موضوع او پېښې د پرېکړې دپاره جوړېږي. جرګه د پښتنو د جمهوریت یوه غوره نمونه ده. په جرګه کښې مشران او کشران یعنې سپین ږیري او ځوانان ټول برخه اخلي. مګر زیات واک د مشرانو او سپین روبو پلاس کښې وي. څوک چه د پښتني قانون څخه ښه خبر وي او تر ټولو زیات مشر او پوه وي، هغه د جرګې مشروي، خو پرېکړه د رایو په ډېرښت کېږي. پوه سړی ته جرګه مار او نورو غړو ته جرګه تیان وایي. په جرګو کښې زیات کسان خپل مطلب په متلونو او نکلونو ثابتوي. هر څوک چه په دغه خوا کښې تکړه وي، د هغه خبره هم غوره وي. په حقوقي او جزائي معاملو کښې د جرګې د ډوډۍ او خوراک خرڅ او تاوان دواړه لوری په شریک ډول ورکوي. مګر په لویو اولسي جرګو کښې د ډوډۍ او خوراک انتظام د اولس او قوم له خوا نه کېږي.

ننواتې: د یوې ګناه د بښنډو دپاره د چا عذر کول او کور ته ورتلل ننواتې ده. ننواتې لېږل او ننواتې منل د پښتني قانون یو منلی دود دی. د ننواتې پواسطه لوی لوی جرمونه او ګناهونه ښښل کېږي، تردې چه پښتانه د ننواتې په ورتګ، د مړي له بدو هم تېرېږي. په ننواتې کښې سپین ږیري، ملایان او میاګان استول کېږي. خو په زیاتو کښې ښځمنې او تورسري برخه اخلي. ولې چه پښتانه د ښځې پلو ته په ډېر درونډ نظر ګوري. که څوک یو ناروا مرګ وکړي، یا د چا عزت او ناموس ته سپک وګوري، نو له دې څخه خامخا دښمنې پیدا کېږي، پدې سبب مقابل لوری غواړي چه خپل بدل واخلي. پدې وخت کښې د ګنهګار له خوا، د هغه کور ته ننواتې لېږل کېږي او هغه یې د پښتني دود سره سم منلو ته غاړه ږدي. په ننواتې کښې زیات پښتانه له ځانه سره پسونه هم بیایي او بیا یې هلته حلالوي. دغه شان قران هم له ځان سره وړي.

ننواتې نه منل د پښتنو په نظر کښې د لویې او غرور نښه ده چه د پښتونوالۍ له قانون څخه مخالف کار

ګڼل کېږي، په تېره د ښځمنو ننواتي نه منل په پښتني دود کښې ډېر ناوړه کار دی. که څوک ننواتي ونه مني نو بیا ور سره د تګ راتګ سلسله هم پرې کېږي او څوک ور ته په ښه نظر نه ګوري.

تیګه: تیګه ایښودل د پښتني قانون یو محکم دود دی او د سولې او امن یو ښکاره اعلان دی. کله کله د دوو خېلونو او قومونو تر منځ د جنګ جګړه لانجه پېښه شي او دواړه خواوې په سخت کړاو او تاوان اخته شي، نو پدې وخت کښې د قوم سپین ږیري، مشران او ملایان راټولېږي او د جګړه مارو تر منځ د جنګ د بندیز تیګه ږدي. د تیګې د ایښودلو پوخت کښې یوه کلکه ناغه هم لګول کېږي. تیګه ماتول په پښتني دود کښې یو بد او ناوړه کار، بلکه جرم او ګناه ده. که چا تیګه ماته کړه، نو هغوی ته بیا سزا ورکول کېږي او ټاکلې ناغه ترې اخیستل کېږي. تیګه ایښودل د دوو جګړه کوونکو قومونو تر منځ د متارکې او سولې معنی لري. د تیګې د ایښودلو او سولې د خبرو په وخت کښې ډزې هم بندېږي چه دې ته ډز بندي وايي.

سوله روغه: که چېرې د دوو قومونو تر منځ په کومه معامله باندې اوږده جګړه پېښه شي او دواړو خواو ته زیان او تاوان ورسېږي، نو پدې وخت کښې، یا د دوی په غوښتنه یا د نور اولس په نیک نیتۍ او اراده د سولې او روغې خبرې شروع کېږي. سوله د یوې ټاکلې مودې دپاره د سپین ږیرو، ملایانو او یا د اولسي جرګې له خوا منځته راځي. په سوله کښې، په دواړو خواو ناغه ایښودل کېږي. سوله ماتول د تیګې د ماتولو معنی لري چه ماتوونکې ته یې ټاکلې سزا ورکول کېږي. روغه دې ته وايي چه د دوو ډلو یا قومونو تر منځ یوه پخه دائمي جوړه وشي، ټولې پخوانۍ لانجې او جګړې فیصله شي او د ورورۍ او قامولۍ سلسله د پخوا په شان ټینګه او کلکه شي.

نو سوله د موقتي جوړې معنی لري او روغه د دائمي فیصلې او جوړې معنی ورکوي.

پناه ورکول: د پښتنو یو لوی تاریخي صفت دا دی چه پناه راوړونکې ته به پناه او ځای ورکوي او د هغه د سر او مال ساتنه به کوي. په پښتنو کښې دغسې ډېرې کیسې تېرې شویدي چه یو سړي د خپل پلار یا زوی وژونکې ته هم پناه ورکړې ده. که څوک د خطر پوخت کښې یا د مرګ له وېرې نه د چا کور او ځای ته پناه یوسي او ځان ور ته وسپاري، نو هغه به یې د پښتني قانون له مخه هرومرو ساتنه او پالنه کوي. په تواریخ حافظ رحمت خاني کښې دا کیسه راغلې ده چه د ملک احمد یوسفزي او د لازاکو تر منځ سخته پتنه وه. کوم وخت چه ملک احمد د سولې دپاره د ملک محمد خان د لازاک کلي ته ورغی. خلک پرې خبر شول او غوښتل یې

چه و يي وژني، پدې وخت کښې د ملک محمد خان مېرمنې ده ته په خپل کاله کښې پناه ورکړه او له مرګ څخه يي وساته.

مګر که چېرې يو ګناهګار چا ته پناه ور وړي، نو بيا د بېطرفه اولس مشران، د سولې او جوړې دپاره کوشش کوي او خامخا د حل يوه لاره پکښې پيدا کوي.

ننګ وروړل: کله که په يو پښتون د يو بيګانه له خوا تېرې وشي، نو هغه خپلو عزيزانو ته ننګ وروړي او ملاتړ او مرسته ور نه غواړي. دا هم يو پښتني دود دې. د ننګ وروړلو يا ننګولو لار دا ده چه دې به د يو مشر ملک کور ته ورځي يا به تور سرې ورلېږي او د هغه پښتني غيرت به په جوش راولي. په پښتنو کښې د ښځمنو درناوې يو لوې پښتني صفت دې، نو ځکه ور ته په درانه نظر کتل کېږي او که د چا انګړ ته د کومک او مرستې دپاره ورشي، نو بې ځوابه يي نه پرېږدي او خامخا ور سره مرسته کوي.

单词 لغتونه

罪过的，有过失的，受责备的；被战胜的，失败的	[形]	/pəṛ/	پړ
麻烦事；纠纷，争执；灾难；事故；战争，冲突	[阴]	/la:n'ja/	لانجه
争论，争辩，诉讼，要求赔偿，控诉	〈阿〉[阴]	/da''wa/	دعوه
要求，(对某种权利的）主张；争论的主题，诉讼的对象；论点，主张，断言；目的，意图，心愿	〈阿〉[阴]	/muda''a:/	مدعا
议事规则；规章，章程，条例	[阴]	/niza:m-na:'ma/	نظامنامه
成交，交易，契约	〈阿〉[阴]	/mu'a:ma'la/	معامله
宽恕，赦免，饶恕，原谅	〈阿〉[阳]	/'uz(ə)r/	عذر
罪过，罪行；过错，过失	〈阿〉[阳]	/jurm/	جرم
即位，封号	[阳]	/mi'ya:/	ميا

黑头发妇女，中青年妇女	[阴]	/tor-'sare/	تورسرې
不许可的，不容许的，难以容忍的，不能承认的，不能接受的，不能同意的	〈波〉[形]	/na:ra'wa:/	ناروا
罪人，罪犯；犯教规者，破戒者	[阳]	/guna:h-'ga:r/	ګناهګار
邻居；部族；家族，种族	[阳]	/khel/	خېل
伤心，难过；不痛快，烦恼；困难，磨难，折磨	[阳]	/ka'ṛau/	کړاو
停止，中止，中断；(暂时)停战，休战	〈阿〉[阴]	/muta:ra'ka/	متارکه
和平；停战；安静，安宁；一致(性)，协调(性)；和睦，易于相处，和蔼可亲，和气	[阴]	/'rogha/	روغه
暂时的，临时的；暂行的	[形]	/muwaqa'ti:/	موقتي
تاريخ 的复数	〈阿〉	/tawa:'ri:kh/	تواريخ
叛乱，暴动；骚扰，捣乱；反对；仇视，敌视	[阴]	/pit'na/	پتنه

注释 تشريح

پښتونوالی 普什图瓦里，也称“普什图法典”，是普什图族社会生活中特有的道德和行为准则的总称，是在继承古老的风俗习惯和民族传统的基础上形成的一套严厉但又没有成文的约定俗成法，世代相传。

练习 تمرين

一、回答问题。

١ - چا ته سم او رسا پښتون ويل نه کېږي؟

۲- د جرګه مطلب څه دی؟

۳- د ننواتی مطلب څه دی ؟

۴- د تیګه مطلب څه دی ؟

۵- د پناه ورکول مطلب څه دی ؟

二、填空题。

۱- که چېرې د دروتنو یا اولس په منځ کښې یو غټه __________ او __________ پېښه شی، نو د دغه کار دپاره د کلي یا اولس له خوا قومی جرګه جوړېږی.

۲- مګر په لویو اولس جرګو کښې د ډوډۍ او خوراک __________ د اولس او قوم له خوا نه کېږی.

۳- تیګه ایښودل د دوو جګړه کوونکو قومونو تر منځ د __________ او سولې معنی لری.

۴- روغه دې ته وايي چه د دوو ډلو یا قومونو تر منځ یوه پخه دائمی جوړه وشی، ټولی پخوانی لانجې او جګړې فیصله شی او د ورورۍ او __________ سلسله د پخوا په شان ټینګه او کلکه شي.

۵- مګر که چېرې یو ګناهګار چا ته پناه ور وړی، نو بیا د __________ اولس مشران، د سولې او جوړې دپاره کوشش کوی او خامخا د حل یوه لاره پکښې پیدا کوی.

三、判断对错。

۱-هر پښتون لازماً د جرګې فیصله منی.

۲- په ننواتی کښی نر او ماده ټول برخه اخلي.

۳- د تیګی د ایښودلو پوخت کښی یوه کلکه ناغه هم لګول کېږی.

۴-د سوله او روغه معنی یو شان ده.

۵- پښتون خپل عدو ته پناه نه ورکړی.

四、翻译句子。

۱- د جرګې پرېکړه او فیصله په پښتنو کښی د یو قانون حکم لری او هر څوک چه د جرګې له حکم نه سر غړوی، سربېره پردی چه پړ او ملامت ګڼل کېږی، لازمه سزا هم ور کول کېږی.

۲- که څوک یو ناروا مرګ وکړی، یا د چا عزت او ناموس ته سپک وګوري، نو له دې څخه خامخا

دښمني پيدا کېږي، پدې سبب مقابل لوري غواړي چه خپل بدل واخلي.

۳- ننواتې نه منل د پښتنو په نظر کښې د لويي او غرور نښه ده چه د پښتونوالي له قانون څخه مخالف کار ګڼل کېږي، په تېره د ښځمنو ننواتې نه منل په پښتني دود کښې ډېر ناوړه کار دی.

۴- کله کله د دوو خېلونو او قومونو تر منځ د جنګ جګړه لانجه پېښه شي او دواړه خواوې په سخت کړاو او تاوان اخته شي، نو پدې وخت کښې د قوم سپين ږيري، مشران او ملايان راټولېږي او د جګړه مارو تر منځ د جنګ د بنديز تيګه ږدي.

۵- که چېرې د دوو قومونو تر منځ په کومه معامله باندې اوږده جګړه پېښه شي او دواړو خواو ته زيان او تاوان ورسېږي، نو پدې وخت کښې، يا د دوی په غوښتنه يا د نور اولس په نيک نيتۍ او اراده د سولې او روغې خبرې شروع کېږي.

五、用普什图语复述课文大意。

دوهمه برخه

پښتني خويونه

په دې برخه کښې هغه ټول خويونه او صفتونه راځي چه په ټولو پښتنو کښې يو شان نمانځل کېږي او هر څوک ور ته په دراندہ نظر ګوري. دا خويونه د پښتون د کلمې د هر توري يوه ښکاره معنی او تفسير هم ګڼل کېدای شي.

پت او عزت: تر ټولو درونډ او سپېڅلي خوی پت او عزت يا په بله ژبه، پت پالل او عزت ساتل دی. د پښتو پاخه شاعران او استادان، پت او عزت پدې ډول ستايي.

خوشحال خټک وايي:

سر دې لاړ شي مال دې لاړ شي پت دې نه ځي

د انسان خو بې همه واړه په پت ده

حمید مومند وايي:

پروت په وینو کښې لت پت ښه یم په پت کښې

نه د سروزرو په تخت باندې بې پته

رحمان بابا وايي:

مړ بهتر ښه دی تر هغه چه بې پت وی

په یارۍ کښې دی څوک نه کا خدای بې پته

پښتون په هر حال کښې، غریب وی که شتمن، خو د پت او عزت ټینګ ملګری دی. دغه وجه ده چه ذلت او سپکاوی ته غاړه نه ایږدی. له هر څه نه تېرېږي، خو له عزت او پت نه نشی تېرېدای. ملی غرور او لوړ همت له لاسه نه ورکوي. خوشامندی ، غوړه مالی، وړسترګی او سپیتانه ډېره بده ګڼي. په یارۍ او دوستۍ کښې هم د پت ساتلو او پت پاللو پوره خیال ساتی. پخپل منځ ژوند کښې د مساوات او برابرۍ ساتنه د پت او عزت یوه ښکاره نښه بولي. دغه وجه ده چه د بل چا کبر، لوئی او غرور نشی زغملای.

په همدی شان سوال، غوښتنه او چا ته لاس نیونه هم ور ته بې عزتی ښکاري. د فکر او وینا قید و بند هم د ځان سپکاوي او بې پتی ګڼي او پاکی پاک لمنی هم د پت او عزت لویه نښه بولي.

ښېګڼه او نیکی: د پښتونوالی بل لوی خوی ښېګڼه او نیکی ده. له خپل خپلوان، ګاونډی، دوست، اشنا او هر سړی سره ښه کول، مرسته کول، لاس ورکول د پښتنی قانون یو لوی صفت دی.

غریب، بې وزلی او ګاونډی سره ښېګڼه او احسان، دغسی پیر نه وینه، لورینه هم د ښه خوی او ښو اخلاقو غوره مثالونه دی. ښه چلند ، ښه ګذاره، ښه راشه درشه، ښه خبره، ښه وینا دا ټول د ښېګڼه په لړ کښې د پښتنی خوی غوره توکی دی او په ژوندانه کښې د ښه نوم او ښه مړنتوب ښه شاهدان دی او ښېګڼه او نیکی هم په دنیا کښې پکار ده.

مرګ د هر چا قبر په تیګو پټوینه خوشحال په دستار نامه کښې دغه صفت د مروت په نامه راوړی دی چه مطلب ترې ښېګڼه او احسان دی.

توره او مېړانه:د پښتونوالی د میدان بل لوی صفت، توره او مېړانه ده. توره د وسلی معنی هم ورکوی، خو زړورتوب او غیرت یې لازمی مفهوم دی. پښتون یو توریالی او جنګیالی قام دی چه هیڅکله د جنګ له

میدان نه مخ نه اړوي. پدی برخه کښې پښتو ادب له ډېرو مرغلرو څخه ډک دی. خوشحال وايي:



چه څرګنده سر بازی کاندی د تورو

زه خوشحال خټک تر هسی هنر جار شم

په پښتو لنډیو کښې هم د توری ستاینه ډېره شوی ده:

تره به نه کړم نو به څه کړه

چه می شودې د پښتنې رودلی دینه

تر توریالی مین به جار شم

چه د غلیم په وینو سره کاندی لاسونه

پښتانه واړه شنه زمریان دی

چه وخت يي راشي په سیالۍ توری وهینه

د اکبر خان غازی په توره

وطن رها شو دښمنان له ملکه ځینه

په سپین میدان به در سره یم

زه پښتنه له توری نه تر پلم مینه

سیالي او تربګنی هم په ښه کارکښې د توری او مېړانی یوه ښه نښه ده. نو ځکه خوشحال خان د ژوندانه د ډګر فیصله یوائې د خدای په توکل او د توری په زور کوی:

یا تکیه د یوه خدای ده یا د توری

په جرګو مرکو نشی عار تمام

وفا او وعده: د پښتونوالۍ د خویونو په لړ کښې وفا وعده په ځای کول او په ژبه او قول دریدل هم یو لوی مقام لري. بې وعدی او بې ژبی سړی ته په پښتنی ټولنه کښې هیڅ ارزښت نه ورکول کېږي. پښتون په هیڅ ډول له خپلی ژبی او قول څخه نه تېرېږي. که هر څومره تاوان ور رسېږي، خو خپله وعده به په ځای کوي.

حمید مومند وايي:

قول و بول په ژوندون نشی نورولای

ځکه ځان په قول وژني پښتانه

خوشحال وايي:

ونوی چا و ته وران مه وایه خوشحاله
چه په قول وعهد وران وی وران هغه

ژبه او قول په پښتني ټولنه کښی له قبالو او رسمی سند ونو څخه هم زیات اهمیت لري. څوک چه له ژبی او قول نه وګرځي، هغه ته بی ژبې، بې لوز او بی باوره وايي. د پښتنو ټولی چاری لکه پور ورکول، د ځمکی خرڅون، د خور لور ورکړه، او داسی نور په قول او ژبه پوری اړه لري. د پښتنی ژوند د رواج او دود له مخه، په ژبه او قول درېدل، د اجتماعی او خپل منځی چارو د سمون او ښه والی یو پوخ بنسټ ګڼل کېږي.

بی وفايي د مینی او محبت په لړ کښی هم یو ډېر ناوړه او بد کار دی. لکه چه وايي:

دا په پښتو ژبه کښی نشته
چه بې لوزی د خپل اشنا سره کوینه

ننګ او غیرت: ننګ او غیرت سره نږدی او غبرګونی دی او دواړه د پښتونوالی اصلی خویونه دی. د ننګ او غیرت مقام په پښتنی ټولنه کښی ډېر اوچت او لوړ دی. بی ننګه او بی غیرته سړی په پښتنو کښی هیڅ ارزښت نلري. خوشحال چه پخپله هم یو غیرتی ننګیالی پښتون دی، د ننګ په ستاینه کښی تر هر چا دمخه دی. لکه چه وايي:

چه د ننګ په چارو نر نه وی خوشحاله
که يي نر وینی په سترګو هم ماده دی
په خپل نام و ننګ چه راشم لیونی شم
خبردار کله په سودو زیان د لک یم

احمد شا بابا هم د ننګ مقام تر ټولی دنیا زیات بولی او وايي:

پر ننګ مړ خو څه مړ ندی	د بی ننګوش وند جفاده
لاس به وانه خلم له ننګه	که په ننګ پاتی دنیا ده

محمد ګل مومند د ملالی له خوا د پښتون د ننګ ستاینه پدی ډول کوی:

وخت چه راغی د پښتون د نام و ننگ

پښتنه وم ځان می مړ که په فرنگ

چه پښتون وی او مېړه وی څنگه کاندی

د ظالم زورگیر انگریز له جنگه څنگ

د پښتنو د ننگ او غیرت ځایونه دا دی: ځمکه او وطن، ښځمنی او تورسری، ژبه او دین، قوم او عزیز، نوکر او گاونډی، میلمه او اشنا، مال او څاروی. مطلب دا دی چه که څوک د پښتون په دغو شیانو تېری او زیاتی وکړی یا ور ته سپک وگوری، نو دی به هرومرو ور باندی ننگ او غیرت کوی او د زورگیر او زیاتی کوونکی لاس به ور نه لنډ وی.

په پښتنی ژوند کښی دین، وطن، قام، ژبه او ښځه، دا ټول په ناموس کښی حسابېږی، نو ځکه په دغو ټولو شیانو باندی ننگ کول، د ننگیالیتوب اصلی شرطونه دی. خو خوشحال خان هم په دین، په ملک او په تېر غیرت کول لوی خصلت بولی.

لغتونه 单词

注释，评注；解释，阐明	〈阿〉[阳]	/taf'si:r/	تفسیر
比较好的	〈波〉[形]	/beh'tar/	بهتر
卑贱，下贱，卑鄙	〈阿〉[阳]	/zil'lat/	ذلت
傲慢，高傲，虚荣，过于自信	〈阿〉[阳]	/ghu'rur/	غرور
谄媚，奉承	[阳]	/khusha:-'mand/	خوشامند
阿谀，谄媚，奉承，卑躬屈膝	[阴]	/ghwaṛama:'li:/	غوړه مالی
贪婪，贪心，贪求，贪欲	[阴]	/wəṣstər'gi:/	وږسترگی
耻辱，丧失名誉；妄自菲薄，自卑，自暴自弃	[阴]	/spi'ta:na/	سپیتانه

平等；平均	〈阿〉[阳]	/masa:'wa:t/	مساوات
美妙，美丽；利益，益处，好处	[阴]	/ḥe'gəṇa/	ښېګڼه
恩惠，恩典；恩赐	〈阿〉[阳]	/ih'sa:n/	احسان
生活方式；礼貌；对待	[阴]	/guza:'ra/	ګذاره
勇敢，大胆，勇猛，无畏	[阳]	/maṛan'tob/	مړنتوب
慷慨；男子气概；勇敢	[阳]	/muru'wat/	مروت
冒险，冒险行为	〈波〉[阴]	/arba:'zi:/	سربازي
叔伯兄弟关系，堂兄弟关系	[阴]	/trabga'ni:/	تربګني
意愿，信念，依赖；相信	〈阿〉[阳]	/təwa'kul/	توکل
说话，话语，允诺，许诺，签名，诺言	〈阿〉[阳]	/qaul/	قول
使成双，使成对	[阴]	/ghbarga'wəna/	غبرګونه
雌性	[阴]	/ma:'da/	ماده
美女	[阴]	/ma'la:la/	ملاله
欧洲	[阳]	/fa'rang/	فرنګ
仆人，仆从国家	[阳]	/nu'kar/	نوکر
性情，性格，脾气	〈阿〉[阳]	/khas'lat/	خصلت

练习 تمرين

根据课文回答问题。

۱- پښتني خویونه کوم کوم دي ؟

۲- تر ټولو خویو کوم درانه او سپېڅلي دي؟

۳-د دغه جمله "له هر څه نه تېرېږي، خو له عزت او پت نه نشي تېرېدای." مطلب څه دی؟

۴- پښتانه څه فعل ډېره بده ګڼي ؟

۵- د ښېګڼې په لړ کښې څه فعل د پښتنې خوی غوره توکی دی؟

۶- د پښتانو د تورې او مېړانې نښه څه ده؟

۷- په پښتنې ټولنه کښې ژبه او قول څومره اهمیت لري؟

۸-ولې په ژبه او قول درېدل د اجتماعي او خپل منځ چارو د سمون او ښه والي یو پوخ بنسټ ګڼل کېږي؟

۹- د پښتنو د ننګ او غیرت ځایونه کوم دي ؟

۱۰- د ننګیالیتوب اصلي شرطونه څه دي؟

第十二课

دوولسم لوست

لومړی برخه

پښتونوالی(۱)

ملي غرور

ملي غرور یو ډېر شریف حس دی ، دا حس په هغه مللو کښې لیده کېږي چه ترقي یافته وی . ولی چې انسان ړومبی منفرد او یوازی و ، د ده حیات هم په یوازی او منفردانه طور سره و ، هر یوه به علیحده علیحده د خپل ژوند د ساتلو دپاره کوشش کاوه . مګر هر څومره چه زمانې تېرې شوې د تکامل په قانون سره د انسان په فکر او مغزو کې هم تطورات او تغیرات راغلل . ده کور وپیژاند ، خپل خپلوان یې وپیژندل ، هر کله چه دا حس ده ، د خپل تکامل په وخت کې میندلې دی ، نو هماغه انسان مترقي او متکامل ګڼل کیږي چه دا حس پکښې قوی او مترقي وي .

مونږ ویلی شو چه د ملیت دا حس په پښتنو کې خورا کلک او ټینګ دی ، تر دې چه په خپل ملیت باندی ناز د پښتون غریزه ګرځیدلې ده ،د مذهبی لحاظ نه پرته . یو پښتون په دنیا کې د ځان نه هېڅوک زیات نه بولي ، بلکه د ځان سره یې برابر هم نه بولي .

سړی ویلي شي چه د دې نورو سجیو په شان دا هم د دوی د وطن د لوړو او چتو غرو د استقلال غرور اثر دی چه د دوی په مزاجو کې فطرتاً اخکلی شوی دی . لکه ژورژسمیت د خپل کتاب « انسان » په لسمه صفحه

کې داسې لیکي:

هغه طبیعي اثرات چه لوړ غرونه یې د خپلو اطرافو او نواجیو د اوسیدونکو په روحیاتو کې لېږي غیر له هغه موثراتو څخه دي چه هواري زمکې یې د خپلو ساکنینو په روحیاتو کې پیدا کوي ، ځکه چه د غرنی مملکت اوسېدونکی تل د طبیعت سره په جګړه کې وی . ځکه چه د سېلابونو او ځیروونکو حیواناتو وجود او هغه مشکلات چه په زمی کې دغه خلقو ته رسېږي . همیشه دوی ته تهدید ورکوي او طبیعی ده چه داسی ژوندون نه یوازی د غرونو د شاوخوا د اوسېدونکو د بدنونو او پلو د تقویت سبب ګرځي ، بلکه شجاعت مقاومت د فکر سرعت ته هم تقویت ورکوي . هغه بنیادمان چه د غرو په لمنو او اطرافو کې ژوند کوي ، نو له دې کبله چه د هغوی روزمره تماس غیر له غره نه د نورو طبیعي عناصرو سره هم وي ، نو ځکه د خدای تعالی (ج) عظمت او صنعت په هغوی کې زیات نفوذ کوي او دوی د بنداری ته مائل کوي . د غرونو خلق معزز او آزاد طبیعته اوسي او د دوی د غرور او حریت سبب دا دي چه د دوی د استوګنی ځای اکثره د اجانبو د ظلم نه په امن وی . نو په دې صورت کې د طبیعت استقلال په ځان اعتماد ، غرور او مناعت په هغو کې زېږي او ورو ورو د زمانې په تېرېدلو سره کلکېږي .

د غره په اوسېدنکو خپل وطن او ملت د هر چا نه زیات ګران وی او د خپل استقلال او ملی حریت د ساتلو په باب په هیڅ قسم فداکارۍ صرفه نه کوي او پرته له هغه معنوی قوت څخه چه طبعاً دوی یې لری د دوی د مملکت سختی لارې او د شوار ګذار منازل هم د دوی د استقلال د ساتنې دپاره ممد ثابتېږي . که د دنیا تاریخ ته وکتل شي . له دې قسمه متعدد شواهد زمونږ سترګو ته راځی! کوم وخت چه رومادروم په اطرافو او جوانبو کې په فتوحاتو شروع وکړه او مختلف ملل یې یو یو د تسلط لاندې راوسته ، نو د آلپ بالقان، کارات غرونو د اوسېدونکو په مقابل کې یې پر له پسې فاحش شکستونه وخواړه ، د دی نه پرته هغه جګړې چه د تیرول خلقو د خپل حریت او ملی استقلال د حاصلولو دپاره د فرانس سره کړی دی ، یا هغه جنګونه چه زیانو د روس د استعمار په مقابل کې کول دا ټول د همدغه نه بد لیدونکی طبعی قانون نمونې دی .

زه په بل چا کې نه غږېږم زما خبرې د پښتنو د ملی غرور د غریزې سره دی : هو ! پښتانه په خپل ملیت پښتنولی خورا نازان او مغرور دی ، پښتانه په خپل مزیت پوه وی او که نه ، مګر ډېر اجنبی پوهان او مدققین چه د پښتنو په ژبه او اخلاقو کې پلټنې کړی دی ، د پښتنو دا ملی مزیت یې ستایلی دی .

يو خارجی محقق چه د پښتو او پښتنولۍ دلدار دی ليکي چه که د يوه خورا ښوزلی لوڅ ، بربنډ پښتون شخه چه ستا مزدور به وی پوښتنه وکړې چه څوک يې ؟ دی به درته په ډېر غرور او مباهات سره ووايي چه پښتون يم !!! چه د ده د لهجې څخه به د مليت غرور او له سيما څخه به يې د پښتنولی علويت ښکاره کېږي او تا به په درانه غږ او خورا متانت او وقار داسې د اثر لاندې کړي چه ته به وايې دی بادار او زه نو کريم .

يو بل ايرانی سياح او نقاد داسې ليکی : هر پښتون فرد اول ځان او بيا خپل قام د خدای برگزيده گڼي او د مځکې په مخ هيڅوک د يو پښتون په برابر نه بولي . د پښتنو ملی شاعر خوشحال خان خټک په خپل مليت نازېږي او وايي :

د افغان په ننگ مې وتړله توره

ننگيالی د زمانې خوشحال خټک يم

مولوی عبدالمجيد افغانی په تاريخ افاغنه کې داسې ليکې : په پښتنو کې د شرافت معيار دا دی چه سړی دې پښتون وي ؛او په دې شرافت د کوم يو کار اثر نه لوېږي ؛ کوم افغان ته د غيرت راوستو دپاره دا وينا کافی ده چه ده ته وويل شی چه - ته پښتون يې او داسی کار کوئ !- او د ټولو نه سخت قسم دا دی چه دی ووايي : زه به پښتون نه يم که داسی وکړم . د سيدانو نه پرته دوی د هيڅ قوم شرافت د خپل شرافت نه زيات نه گڼي .

حضرت سيد جمال الدين افغانی داسی ليکي : هر پښتون که څه هم فقير وی دا خيال لري چه دی د هر چا نه شريف دی ؛ ځکه چه پښتون دی ؛ او بل دا چه کامل ايمان او اسلام پرته د پښتون او عرب نه بل څوک نه لري .

کرنيل ميلسون انگريز د خپل تاريخ «افغانستان» د اول باب په آخر کې د يوې خبرې په ضمن کې دا عبارت راوړي : دوی پښتانه ډېر په خپل ملک مين او په خپل قام غاور دي . يو پښتون شاعر چه د قام په انحطات زهيرېږي نو له همدغې خوا څخه ځان ته وايي او قام ته پېغور ورکوي چه وينې شي :

مغروره شو مه په دې چه افغان يمه زه

اگاه نه يمه هيڅ چه نادان يمه زه

د ځانه نه يم خبر ، نه له بده حاله

والله خزان وهلی ، گلستان يمه زه

لغتونه 单词

第一的，初次的；（存在上）原有的，以前的，（发展上）初期的，基本的	［形］	/rum'bai/	ړومبی
方式，方法，形式	〈阿〉［阳］	/taur/	طور
个别的，单个的	［形］	/'alahi'da/	عليحده
变化，变动	〈阿〉［阳］	/taghai'yur/	تغير
进步的；完善的，完美的	〈阿〉［形］	/mutaka:'lim/	متکامل
珍爱，娇生惯养，宠爱	〈波〉［阳］	/na:z/	ناز
观点，看法，意见，眼光	〈阿〉［阳］	/li'ha:z/	لحاظ
天生的气质，天性，本性	〈阿〉［阴］	/saji'ya/	سجيه
按天性，天性地，本能地	〈阿〉［副］	/fi'tra'tan/	فطرتاً
掺合，弄乱	［及］	/a'khhəl/	اخښل
平的，平坦的；平面的	［形］	/ha'wa:r/	هوار
居民，居住者	〈阿〉［阳］	/sa:'kin/	ساکن
国，国家；王国	〈阿〉［阳］	/mamla'kat/	مملکت
大胆，勇敢，勇气	〈阿〉［阳］	/shuja:''at/	شجاعت
至高无上的（真主）	〈阿〉［形］【宗】	/ta'a:'la:/	تعالي
伟大，宏伟，崇高	〈阿〉［阳］	/'aza'mat/	عظمت
每日，总是，常，随时，永远	〈波〉［副］	/rozma'ra/	روزمره
接触，接近；交往	〈阿〉［阳］	/ta'ma:s/	تماس
倾向于，有意于	〈阿〉［形］	/ma:'yil/	مائل

受尊敬的，敬爱的，可敬的；高贵的	〈阿〉[形]	/mu'a'zaz/	معزز
自由	〈阿〉[阳]	/hurri'yat/	حريت
协助……的，帮助……的	〈阿〉[形]	/mu'mid/	ممد
(人数等)众多的，(很)多的	〈阿〉[形]	/muta'a:'did/	متعدد
过分的，过度的；颇大的，显著	〈阿〉[形]	/fa:'hish/	فاحش
研究者，考察者，调查者，细心察看者	[阳]	/mudaqi'qi:n/	مدققين
骄傲，光荣，自豪	〈阿〉[阳]	/muba:'ha:t/	مباهات
心爱的，喜爱的，喜欢的	〈波〉[形]	/dil'da:r/	دلدار
外表，外貌；面孔，面容	〈波〉[形]	/si'ma:/	سيما
挑选上的，选定的	〈波〉[形]	/barguzi:'da/	برګزيده
飞，飞行，飞翔	〈波〉[阳]	/par'wa:z/	پرواز
افغان的复数	[阳复]	/afa:ghi'na/	افاغنه
中间，当中；内容	〈阿〉[阳]	/zimn/	ضمن
下降；衰落，没落；崩溃	〈阿〉[阳]	/inhi'ta:t/	انحطات

注释 تشريح

本课两篇课文选自《پښتونوالي》(《普什图瓦里》)。

练习 تمرين

一、回答问题。

١- ملي غرور څرنګه حس دی ؟

۲- د پښتو دا حس د څه په سبب پیدا شوی دی ؟

۳- پښتانه کوم شی تر ټولو مهم ګڼي ، خپل ځان ، وطن یا قام ؟

۴- په دې متن کې څو لیکوالان پیدا کېږي ؟

۵- په پښتنو کې د شرافت معیار څه دی ؟

二、判断对错。

۱- یو پښتون په دنیا کې د ځان نه ځیني څوک زیات بولي .

۲- د خپل استقلال او ملی حریت د ساتلو دپاره پښتون په مرګ خپه نه کوي .

۳- پښتون یوازی له خپل ځان سره مینه لري .

۴- هر پښتون فرد اول ځان او بیا خپل قام د خدای برګزیده ګڼي او د مځکې په مخ هیڅوک د یو پښتون په برابر نه بولي .

三、翻译句子。

۱- مګر هر څومره چه زمانې تېرې شوې د تکامل په قانون سره د انسان په فکر او مغزو کې هم تطورات او تغیرات .

۲- سړی ویلي شي چه د دې نورو سجیو په شان دا هم د دوی د وطن د لوړو او چتو غرو د استقلال غرور اثر دی چه د دوی په مزاجو کې فطرتاً اخکلی شوی دی .

۳- نو په دې صورت کې د طبیعت استقلال په ځان اعتماد ، غرور او مناعت په هغو کې زېږي او ورو ورو د زمانې په تېرېدلو سره کلکېږي .

۴- پښتانه په خپل ملیت پښتنولی خورا نازان او مغرور دی ، پښتانه په خپل مزیت پوه وی .

۵- مغروره شومه په دې چه افغان یمه زه

اګاه نه یمه هیڅ چه نادان یمه زه

د ځانه نه یم خبر ، نه له بده حاله

والله خزان وهلی ، ګلستان یمه زه

四、讨论。

ستا په نظر د پښتنو ملي غرور ښه دی که نه ؟ ولې ؟

دوهمه برخه

پښتونوالی(۲)

عهد او وفا

اجتماعی ژوند بې له يو اخلاقی نظام څخه نه شي چلېدلی ، هر قوم او هره جامعه ضرور ده چه يو قسم اخلاقی نظام به لري ، يعنی يو څه داسی اصول به لري چه ټوله جامعه په هغو کړنه کوي ، د دغو اصولو د جملې څخه عهد او وفا يو ډېر مهم اساس دی چه ګويا د اجتماعی ژوند محور بلل کېږي . که د يوې جامعی له منځه څخه د عهد او وفا ټکی پورته شي ، نو د دې جامعی په افرادو کې به څومره بې اعتباری او بې اعتمادی اوسي . او څه رنګ چه د دنيا اکثر کارونه په اعتبار او اعتماد پورې اړه لري ، نو که اعتبار او اعتماد لري شي په اجتماعی ژوند کې په دومره بې نظمی او متشتت پېښ شي چه د وحشت اندازې ته به انسان ولوېږي ، نو هيڅ تمدن ګويا بې له اعتبار او اعتماده نه شي قائمېدلی ، ځکه که انسان د اعتبار ساتلو مراعات و نه کړي ، نو داسی هيڅ قانون جوړول ، ممکن نه دی چه په هغه کې د حيلو او خبرو کولو ځای نه وی ، د اعتبار او اعتماد پيدا کېدلو او ټينګېدلو لوی عامل عهد او وفا دی . په هر تمدن کې چه عهد او وفا کلک او محکم اوسي او د افرادو په منځ کې چه هر څومره يو تر بله اعتبار او اعتماد زيات او ټينګ وی ، هغومره دغه تمدن ښه او غوره شمېرل کېږي . دا خصلت دومره اهميت لري چه ټولو اسمانی اديانو او خصوصاً د اسلام مقدس دين د دې خصلت نهايت تاکيد کړی دی ، قرآن کريم ډېر ځله --اوفوا بالعقود -- او په داسی نورو رنګونو کې د قول او وفا هدايت کوي .

په پښتونولی کې عهد او وفا خورا ډېر اهميت لري ، د « پښتو » د لفظ په معانيو کې يوه -- په خپل عهد او قول باندې ټينګېدل او درېدل -- هم دی . پښتون ځان وژني خو د خپل عهد نه نه تېرېږي . د پښتنو دا

روح پردو او بیګانه قومونو ښه پېژندلی دی او د خپل مفاد د پاره د دوی د دې خوی نه استفاده کوي ، داسې چه په څه چلول د پښتنو نه یو وار قول او عهد اخلي ، نو دا خو ورته معلومه ده چه پښتون قول او لفظه څخه نه اوړي ، نو بس بیا یې په خپل مفاد مستعملوي .

پښتانه د اقوامو د اختلاف په لحاظ د دې معنی څخه قول عهد ، وینا ، لوظ ، بول او ګای سره تعبیر کوي ، پښتون چه وعده وکړي یا به هغه پرځای کوي یا به مري . پښتانه په لوظ دومره ټینګ دي چه که په غلطی یا په سهو ورڅخه هم قول او عهد وشي او وروسته ورته خپله غلطی معلومه هم شي ، پښېمانه خو ډېر وی ، مګر د عهد د ماتولو چل پښتون ته نه ورځي ، بېچاره ټول تکالیف تېروي ، مګر عهد ساتي .

پښتانه په دې خوی شیدایان دي .حمید بابا په څه ارمان د پښتونولۍ دا خوی غواړي :

چه د عشق په جهل ځان وژنی وکړي

کاشکی زه عبدالحمید هغه پښتون شم

د پورته بیان څخه په پښتنولۍ کې د عهد او وفا اهمیت ښه ځرګند شو ، او دا چه پښتانه په دې خوی ځومره ټینګ دي اوس هم پښتانه په دې خوی هماغو مره کلک دي . ولی د علم او پوهنی د خپوروالی او ښه تربیت څخه چه د خپلو خواخوږو له خوا څخه دوی ته ورکول کېږي . دوی د دې لارې څخه د دښمن په جال کې نه نښلي او نه په بدو چارو کې لوېږي ، پښتو د پښتنولۍ ړومبی عنصر دی . د پښتون په لغت کې پښتو لفظ د دغه قام د ژبې ، غیرت ، ایمانداری ، عهد او وفا ، کلکی ارادی ټینګښدلو په معنی راغلی دی . د ژبې په متعلق زه دلته بحث نه شم کولی چه له موضوع نه وړاندې و نه لوېږم ، د عهد او وفا نه مو مخکښې بحث وکړ . زه غواړم چه دلته د غیرت څخه لږ څه بحث وکړم : غیرت د مدافعی هغه حس دی چه سړی ته د فردی ، اجتماعی او ملی حق د سلبولو په وخت کې راولاړېږي یا په لږ ښه آسان عبارت سره غیرت - ننګ دی غیرت کول یا غیرت خوړل . ننګ کول دی ، غیرتی سړی ، ننګیالی سړی دی .

غیرت یو مقدس حس دی چه د دین ، وطن قام او ناموس د ساتلو دپاره په انسان کې لږ او ډېر اېښوده شوی دی ، غیرت هغه عصبیت او حمیت دی چه د قومیت او ملیت د مانۍ اساس بلل کېږي ، هیڅ قام او ملت بې ددغه عصبیت ژوندی نشی پاته کېدلی . قومی او ملی خصائص د دغه عصبیت په اعتبار ساتل کېږي . هر څومره چه دا عصبیت زیات او کلک وی ، مانۍ هماغومره محکمه او کلکه وی. په هر ټولې او قام کې چه دا حس کم شي ، هغه ټولې ورکېږي ، د ورکېدو دوه لارې دي یا دا چه استقلال بایلي او د نورو د سیورې لاندې شي چه څو پکې مدغم شي او په تاریخ کې فقط ورځنی قصې پاته شي ، یا دا چه ورو ورو خپل ممیزات بایلي او د نورو په رنګ کې رنګېږي ، نو هغه داسی وی لکه ماسته چه په شرومبو بدل شي . نو که د دې تبدیل په وخت کې هم څه محکم خصائص و نه لري ، نو بس د اول قسم غوندی آخر مدغم شي او ورک شي . د پښتنو عصبیت او غیرت دومره ښکاره دی چه هیڅوک ورته انکار نه شي کولی او د همدغه عصبیت وجه ده چه د مودو مودو څخه سره د ډېرو انقلابو او تحولاتو یې خپل ملی خصائص رسوم ، عادات او خپل قومی حیات ساتلي دي . غیرت په څو قسمه دی ، ملی ، قومی ، وطنی او دینی غیرت چه د هر یوه بیان بېل بېل په خپل ځای کې راځي .

کلکه اراده او ټینګتیا

کلکه اراده او استقلال یو مهم خوی دی . فلاسفه د کلکې ارادې او استقلال خورا ډېره ستاینه او د بې استقلالۍ خیالۍ ډېره غندینه کوي . د کامیابۍ او کامرانۍ په عللو او اسبابو باندی چه کوم وخت بحث کوي ، نو کلکه اراده او استقلال د دوی په سر کې راوړي . انګریز حکیم د خپل کتاب «ایجوکیشن» په څلورم باب کې څو واره په تاکید سره دا خبره لیکلی چه -- په اخلاقی او اجتماعی لحاظ سره هر هغه عدل او انصاف چه په بې استقلالۍ سره اجرا کېږي د هغه نه هغه ظلم او استبداد ښه دی چه په استقلال سره اجرا شي-- حکماً په دې ټینګ دی چه پس له فکر او تدبیر نه چه کومه رایه قائیمه کړه شی ، نو په آخر کې که څه هم په دې عزم کې انسان ته لږ ضرر هم څرګند شي . دغه ضرر ته دې غاړه ږدي او استقلال دې نه پرېږدي . حکما د کلکې ارادې او ټینګتیا ډېرې ښېګڼې بیانوي ، چه ټولې دلته نه ځائېږي . د یو مسلمان دپاره په دې باب کې د حکمت د ټولو کتابو څخه د قرآن کریم دا هدایت ډېر اهمیت لري چه -- وشاور هم فی الامر فاذا غرمت فتو کل علی الله-- په پښتنو کې د قرآن حکیم دا دواړه اجزا په ښه شان سره معمول دی . دوی اول په مهمو کارو کې جرګه کوي او بیا پس له فیصلې څخه د عزم نه په هیڅ شان نه اوړي .

دا مشهوره ده چه د پښتون هو ، هو ده او نه يې نه !

دا هغه ستايلي او ښاغلي خوی دی چه ټول ژوندی قومونه د دې په اثر ژوند کوي .

لغتونه 单词

协会，团体，共同体	〈阿〉[阴]	/ja:mi''a/	جامعه
行为，行动，事；方法，动作	[阴]	/k'rəna/	کړنه
好像是，似乎，仿佛	[副]	/gu'ya:, go'ya:/	ګويا
轴，中枢，轴心	〈阿〉[阳]	/mih'war/	محور
分布开的，散布开的，分散的	〈阿〉[形]	/mutasha'tit/	متشتت
野蛮，野蛮性	〈阿〉[阳]	/wah'shat/	وحشت
树立起来；被树立，被创立；被建立	[不及]	/qa:ime'dəl/	قائمېدل
考虑，关怀，照顾；遵守，遵循	〈阿〉[阳]	/mura:''a:t/	مراعات
慷慨的；仁慈的，仁爱的	〈阿〉[形]	/ka'ri:m/	کريم
限度，极限；目的，愿望	〈阿〉[阳]	/niha:'yat/	نهايت
意思，内容，要旨；利益；好处	〈阿〉[阳]	/mu'fa:d/	مفاد
使通用，普及	[及]	/musta'mala'wəl/	مستعملول
诺言，许诺，答应	[阳]	/lauz/	لوظ
愚昧，不学无术；轻率，鲁莽	〈阿〉[阳]	/jahl/	جهل
网；渔网；球网	[阳]	/ja:l/	جال
防御的，防卫的；防守的	〈阿〉[形]	/muda:fa''i:/	مدافعي
意识，思想；区别，分别	〈阿〉[阴]	/mumaiyi'za/	مميزه

用酸牛奶做的饮料	［阴］	/shrum'be/	سرومبې
酸牛奶，煮过并发酵的牛奶	［阳复］	/ma:s'tə/	ماسته
否认，否定，不承认；拒绝	〈阿〉［阳］	/in'ka:r/	انکار
一定，必定	〈阿〉［副］	/'huk'man/	حکماً
智慧，才智；哲理	〈阿〉［阳］	/hik'mat/	حکمت
平常的，照例的，通用的；完成的	〈阿〉［形］	/ma''mu:l/	معمول

练习 تمرين

根据课文回答问题。

۱- که د يوې جامعې نه عهد او وفا له منځه يوسي ، په جامعې کې به څه وشي ؟

۲- د اجتماعي ژوند د چلېدلو څه په کار دي ؟

۳- که يو پښتو خپل وعده پر ځای نه کړه ، ښايي چې امله يې څه ده ؟

۴- پښتون ځان وژني خو د خپل عهد نه نه تېرېږي دا جمله څه معنی ؟

۵- پښتانه څنګه د دښمن په جال کې نه نښلي او نه په بدو چارو کې لوېږي ؟

۶- د پښتون په لغت کې پښتو لفظ څه معنی ده ؟

۷- غيرت څه حس دی ؟ څو قيسمه لري ؟

۸- د قوميت او مليت د مانۍ اساس څه دی ؟

۹- د ورکېدو دوه لارې دي ، کومه کومه ده ؟

۱۰- د متن په آخر جمله کې هغه خوی څه دی ؟

第十三课 دیرلسم لوست

لومړی برخه

په دې شرط چې امضا زده کړې

له ځانه سره مې وویل: یاره کچکول خانه! ټول خلک رئیسان شول، نژدې دی چې وزیران شي او ته همداسې لکه غوبی د ګاونډیانو د خیراتونو په سبوس باندې شخوند وهې. راځه لاړ شه، یو څه پوښتنې وکړه. همداسې مې وکړل، له کوره مې خپلې پښې سپکې کړې.

د کلا له دروازې څخه د وتلو په حال کې وم چې د مېرمنې غوږ څېرونکې غږ مې زړه ودراوه او را ته یې وویل: کچکولیه، چېرې ځې؟ ما خپلې سرمې و پړسولې او په غرور سره مې ور ته وویل: ځم چېرته چې کوم ریاست ونیسم. غواړم چې رئیس شم. هغې په مسخره سره وویل: تر شپږم ټولګیه پورې یې ښوونځی لوستلی نه دی. له ما بدتره په تور او بور خبر نه دی. رئیس کیږې؟ ځه، خدای دې وواهه، چوک ته لاړ شه، که څه مزدوري پیدا کړې.

ما مې د مېرمنې خبرې بابېزه وګڼلې او خپله لاره مې ونیوله. څو ګامه مې نه و اخستي چې یو انډیوال مې مخې ته نیغ ودرید او له روغبړ نه وروسته یې را نه د کار پوښتنه وکړه. ما ورته وویل: یاره، د بیکارۍ له لاسه مې زړه سوری سوری دی. یوه لاره راوښیه. ملګري مې سر وخوځاوه او په حیرانۍ سره یې را ته وویل: خدای دې غرق کړه. لا تر اوسه خبر شوی نه یې؟ ما وویل: یاره، د خپلې مېرمنې سردی و خورم که به خبر یم. ژر کوه، را ته ووایه، څه ټکه لویدلی؟ هغه په خندا شو. وروسته زما غوږ ته یې خپله خوله نژدې کړه او ورو یې راته وویل: شاه ګل خان واسطه بد هلته غټ سړی ټاکل شوی! ما په وارخطایي ور ته وویل: شاه ګل

خان!؟ هغه شاه ګل خان چې په وړکتوب کې به یې زموږ مرد کی غلا کول؟ ملګري مې را ته په غوسه ناک نظر وکتل: خبرې دې سمې کوه! هغه د وړکتوب دوره وه. اوس بل پړاو راغلی. هغه ته ټول خلک واسطه بد صاحب وايي. بیا مې تر و پوښتل: یاره، واسطه بد ولی ور ته وايې؟ ملګري مې په زړه تنګی سره وویل: یاره، کچکول خانه! ته هیڅ نه سرې کیږې. هغه ته ځکه واسطه بد وايي چې په کار کې د چا هیڅ واسطه نه مني.

ما مې له خپل انډیوال نه د واسطه بد صاحب پوره پته واخیسته او په لور یې وخوځیدم. کله چې ورسیدم، کتل مې چې زموږ زیات کلیوال راغلي وو، لکه د مچیو په شان د دروازې مخې ته بونیدل. له هغو سره مې روغبړ وکړ، له یوه او بل نه مې پوښتنه وکړه. تولو ګیلې کولې: یاره، شاه ګل خان نه خپه یو، ځکه د میرداد زوی چې په خوشایو هم خبر نه و، هغه یې په غوښن ځای کی مقرر کړی او زه یې پرې اینبی یم. بل را ته وویل: د شاغاسی زوی یې چې د دوه خرو اوربشی نشي بیلولی، هغه یې هم په ښه ځای کی مقرر کړی، زه پاتی یم.

په همدې خبرو کی وو چې ناڅاپه چیغې شوې: بېرته شی! بېرته شی چې د واسطه بد صاحب موټر راغی. ما ژر وکتل او ځان مې ور نژدی کړ. څو مې د موټر ښیښې ته ځان رساوه.، له لسو کسو نه زیات شمېر کلیوال مو په موټر و نښتل او زه لیری ګوزار شوم. څه به مې سر خوږوم، ځان مې شاه ګل خان ته ورساوه او هغه په لومړي سر کی را ته وویل: کچکوله، خدای دې غرق کړه! تر اوسه چیرته وې؟ وخته به راغلی وې چې رئیس مې مقرر کړې وې. ما ور ته وویل: یاره، ما په کور کی ویلي دي چې زه باید رئیس شم. نو ته باید ما رئیس مقرر کړې.

په خبرو کی وو چې یوه ډېره نازکه او ښکلې نجلۍ راننوته. یوه قوده سپین کاغذونه یې د شاه ګل پر میز کېښودل او له یوې خوږې موسکا وروسته ووتله او شاه ګل په کاغذونو امضاګانې پیل کړې. ما ورته وویل: شاه ګله، دا ښځه خو چادری نلري، مخ یې لوڅ و. هغه را ته وویل: چادری چادری مه وایه چې خلک بیا در باندې د القاعده ګمان کوي. دا زما سکرتره ده.

زما چې له خولې نه اوبه تلې، په بیړه مې ور ته وویل: یاره، په سکرتر او مکرتر دې نه پوهیږم. یو دوه دقیقې مې ور پریږده. هغه په غوسه غوندی شو او په تریو تندي یې وویل: دا زما ملګرې ده. له دې نه به لیری

ګرځي. ما ژر خبره تېره کړه او و مې ویل: یاره، دې نجلۍ ته خلک څه نه وايي؟ هسې رسوا نه شي؟ هغه په خندا وویل: ساده سړیه! اوس هغه پړاو تېر شوی. هغه د اختناق دوره نور پای ته ورسید. اوس د ښځو حقوق برابر شوي دي. څوک نه شي کولای، په دې او دې د ښځو مخه ونیسي. ښځې اوس کولی شي، په خپله خوښه ژوند وکړي. په خپله خوښه جامې واغوندي او څه یې چې زړه غواړي، هغه باید وکړي. پوه شوې؟ ما یې خبره و نیوله: یاره، شاه ګله! لږ په دې کار وکې، احتیاط کوه. هغه په زغرده وویل: ساده سړیه، موږ باید نړۍ ته په اثبات ورسوو چې دلته د ښځو حقوق تامین شوي دي. ما ور ته وویل: ګوره، که خارجیان دې ووینې؟ هغه وویل: خارجیان په دې خوشاله کېږي چې موږ ښځې و نازو او له هغو سره مینه وکړو او مقرر یې کړو. وروسته یې را ته وویل: ساده سړیه، راځه چې مقرر دې کړم. زموږ نظام ډېر ښه نظام دی او موږ غواړو، د تېر نظام تېروتنې لیرې کړو چې هغه د ښځو حقوق نه ورکول وو. په همدې خبرو کې و چې هغه نجلۍ بیا را ننوته او څه کاغذونه یې د شاه ګل پر میز کېښودل او وروسته په ناز سره ووته.

ما له ځان سره وویل: یاره، کچکوله! راځه مقرر شه. هسې دې هم مېرمنه لکه زړه وزه له شیدو او خونده پاتې ده. اوس ماموریت ښه خوند لري. له یوې خوا له ښځو سره به مې ساعت تیروي، له بلې خوا د ښځو حقوق ورکول کیږي، له بلې خوا څوکۍ را کول کیږي، له بلې خوا لوی رئیس مې اندیوال دی، له بلې خوا دلته هیڅ به نه خپه کیږم، ځکه په هره شعبه کې مې درې، څلور تنه کلیوال کار کوي. په همدې سوچونو کې وم چې شاه ګل را باندې غږ کړ: کچکوله، خط، مط دې زده ده؟



ما ور ته وویل: یاره نه! بیا یې را ته وویل: هیڅ څه هم لیکلی نه شې؟ ما ور ته وویل: نه. هغه له چرت وهلو وروسته را ته وویل: کور ته لاړ شه، یو څو ورځې له ځان سره کار وکړه، تر څو امضا زده کړې. کله چې امضا زده کړه، بیا راځه چې مقرر دې کړم. ما ور ته وویل: نو په یوازې امضا کیدای شي د دې ځای چارې پرمخ یوسم؟ هغه را ته وویل: مه وارخطا کیږې. کله چې لوی امر ما ته همداسې وویل: زه هم ستا په شان حیران شوم. خو اوس هیڅ ستونزه نه لرم. او چارو ته ګوره، په خپله پرمخ ځي، خو په دې شرط چې امضا زده کړې.

单词 لغتونه

签署，签名，签字	〈阿〉[阴]	/im'za:/	امضأ
糠，麸子	〈波〉[阳]	/sa'bus/	سبوس
撕的，扯的[转]凶猛的	[形]	/tsi'runkai/	څیرونکی
引起肿胀；吹，使充满气	[及]	/pərsa'wəl/	پړسول
笑话，讥笑，嘲弄，开玩笑	[阴]	/makhsa'ra/	مخسره
市场(场地)；十字路口	〈波〉[阳]	/chauk/	چوک
按日计件工资；零工，日工活	〈波〉[形]	/mazdu'ri:/	مزدوری
通常的，平常的；无用的，不好的	[形]	/ba:'bez/	بابېز
孔，缝，裂口，裂痕	[阳]	/su'rai/	سوری
(在液体中)沉浸，淹没；沉入……的，陷入……的	〈阿〉[阳]	/gharq/	غرق
陨石；闪电	[阴]	/'taka/	ټکه
小孩玩的圆球；陀螺(玩具)	[阴]	/mar'dəka/	مردکه
幼儿园	[阳]	/warək'tu:n/	وړکتون
住所，驿站；阶段；小旅店	[阳	/pa'rau/	پړاو
线索，痕迹；记号，标志	[阴]	/pa'ta/	پته
牲口粪，厩肥	[阳]	/khu'shoi/	خوشوی
同غوښور，肉多的；胖的；圆脸的	[形]	/ghwa'hən/	غوښن
玻璃；玻璃制品	〈波〉[形]	/shi'sha/	شیشه
温存的，温柔的，优雅的，娇弱的，易碎的，软的	〈波〉[形]	/na:'zək，na'zuk/	نازک

一小把（草等）；（花）束；一捧，一掬	[阴]	/qau'da/	قوده
裸体的，光秃的，无毛的	[形]	/lu:ts/	لوڅ
小心，谨慎；深谋远虑；明理	〈阿〉[阳]	/ihti'ya:t/	احتياط
快，迅速；伶俐的，活泼的，麻利的；勇敢的	[形]	/zghard/	زغرد
证明；证据	〈阿〉[阳]	/is'ba:t/	اثبات
错误	[阴]	/terwa'təna/	تېروتنه
部门；分支，分店，分院；支脉，支流	〈阿〉[阴]	/sho''ba, shu''ba/	شعبه
真正的，纯净的；诚实的，真诚的	[形]	/su'cha/	سوچه
耻辱的，受侮辱的，丢脸的，名声不好的	〈波〉[形]	/rus'wa:/	رسوا

练习 تمرين

一、回答问题。

۱- کچکول خان په تور او بور خبر نه دی ؟ ولی د ده مېرمن داس ويل ؟

۲- ولی ټول خلک شاه ګل خان ته واسطه بد صاحب وايي ؟

۳- کله چه د شاه ګل شکرتره راننوته ، ولی کچکول خيران شو ؟

۴- د دې مقالې سره سم اوس په افغانستان کی د ښځو حقوق ورکول کېږي ؟

۵- کچکول خپل نوم ليکلی شي ؟ ته څرنګه خبر يې ؟

二、判断对错。

۱- رښتيا چې ټول خلک رئيسان شو.

۲- کچکول خپل ځان ورک کړ ، نو له انډيوال نه وغوښتل چې يوه لاره ورته ښيي.

۳- شاه ګل خان په خپل ماشومتوب کې يو غل و.

۴- د ميردا د زوی په خوشايو خبر نه و.

۵- د نورو خلکو په نظر کچکول القاعده دی .

三、翻译句子。

۱- همداسې مې وکړل ، له کوره مې خپلې پښې سپکې کړې .

۲- ملګري مې راته په غوسه ناک نظر وکتل : خبرې دې سمې کوه ! هغه د وړکتوب دوره وه . اوس بل پړاو راغلی .

۳- بل را ته وويل : د شاغاسي زوی يې چې د دوه خرو اوربشی نشي بيلولي ، هغه يې هم په ښه ځای کې مقرر کړي ، زه پاتی يم .

۴- هغه په خندا وويل : ساده سړيه ! اوس هغه پړاو تېر شوی . هغه د اختناق دوره نور پای ته ورسيد. اوس د ښځو حقوق برابر شوي دي . څوک نه شي کولای ، په دې او دې د ښځو مخه ونيسي .

۵- زمونږ نظام ډېر ښه نظام دی او موږ غواړو ، د تېر نظام تېروتنې ليری کړو چې هغه د ښځو حقوق نه ورکول وو .

四、用普什图语复述课文。

دوهمه برخه

ولور او بدرګه

زموږ په اجتماعي ټولنه کې زيات داسې شيان د دود او دستور په نامه رائنوتي دي چې د خلکو د اقتصادي ژوندانه ملا ماتوي او اقتصادي اړخ يې له زياتې کمزورۍ سره مخامخ کوي. دغه دواړه خطرناک شيان (ولور او بدرګه دي چې ولور د کوژدی او واده په مراسمو کې او بدرګه د مړينې په وخت کې د بې ځايه سيالۍ او سيالدارۍ له امله منځته راځي.

ځينی پلرونه او ميندې شته دي چې په خپلې لور د ډيرې مينې او درنښت له امله ظلم کوی او د خپلې لور په

سر دومره پیسې اخلي چې د مقابل لوري اقتصادي اړخ ته تر زیاتې اندازې صدمه رسوي.

په دې صورت کې مور او پلار په دې فکر کې وي چې که خپله لور په کمو پیسو ورکړي ، نو څنګه چې د هلک

په ښځه هیڅ تاوان نه دی شوی . امکان لري چې په میړه او یا د میړه په کورنۍ دومره ګرانه نه وي ، میړه او د میړه کورنۍ د هغې ښځې ډیر قدر او عزات کوی چې زیات تاوان یې پر شوي وي .حال دا چې حقیقت ددې په عکس دی کله چې میړه او د میړه کورنۍ له خپلو شتو څخه خلاص شی او په واده کې تر دوو غوړونو پور وړی شی ، په دې کې هیڅ شک نشته چې ژوند تریخیږي او دوي مجبور دي چې تن ته د جامې او ګیډی ته د ډوډۍ پیدا کولو په غرض کار وکړي او په دغې وسیله د هغې رسوایۍ او اندیښنې مخه ونیسی چې امکان او احتمال یې د وزګارۍ او بی کارۍ په وخت کې هر وخت موجودیږي. کله چې ټوله کورنۍ د شوي مصرف او تاوان د جبیرې لپاره په کار بوختیږي ، نجلۍ ته چې د ناویتوب له وخت څخه یې ډیره لږه موده تیره شوې په کار دی چې د واده په نکریزو سره لاسونه د خپل میړه پسې د لو په وخت کې وړی ټول کړي او یا نورو کورنیو ته منګی راډک کړي او ځان ته خواړه پیدا کاندي (کړي) یا دا چې میړه یې د خلکو له شرمه او له خپل ځای څخه پښې سپکې کړی ، خپله ښځه د واده په کالیو کې پریږدي او دی په بل ځای کې په خوارۍ او مزدورۍ بوخت شی چې په دغه صورت کې ښځه مجبوره او مکلفه ده چې په شته میړه کې کونډتوب ومني او په فراق شپې سبا کړي. که مور او پلار په لومړي سر کې خپله لور د پیسو په مقابل کې نه وې خرڅه کړې او هغې ته یې د اولاد په سترګه کتلی وي . کیدای شی چې په خپله محله او خپل ځای کې په ارامۍ او هوسایي د ژوند څو شپې سبا کړي او خپل قوم او غزیز ته و نه شرمیږي.

دغه راز بدرګه درواخله ،دغې ناوړې او خطرناکې ناروغۍ په محلي ژوندانه کې خپله لمنه تر دې اندازې خپره کړېده چې څو د بدرګې یعنی د مړي د درانده خیرات (یو خروار وریجو او غویانو) سرشته نه وی نیول شوی تر هغې پوري هیڅ امکان نه لري چې مړی ولمبوي او یا یې په کفن کاندي. د مړي کورنۍ که څه لري او که یې

نه لري ، ځان به تنګوي او ځان به پوروړی کوي ، څو بدرګه به يي په غوره کوی څکه چې د نورو بدرګه يي خوړلې ده ، نو د خپل مړي بدرګه به په نورو ضرور خوري.

سره له دې چې د واده قانون او د تعزيه دارۍ اساسنامه په دغه برخه کې منځ ته راغلی او واقعاً چې تطبيق يي د ناکح او منکوحی د کورنۍ په ګټه دی او دغه راز د مړي کورنۍ له ملاماتوونکو بی ځايه لګښتونو څخه خلاصه وی ، خو بيا هم لکه څنګه چې ليدل کيږي په ولاياتو په تيره بيا د هغو په محلاتو کې يو مخ نه عملی کيږي.

موږ په دې پوره باور لرو چې د واده نوی قانون او د تعزيه دارۍ اساسنامه به د بيلا بيلو ولاياتو د مرکزونو لخوا ولسواليو او علاقه داريو ته رسېدلی وی .خو دا چې نه تطبيقيږي او خلک يي په هيڅ شان دې ته حاضر نه دي چې عملي يي کاندي ، ددې به ايکی يو علت موجود وی ، هغه دا چې ولسوال او علاقه دار د ملک او قريدار صاحب خوابدي نه غواړي او په دغه راز لګښتونو کې خو د ملک لونګی ښکاره حق دی. که مخه يي ونيول شی ، لونګی هم له منځه ځي او ملک صاحب له لونګي نه په هيڅ شان نه تيريږي.

کومه طبقه چې په دغه برخه کې سترګې ور ته اوړي ، هغه د منورينو او علماوو طبقه ده چې د خلکو د ذهنيتونو د روښانه کولو لپاره له ابلاغ او تبليغ څخه کار واخلي او دوي د امکان تر اندازې په دې وپوهوي چې دغه ناوړه شيان چې زموږ په ورځني ژوندانه کې د دود ، دستور سيالدارۍ او عنعنې په شکل راننوتی دی ، نه ديني او مذهبي بنه لري او نه زموږ د مليت او افغانيت يو جز دی . دا هغه ناړوه خطرناک شيان دي چې زموږ د کورنيو اقتصاد ملاماتوي او د زياتې کمزورۍ سره يي مخامخ کوي.

په دغه برخه کې بايد په ملي سويه مبارزه شروع شی او د وطن هر پوه او منور فرد پکې برخه واخلي او خپلو وطنوالو ته له دغې مزمنۍ او خطرناکې ناروغۍ څخه په هر حال نجات ورکړای شی.

لغتونه 单词

ولور	/wal'war/	［阳］	聘礼，彩礼
بدرګه	/badra'ga/	［阴］	护送队，护卫队；护送，向导

结婚，结婚仪式，订婚，订婚礼	[阴]	/kyz'da/	کوزده
竞赛，比赛	[阴]	/siya:l-da:'ri:/	سیالداری
耻辱，羞辱，侮辱，毁损名誉，名声不好	〈波〉[形]	/ruswa:'yi:/	رسوائی
补偿，抵补，赔偿	〈阿〉[阳]	/jub'ra:n/	جبران
指甲花；洗发肥皂	[阴]	/nak'ridzi/	نکریځی
水罐	[阳]	/man'gai/	منګی
使复杂化的，造成困难的	〈阿〉[形]	/muka'lif/	مکلف
守寡，孀居；过鳏夫生活，鳏居	[阳]	/kund'tob/	کونډتوب
离别，分手；惜别	〈阿〉[阳]	/fira:'q/	فراق
尸布，寿衣	〈阿〉[阳]	/ka'fan/	کفن
使缩小，使紧缩，拉紧；压迫，压制	[及]	/tanga'wəl/	تنګول
唯一的，单一的	[形]	/e'ki:/	ایکي
伤心，生气；愁闷；欺负	[阴]	/khwa:ba'di:/	خوابدي
阶层，人群；阶级；等，级；种类	〈阿〉[阴]	/taba'qa/	طبقه
慢性的；长期的，继续不断的	〈阿〉[形]	/muz'min/	مزمن
救，拯救；解救，解放	〈阿〉[阳]	/na'ja:t， ni'ja:t/	نجات

注释 تشریح

خروار 海瓦尔，重量单位，相当于300公斤。

تمرين 练习

根据课文回答问题。

۱- ولور او بدرګه د څه دپاره پیدا کېږي ؟

۲- د دې مقالې لیکوال د څه دپاره دا مقاله لیکلې ده ؟ هغه د ولور او بدرګه ملاتړ کوي ؟

۳- په واده کې تر دوو غوړېونو پور وړی شی څه معنا ؟

۴- نجلۍ ته چې د ناویتوب له وخت څخه یې ډېره لږه موده تېره شوي په کار دي چې د واده په نکریزو سره لاسونه د خپل میړه پسې د لو په وخت کې وړی ټول کړي . دا جمله ترجمه وکړئ ؟

۵- په ارامۍ او هوسایي د ژوند څو شپې سبا کړي څه معنا ؟

۶- ولی خلک په هیڅ شان د واده نوی قانون ته حاضر نه دي چې عملي یې کاندي ؟

۷- په دغه برخه کې سترګې ورته اوړي ، - دغه برخه - څه ته اشاریه کوي ؟

۸- په وروستې برخه کې مزمنۍ او خطرناکې ناروغۍ څه ته اشاریه کوي ؟

۹- ستا په نظر داسی دودونه څرنګه دي ؟

۱۰- څرنګه د داسی ناوړه شیان دمخه ونیسي ؟

第十四课

خوارسم لوست

لومړۍ برخه

تر يو اوږده سفر وروسته د افغانستان د علومو په اکاډمۍ کې

دوويشت کاله وروسته تر ډېر انتظار وروسته کابل ته راغلم، او چې کابل مې په يوه نوې بڼه وليد او د هغه په رنګو کنډوالو مې سترګې ولګېدې، نو خدای خبر دی چې هغه شيبې به راباندې څنګه تېرې شوې وې. ځکه زما ښکلی او تاريخي کابل اوس هغه کابل نه و چې خلکو به يې د ليدلو په ارمان اوږده او ږده مزلونه کول او د هغه ننداره ته به يې ځان رساوه. د کابل تازه هوا، وچې او تازه ميوې او سړې اوبه د خدای هغه نعمتونه وو چې پر خپلو بندګانو يې لورولي وو.

سهار مې د وزير اکبرخان مېنې له لارې پلې د ښار په لور وخوځېدم. د لارې په اوږدو کې هره سيمه راته نوې او بدله ښکارېده. که څه هم وزير اکبرخان مېنه رنګه شوې نه وه، خو نويو ودانيو يې زما په ذهن کې زړه



نقشه له منځه ورې وه او هر سړک، هرې ودانۍ او هر لوري ته به مې په نوي نظر کتل. له ما سره خپل وراره ګلبهار هم ملګری و. هغه به کله کله د کوم سړک او کومې ودانۍ په اړه را ته پوښتنه کوله. خو ما به د معلوماتو له ورکولو څخه ځکه ډډه کوله چې زيات ځايونه رانه هير شوي او د ذهن له پردې څخه مې وتلي وو.

چې د زنبق څلور لارې ته را ورسېدو، نو سترګې مې په يوه رنګه کنډواله ولګېدې. دا هغه کنډواله وه چې يو وخت يې ودانۍ شاوخوا ښايسته کړې او سيمې ته يې ځانګړې ښکلا ور بخښلې وه. خو اوس يوازې لکه يو اسکليټ غوندې ولاړه وه، کړکۍ او دروازې يې نه درلودې،ديوالونه يې څه رنګ او څه را کاږه شوي وو. د دروازې په مخ کې يې د خاورينو شګو ډيران پروت وو. ما وراره ته وويل چې دغه ودانۍ پخوانۍ پښتو ټولنه او بيا د افغانستان د علومو اکاډمي وه. خو اوس نه پوهېږم چې اکاډمي به چيرې وي او ايا زما پخواني ياران به پکې موجود وي او که هغوی به هم لکه زما په شان يو لوري ته مخه کړې او يا به يې له دې فانۍ نړۍ نه سترګې پټې کړې وي.

زه زړه نا زړه رنګو کنډوالو ته ورننوتم، يوه خوا او بله خوا مې وکتل ،يو ديوال او يوه کوټه هم روغه نه وه. په زينه پورته شوم، په دوهم پوړ کې د کتابتون کوټه او د قلمي نسخو ارشيف اوس هغه کتابتون او هغه ارشيف نه و چې يو وخت به پکې د نړۍ د بېلوبېلو ژبو علمي او ادبي کتابونه په يوه خاص نظم او ځانګړې ترتيب ايښي وو. د علم او پوهې ليکوالانو به خپله د علم او پوهې تنده پرې ماتوله. اوس د کتابونو پر ځای د خاورو او شګو ډيران پروت و. له دوهم پوړ څخه د راکوزېدو په وخت د پخوانۍ پښتو ټولنې او بيا د علومو اکاډمۍ د رئيس په خونه مې سترګې ولګېدې چې څو تنه په څو زړو څوکيو باندې ناست او څو تنه پکې ولاړ وو. په دوی کې د پښتو ټولنې او بيا د علومو اکاډمۍ پخوانې مسلکي غړي هر يو عبدالرحيم ځدراڼ، علی محمد منګل، حضرت محمد ويار، عبدالوجد او... هم موجود وو. کوټې دروازه نه درلوده،ځکه د ټک ټک ضرورت پېښ نه شو او پرته له ټک ټکه کوټې ته ور ننوتم. سلام مې پرې واچاوه، ټولو د سلام تر اخيستلو وروسته په حيرانۍ را ته وکتل او داسې معلومېده چې و يې نه پيژندلم.

موږ پوره دوويشت کاله د يو او بل له ليدلو څخه محروم وو. خو د يو بل د ليدلو ارمان را سره و. اوس زموږ د ټولو ږيرې سپينې وې، په خيرو کې مو بدلون راغلی او زما په شمول د ځينو خو ملاوې هم کړوپې شوې وې. ځکه نو د يو او بل په پيژندلو کې لږ څه دقت او غور ته اړه وه. ما د سلام نه وروسته وخندل. له

خندا سره ټولو وپيژندم او د ميني غېږې مو سره ورکړې. خو بيا مو هم يوه او بل ته په حيرانۍ کتل، ځکه موږ کله چې له يو بل څخه جلا کېدو ، نو ږيرې مو نه درلودې او ټول د ځوانۍ په مرحله کې وو. خو مينه هماغه پخوانۍ مينه وه او دومره اوږده بېلتون زموږ تر منځ په مينه او محبت کې کمښت نه و راوستلی.

دوی له روغبړ وروسته له ما سره د روغ ناروغ پوښتنه کوله او د اوږده سفر د تکليفونو په اړه يې ځانونه خبرول. خو زما د ذهن په پرده پخواني خاطرات يو په بل پسې اوښتل را اوښتل. هغه پخوانۍ پښتو ټولنه چې رئيس يې پوهاند صديق الله ريښتين و او په دې کوټه کې به يې په غټ ميز باندې خواره واره انبار کتابونه او کاغذونه پراته وو او دی به داسې غرق پکې تللی و چې مراجعينو به فکر کاوه: يا له حرکته دريدلی او يا په ناستې ويده شوی دی. خو چې کتابونه به يې سره لاندې باندې کول او د کاغذونو کشهار به يې تر غوږ شو، نو ايله به په دې پوه شول چې پوهاند صاحب په مطالعه کې ورک دی.

